تحفۃ الامیر فی اصول التفسیر



مؤلف: شیخ القرآن مولانا سید امیر حسین باچا

ناشر
شعبہ تصنیف و تالیف مدرسہ تعلیم القرآن درہ آدم خیل

تحفة الامير

فی

اصول التفسیر

مؤلف :

شیخ القرآن مولانا سید امیر حسین باچا

ناشر

شعبۂ تصنیف و تالیف مدرسہ تعلیم القرآن

مین بازار درہ آدم خیل

نام کتاب : تحفة الامير فی اصول التفسير

مؤلف : شیخ القرآن مولانا سید امیر حسین باچا(۰۳۴۴۵۹۱۹۲۹۸۶)

کمپوزنگ : نوراللہ نورانی مکتبہ رشیدیہ اکوڑہ خٹک

ضخامت : ۱۶۰ صفحات

تعداد : (۱۰۰۰) ایک ہزار

تاریخ طباعت : شعبان المعظم ۱۴۲۸ھ / اگست ۲۰۰۷

ناشر : شعبہ تصنیف و تالیف مدرسہ تعلیم القرآن

مین بازار درہ آدم خیل

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

ملنے کے پتے

☆ اسلامی کیسٹ ہاوس شیر خان مارکیٹ درہ آدم خیل ۰۳۴۵۔۹۱۹۰۵۴۲

☆ سردار علی عطر فروش اینڈ توحید و سنت کیسٹ ہاوس

دوبندی بازار جہانگیرہ نوشہرہ(۰۳۳۳۹۱۶۴۳۴۵)

☆ مکتبہ رشیدیہ سردار پلازہ جی ٹی روڈ اکوڑہ خٹک۔

☆ اشاعت اکیڈمی محلہ جنگی پشاور۔

☆ توحید و سنت کیسٹ ہاوس دار القرآن روڈ پنج پیر صوابی۔

☆ اسلامی کیسٹ ہاوس مین بازار متنی

بسم الله الرحمن الرحيم

دمضامينو فهرست

عنوان	صفحه
	۱۵۴

بسم اللّٰہ الرحمٰن الرحیم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِیْ اَنْزَلَ عَلٰی عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَلْ عِوَجاً ، والصّلوٰة والسلام علی اشرف الرسل وخاتم الانبیاء .

امابعد : قال تعالیٰ : اِنَّانَحْنُ نَزَّلْنَاهُ الذِّكْرَ وَاِنَّالَهُ لَحَافِظُوْنَ،

اللّٰہ تعالیٰ د خپل کتاب حفاظت په خپله کوي ، خیر القرون بر کتونو والا زمانه کښې دقرآن د حفاظت دوه طریقې وی (۱) حفظ دقرآن (۲) کتابت دقرآن ۔ بیا ائمه سلف ددې نه مختلف علوم مستنبط کړل بهر حال ! پدې کښې شك نشته چه د اکتاب دټولو کتابونو سرد ار اوبادشاه دې، ترقیامته پورې د هر شعبې د انسانانو دعقائدو ، نظریاتو، اخلاقیاتو، معاملاتو اودمعاشرت وسیاست اودعبادت د اصلاح اودراهنمائی کتاب دې اوپه دې کښې چې کوم دنصیحت ، شفاء، هدایت ، اودرحمت قوانین دی بل کتاب کښې نشته ، نه دده نه مخکی وو اونه به په آئنده کښې وی ، اللّٰہ تعالیٰ فرمائی : قد جاء تکم موعظة من ربکم وشفاء لما فی الصدور وهدی ورحمة للمومنین (پ۱۱)

اود اقرآن د حضور ﷺ معجزه ده ځکه چې پخپله د امام الانبیاء ﷺ ارشاد مبارك دې چې هریونبی ته اللّٰہ رب العزت خاص خاص معجزې ورکړې وې . هغې معجزوته په کتوبه خلق مسلمانیدل ۔ اوماته چه کومه معجزه راکړې شویده هغه دغه قرآن دې ۔

قرآن کریم لکه څنګه چې مخکښې تیر شو چې د اصلاح

کتاب دے نودتولو نه ضروری ځیز چی هغه عقیده ده ، د هغې اصلاح قرآن په ډیر عجیب انداز سره کړیده لکه دعلامه ابن قیم په حواله به تاسو ته کتاب کښې راشي چی قرآن مجید ټول په توحید باندے مشتمل دے ۔

زمونږ د مشائخو رحمهم الله د اطریقه وه چی د دورهٔ تفسیر د شروع کیدو نه مخکښې به ئ مختصر د قرآن فهمئ د پاره څه اصول اوقاعدے ذکر کولے الحمدلله بنده عاجز ته الله تعالیٰ د ډیر وخته د خدمت کولو سعادت نصیب کړے دے ۔ نومونږ هم د خپلو اکابرو اومشائخو رحمهم الله په طرز اونقش قدم باندے اول کښې اصول بیانوؤ ۔ اکثر طالبان هغه ځان سره لیکی ۔ مگر دبعضے طالبانو د لیکلو رفتار سست وی ۔ نوبرخود ار حافظ سید محمد الیاس سلمهٔ الله د طالبانو دسهولت د پاره د اولیکل۔

بیا دبعض مخلصو ملګرو لکه الحاج سید اجمل شاه باچا په اصرار بنده عاجز پرے نظرثانی وکړه اود چهاپ نیت مووکړو ۔ چی طالبانوته اوعام خلقو ته فائده اورسی ، حقیقت دادے ، چی دبنده ټول نیك کوششونه د مشائخو او استاذانو د دعا برکت دے ۔ تاسو هم چی دعا کوئ نوزمونږ مشائخ او استاذان پکښې خامخا یادوئ چی الله د هغوی قبور د نُور نه منوّر وګرځوی

الله‌تعالی دے دا کوشش د خپلی رضا د پاره کړی او د طالبانو اوعوامو د پاره دے فائده مند جوړ کړی ۔ او چا چی پکښې څه قسم محنت کړی دی ۔ الله دے په دواړه جهانه ښے بد لے ور کړی ۔ (آمین)

العبد الضعیف

سیدامیر حسین باچا

مدرسه تعلیم لقرآن دره آدم خیل

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

نحمده ونصلى علىٰ رسوله الكريم اما بعد فأعوذبالله من الشيطان الرجيم . بسم الله الرحمن الرحيم.

رب اشرح لى صدرى و يسرلى امرى واحلل عقدة من لسانى يفقهوا قولى.

سبحانك لا علم لنا الا ما علمتنا انك انت العليم الحكيم

تلك الدارالآخرة نجعلها للذين لا يريدون علواً فى الارض ولا فساداً والعاقبة للمتقين.

د نيت صحيح كول :

عن عمر بن الخطاب رضى الله عنهٗ قال قال رسول اللهﷺصلى الله عليه وسلم أِنَّما الأعمال بالنيات وانمالأِ مرءٍ مانوى فمن كانت هجرته الى الله ورسوله فهجرته الى الله ورسولهٖ ومن كانت هجرته أِلى دنيا يصيبها أو امراء ة يتزوجها فهجرتهاالىٰ ماها جر اليه "متفق عليه"

(ترجمه)عمر بن الخطابؓ فر مائی نبی ﷺ فرمائیلي دي بېشكه دارومدار د عملونوپه نېتونو سره دے أو بېشكه سړي دپاره به هغه (ثواب وعقاب)وي چه هغه كوم نيت كړے وي پس هر هغه څوك چه وى هجرت د هغه دپاره د اللهاو درسول اللهؐ نوهجرت د هغه د الله او رسول دپاره دے او هغه څوك چه وى هجرت د هغه د دنيا [illegible] چه [illegible] هغې ته [illegible] یاوي هجرت د هغه د پاره د هو

ی زنانه چه نکاح ورسره وکړی نو هجرت دده هغه څه دپاره دے چه هجرت ئ هغې دپاره کړی وی (بخاری ومسلم)

دعلم مقصد :

وعن کعب بن مالك رضی الله عنه قال قال رسول الله صلى الله علیه وسلم من طلب العلم لِيُجَارِیَ به العلمآء اولِيُمارِیَ به السفهآء أو يصرِف به وجوه الناس اليه أدخله الله النار "رواه الترمذی و ابن ماجه "

(ترجمه)کعب بن مالك فرمائی چه نبي ﷺ فرمائیلی دی چه چا علم دید پاره وکړو چه فخر وکړی په علماء و یا جګړه وکړی په دی علم سره بیوقوفانو سره یامتوجه کړی په دی سره خلق د ځان طرف ته الله به دے اُور (جهنم)ته داخل کړی۔

بيان فضل العلم و العلماء :

د ابیان دے په فضیلت دعلم او علماء و کښې "حدیث د تر مذی او دارمی کښې راغلیدی۔ حضرت انس فرمائي (قال رسول الله ﷺ من خرج فی طلب العلم فهوفی سبیل الله حتی یرجع) چه رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلی څوك چه اُووتو په طلب دعلم کښې نو دے په لاره د الله کښې دے تردی چه واپس شي۔

او علم نه مراد علم دقرآن او سنت دے لکه امام أحمد بن حنبل فرمائیلی دی علم هغه دے چه بره طرفنه (یعنی من عند الله) راغلے دے۔

او علم دپاره سفر کول طریقه ده دصحابه کرامو او انبیاء علیهم السلام ـ لکه حدیث کښې راغلیدی (لما علم جابربن عبدالله أن حدیثاً عند عبدالله بن انیس الا نصاریؓ اشتری بعیراً ثم رحل علیه شهراً حتی قدم الشام فاتی منزله) کله چه جابر بن عبد اللهؓ ته پته ولګیده چه عبد الله بن انیس الانصاریؓ سره دنبیٌ صلي الله علیه وسلم یو حدیث دی نو اوښ ئې واغستو او بیائې په هغې یو میاشت سفر وکړو او د هغه منزل (کور) ته راغلو ـ

وروی عن قیس بن کثیر قال کنت جالسا مع ابی الدرداءؓ فی مسجد دمشق فجاءه رجل فقال یاابا الدرداء انی جئتك من مدینة الرسول لحدیث بلغنی انّك تحدثه عن رسول الله ﷺ ماجئت لحاجة فانی سمعت رسول الله ﷺ من سلك طریقاً یطلب فیه علما سهّل الله تعالیٰ به طریقاً الی الجنة وان الملائکة لتضع اجنحتها رضی لطالب العلم وان العالم یستغفر له من فی السموت ومن فی الارض والحیتان فی جوف الماء وان فضل العالم علی العابد کفضل القمر علی سائر الکواکب وان العلماء ورثة الانبیاء وان الانبیاء لم یورثوا دیناراً ولادرهماوانما ورثوا العلم فمن اخذه اخذ بحظ وافر،

دارنګې روایت نقل کړے شوی دی د قیس بن کثیرؒ نه چه زه ابوالدرداء رضی الله عنه سره ناست وم په مسجد دمشق کښې نویوکس ورته راغلو اوویفرمائیل چه زه د مدینة الرسول ﷺ نه

تاته راغلے یم دپاره دیو حدیث چه ماته پته لګیدلی ده چه ته هغه حدیث بیانوی د رسول الله ﷺ نه ۔أو نور د هیڅ حاجت دپاره نه یم راغلے نو هغه ورته او فرمائیل چه مانبی صلي الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه څوك سفر کوی په بوه لاره دپاره د طلب دعلم نو اسانه به کړی الله تعالیٰ دده دپاره لاره جنت ته ۔ او بیشکه ملائك کېدی وزری خپلی دپاره دطالب علم دوجی درضانه أو بیشکه عالم بخنه غواړی ده لره هغه څوك چه په آسمانونو او زمکو کښی دی او میان ورته په منځ دأبو کښی بخنه غواړی او بېشکه غوره والے دعالم په عابد (عبادت کونکی)په شان دغوره والی دسپوږمئ دے په تولوستورو۔ او بېشکه عالمان وارثان د انبیاء دی۔أوأنبیاء میراث کښی دراهم اودنانیرنه پرېدی بیشکه دوی میراث کښی پر یښودے دے علم نو چاچه داعلم راوغستو نو بوه لویه برخه ئ راواغسته۔

(رواه الترمذی وابن حبان فی صحیحه)

او حافظ ابن قیمؒ په مفتاح دار السعادة کښی فرمائیلی دی چه داحدیث په خپل حقیقت باندی حمل دے (چه ملائك خپلی وزری طالب العلم ته کېدی)

او فرمائیلی دی چه دعالم تشبیه ئ قمر (سپوږمئی)سره څکه ورکړه چه دقمر (سپوږمئ)رنړا مستفیده (حاصله وی)دنورنه نود اُرنګی عِلم دعلماء وهم مستفید او حاصل دے دشمس الا اسلام (رسول اللهصلی الله علیه وسلم)نه۔

او بل دا چه سپوګمئی کله وړه کیګی نو کله غټیږی اولو یېږی ..شم داسی د علماء وپه علم کښی هم تفاوت (جُدا والے)دے دبعض علم کم وی نو د بعض زیات وی۔

امام شعبیؒ فرمائی

رَحَل مسروق فی تفسیر آیةٍ الی البصرةفقیل له انّ الذی یُفَسّرهارَحل الی الشام فَتَجَهَّزَ ورَحل حتی عَلم تفسیرها (فتح البیان ص ۱۵/ج۱)

(ترجمه) حضرت مسروقؒ دیو آیت د تفسیر د پاره بصری ته سفر کړے وو نو ورته اُوو ئیلے شول چه هغه عالم چه ددی آیت تفسیر کوی هغه شام ته تلے دے نو امام مسروقؒ سامان تیار کړو اوشام ته ئ سفر وکړو تردی چی د هغی تفسیر ئ زده کړو۔

وقال ایضا انّ رجلا سافر من اقصی الشام الی اقصی الیمن یسمع کلمة مارأیت ان سفره ضاع .

أو امام شعبیؒ فرمایئلی دی که یو سړی د شام نه یمن پوری سفرو کړو چه دی ده دین یوه خبره واوری نو دده سفر ضائع نه دی

(جامع بیان العلم وفضله لابن عبد البر)

أو قرآن کریم کښی هم الله ذکرکړیدی چه موسیٰ علیه السلام ددریؤمسائلو دزده کولو دپاره سفر کړے وو لکه سورة کهف آیة (٦٠)

واذقال موسیٰ لفتٰه لا ابرح حتی أبْلُغَ مَجْمَعَ البَحْرین أو أمضِی حُقباً .

کله چه وئیلی وو موسیٰؑ خپل غُلام او خادم ته همیشه به روان یم تر دی چه اُرسیږم ځای د جمع کیدو د دوه ؤدریابونو ته یا به ځم ځه ډیره زمانه

او الله چه کله د حضرت آدم علیه السلام فضیلت د ملائکو ورړاندی ثابتولو نه په سبب دعلم ئ د هغه فضیلت ثابت کړے ده کمافی سورة البقره :۳۱ (وَعَلَّمَ اٰدَمَ الاَسْمَاءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى المَلائكةِ فَقَالَ اَنْبِئُوْنِی بِاَسْمَاءِ هٰؤُلَاءِ اِنْ كُنْتُمْ صٰادِقِیْنَ).

ترجمه : تعلیم ورکړے وو الله حضرت آدم علیه السلام ته د نومونو د ټولو ضروری څیزونو بیائ پیش کړی وو دا په فرشتو نو فر مائیلی وو الله خبر دارے را کړے ماته په نومونو ددی څیزونو که چرے ئے تاسو رشتونی)

د ارنګی په رسول الله ﷺ باندی چه الله رب العزت خپل احسان ذکر کوی نو اِحسان دعلم ذکر کوی ، لکه سورة النسآء آیة (۱۱۳)(وعَلَّمَكَ مَالَمْ تَكُنْ تَعْلَمْ وَكَانَ فَضلُ اللهِ عَلَيْكَ عَظِيْماً ـ

ترجمه : او تعلیم درکړیدی الله تاته د هغه څه چه نه وی ته چه پوهه وی په هغی ـ أو دی اِحسان د الله په تا باندی لوئ)

د ارنګی حال د حضرت یوسف علیه السلام لکه سورة یوسف آیة ۱۲/۲۲(وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ اٰتَيْنٰهُ حُكماًوَعِلْماًوكَذَالِكَ نَجْزِی الْمُحْسِنِیْنَ ،هر کله چه رسېدلے دیوسف ؑ خپل مضبوط والی ته ورکړے مو وو هغه نبوّت (پیغمبری) او پوهه د شریعت ، او د ارنګی بدله ورکوو مونږ خائسته عمل کونکو ته)

د ارنګی حال د حضرت موسیٰ علیه السلام لکه سورة القصص آیة ۲۰ / ۱۴(ولما بلغ اشده اتینه حکماً وعلماً وکذالك نجزی المحسنین . هر کله چه رسیدلے وو موسیٰ علیه السلام خپل

مضبوط والی ته او برابر شوے وو ور کړے مو ووهغه نبوّت (پیغمبری)أو علم۔ او د ارنګی بدلی ورکو وو مو نړه خایسته عمل کو نکو ته) د ارنګی ذکر دفضیلت دعیسیٰ علیه السلام په سبب دعلم لکه سورة آل عمرآن ۳ / ۴۸

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاتَ وَالْاِنْجِيْلَ

او تعلیم اوعلم به ورکوی الله دی عیسیٰ علیه السلام ته دکتاب ،أوپوهه أودتورات او د انجیل

(" کتاب " نه مراد یاقرآن کریم دی نوچه عیسیٰ علیه السلام قیامت نه مخکښی راکوزشی نو فطرتاًبه الله هغه ته تعلیم دقرآن ور کړی وی أوهغه په دیٖفیصلی کوی،او د آسمان نه راکوزیدل دعیسیٰ علیه السلام مخکښی د قیامت نه داده ضرور یا تو ددین نه دی ددی نه انکار کول کفر دے)أوذکر دفضیلت دداؤد علیه السلام په سبب دعلم لکه سورة صٓ ۲۳ / ۲۰

وآتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ

او ورکړے موووهغه ته کمال علم أو عمل أوعلم دفیصلو

دحضرت خضر علیه السلام دفضیلت ذکرپه سبب دعلم لکه سورة کهف ۱۵ / ۶۵

فَوَجَدَا عَبْداً مِنْ عِبَادِ نَا اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِ نَاوَعَلَّمْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا عِلْمًا،

نو مُندلے وو دوی دواړو(موسٰی علیه السلام او یوشع بن نون علیه السلام)یو بنده زمونږ ه دبندیګانو نه (چه خضر علیه السلام وو)چه ورکړے مو ووهغه ته رحمت دخپل طرف نه أو علم مو ورکړے ووهغه ته دخپل طرف نه علم ـ

د ارنګی په مؤمنانو الله خپل أحسان ذکر کوی نو هغه تعلیم دعلم ذکر کوی لکه سورة آل عمران ۴/۱۶۴

لَقَدْ مَنَّ اللهُ عَلَى الْمُؤمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلاً مِّنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَ الْحِكْمَةَ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ .

بیشکه احسان کړے دے الله په مؤمنانو کله ئےچه رالیږلے په دوی کښی پیغمبر د جنس د دوی نه لولی د ا پیغمبر په دوی باندے آیاتونه د الله او پاکه وی دوی لره أوتعلیم ورکوی دوی ته دقرآن اوسنت، اګرکه وودوی مخکی ددی نه خامخا په ګمراهی سر ګنده کښی۔

د ارنګی سورة الجمعة اية ۲۸ / ۲پ

هُوَالَّذِیْ بَعَثَ فِی الْاُ مِّیّٖنَ رَسُوْلاً مِّنْهُمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِهٖ وَیُزَکِّیْهِمْ وَ یُعَلِّمُهُمُ الْکِتَابَ وَالْحِکْمَةَ وَاِنْ کَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ.

دغه الله هغه ذات دے چه رالیږلی دي په عوامو کښې پیغمبر ددوی د جنس (دبشرو) نه لولی په دوی باندی آیا تو نه د الله او پاکه وی دوی أوتعلیم ورکوی دویته دقرآن او سنت اګرکه وودوی ددینه مخکی خامخا په ګمراهی سر ګنده کښی۔

او نبی ﷺ ته الله د علم د زیادت دسوال حکم کړیوو وقل رب زدنی علمًا(سورة طٰه ۱۶/ ۱۱۴)او وایه ای حبیبهٔ ،چه اے ربه ځما زیات کښیماته علم ۔او په مفتاح دارالسعادة کښی حافظ ابن القیم جوزیؒ ذکر کړی دی چه علم ده بندیګانو چه خپل رب و پیژنی او د هغوی صفات وُ پیژنی د ا دتمامو آسمانونو أو د زمکو او د تولو مخلوقا تو د پید ائش مقصد دی۔

اود امقصد قرآن هم ذکر کړے دی لکه سورة الطلاق اية ۲۸/ ۲ ا پ

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ یَتَنَزَّلُ الا مْرُ بَیْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِکُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا .

الله پیدا کړیدی ووه آسمانونه اود زمکو نه هم په مثل ددی (ووه ۷دی)رالیږی الله وحی په منځ ددی کښی دیدپاره چه پوهه شی د اخلق چه بیشکه الله په هریوشی باندی قدرت والا دے أوبیشکه الله احاطه کړیده په هریوشی دعلم نه۔

اودقرآن کریم کښي رفع الدرجات ذکر څلور کرته

راغلیدی دریو مقاماتو کښې درفع الدرجات ذکردعلم دوجې نه راغلیدی أویومقام کښې دجهاد (قتال) فی سبیل الله دوجې نه۔

(۱) لکه سورة المجادلة آیة ۱۱/۲۸

یَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَالَّذِیْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ

پورته کوی الله هغه کسان چه مؤمنان دی دتاسونه أو هغه کسان چه ورکړے شودے علم په درجو کښې۔

دوئم مقام سورة انفال ۹/۴

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ، لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ .

دغه کسان (چه مخکی د هغوی صفات بیان شول) مؤمنان دی په حقه دویلره به درجی وی په نزد درب ددوی۔

فائده : قرآن کریم کله دلفظ دعلم ذکر کوی أوکله أیمان أوعملِ صالح نو أیمان أوعمل صالح عبارة دے دعِلم سره دعمل نه۔

دریم مقام سورة طٰهٰ آیة ۱۶/ ۷۵۔

وَمَنْ یَّاْتِهٖ مُؤْمِنًا قَدْعَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَاتُ الْعُلٰی ،

او هغه څوك چه راشی الله ته په حالت د ایمان کښې اوبیشکه عمل کړی وی نیك نو دغه کسان دوی لره به درجی اوچتی وی۔

د ارنګی ابن قیمؒ په مفتاح د ار السعادة صفحه (۶۱) کښې قول د امام أحمد بن حنبلؒ ذکر کړیدے (الناس محتاجون الی العلم اکثر من حاجتهم الی الطعام و الشراب لان الطعام یحتاج الیه فی الیوم مرتین او مرتین والعلم یحتاج الیه بعدد الانفاس) چه د اخلق علم ته ډیر محتاج دی د حاجت ددوینه خوراك أو څکاك ته څکه خوراك أو څکاك ته خو ددوی حاجت ورځ کښې یاپو ځل راځي یادوه ځله أو علم ته ددوی حاجت راځی په شمیر دساه ګانو۔ او حدیث د ترمذی شریف کښې راغلیدی چه ابوسعیدؓ فرمائي قال رسول الله ﷺ لن یشبع المؤمن من خیرٍ یسمعه حتی یکون منتهاه الجنّة .

چه نبیﷺ فرمایلي دی چه نه مړیږی یو مؤمن د خیر د خبری نه چه د او اوری تردی چه شی انتهاء دده جنت (وقال حدیث حسن غریب)

او بل حدیث کښې راغلیدی چه دوه حریصان مړیږی نه یو حریص د علم أو بل حریص د مال۔

او ابن قیم ذکرکړیدی چه امام احمد بن حنبلؒ د علم د حصول د پاره یوورځ منډه، وهلی نوورته اوویلی شول چه ترکومه پوری به د اعلم طلب کوی نو هغوی أوفرمائیل الی اللحد چه تر قبر أو لحد پوری۔ مفتاح ص ۷۴

نو علم به یوسړے طلب کوی تر مرګه پورے۔

او حدیث کښې راغلیدی حضرت ابوسعیدؓ فرمائی چه مونږ ته نبیﷺ د طلباؤ ددین باره کښې د خیر وصیت کړے وو۔ دی

وجی نه هغوی ته چه به څوك دعلم زده كړی دپاره راغلل نو هغوی به فرمائیل (مرحباً بوصیّة رسول اللهؐ)

اودقرآن كریم ګڼړ علوم دی لیکن افضل اوغوره په دی ټولو علُومو کښی عِلم دمعانیُ القرآن دے لکه ابن قیمؒ په مفتاح دار السعادة صفحه (۷۴) کښی ذکر کړیدی اوّل ئي حدیث دبخاری شریف ذکر کړیدی

عن عثمان بن عفانؓ قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم خیرکم من تعلمٰ القرآن وعَلّمَهٗ.

حضرت عثمانؓ فرمائي چه رسول پاك صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دی غوره په تاسوکښی هغه څوك دی چه خپله ئ هم قرآن زده کړو اونوروته ئ دااُوښودلو۔

بیافرمائي چه تَعَلُّم القرآن وتعلیمه ، یتناول تعلم حروفه وتعلیمها وتعلم معانیه وتعلیمها وهواشرف قسمی علمه وتعلیمه فان المعنی هوالمقصود واللفظ وسیلة الیه . اوتعلیم دقرآن ددی حروفو زده کولوته هم شاملیږی أوددی معنو زده کولوته هم شاملیږی أود اقسم غوره دی دعلم دقرآن نه ځکه معنیٰ زده کول مقصود دی أو لفظ دیته وسیله ده ۔

اوپه حدیث کښی دعلم اوعالم دفضیلت باره کښی راغلیدی۔

عن ابن عباسٍ رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم فَقِیْهٌ واحد أشَدُّ علی الشیطان من الف عابدٍ

ترجمه:عبد الله بن عباسؓ فرمائي چه رسول پاكؐ فرمائیلي دی

چه یو دقرآن وسنت پوهه عالم ګران دے په شیطان دزرو عبادت ګزارو نه ـ

او داحدیث بعض محدثینو مرفوعاً ذکر کړیدیٔ او بعض موقوفاً، یعنی شیطان په زرو عبادت کونکو جوړیدو او پیدا کیدو باندی دومره نه خفه کیږی څومره چه دیو عالم په جوړیدو باندی خفه کیږی،

او ابن قیمؒ په مفتاح دارالسعادة صفحه (۶۹) کښی ذکر کړیدی چه واړه شیطانان خپل مشر شیطان (ابلیس) ته راجمع شوی وو چه څه وجه ده چه ته په یوعابد جوړیدودومره نه خفه کیږی څومره چه دیوعالم په جوړیدو خفه کیږی، نو هغه ورته اوویل که یو عابد سل (۱۰۰) کاله هم عبادت وکړی خوزه یٔ یو ځل ګمراه کولے شم او عالم زه په خپلو مکرونو نه شم دهوکه کولے،

او بیایٔ واقعه ذکرکړیده چه شیطان یوعابد ته راغلو په انسانی شکل کښی او تپوس یٔ ترینه اوکړو چه الله په دی قادر دے چه داټوله دنیا یوه اګیٔ کښی راښنده کړی؟ نوعابد اوویل ماته پته نشته (نو د الله په قدرت کښی شك راغلو اوکافر شو) ـ

بیایوعالم ته راغلو چه هغه خپلو شاګردانو طالبانو سره ناست وو او هغوی سره یٔ مزاح (خوش طبعیتی) کوله نو هغه نه یٔ هم داتپوس وکړونو هغه ورته اوفرمائیل آو څما رب په دی قادر دے چه دُنیا یوه اګیٔ کښی راښنده کړی حکم به وکړی کُن فیکون، موجود شه نو موجود به وی،

نو دشیطان مکر اوفریب یٔ په دی طریقه تس نس کړو ـ

اوعلم نه کوم علم مراد دی نو د امام احمد بن حنبلؒ قول مخکښی

ذکر کړی شویدی اوعلامه ابن قیمؒ داپه اشعارو کښې ذکر کړیدی ـ

كلُّ العلوم سِوى القرآن مشغلة
الاَّ الحديث والا الفقه فى الدّين
العلم مُتَّبَعٌ مافيه حدَّثنا
ومَا سوى ذاك وسواس الشياطين

ټول علوم ماسوادقرآن نه هسې یومشغول تیا ده مګر علم دحدیثو اوعلم دفقهِ په دین کښې هغه علم به منلے شی چه په هغې کښې داوی چه ماته حدیث بیان شوے اوهغه چه علاوه ددینه سوادی وسوسې دشیطانانو دی پوهه شه نه دے

تَعْلم ما الرَّزِيَّةُ فقَدْ مال
ولا شاةٍ تموتُ ولا بعيرُ
ولٰكنَّ الرَّزِيَّة فَقد حُرٌّ
يموت بموته بشرٌ كثيرٌ

مصیبت نشت کیدل اوختمیدل دمال اونه مړه کیدل دګډو بیزو اونه داُوښانو لیکن مصیبت نشت والے دعالم دے چه مړکیږی په مرګ دده سره ډیر خلق ـ

او ابن قیمؒ فرمائیلی دی مراتب دعلم څلور دی چه ددی په پوره والی سره سړے دکمال درجی ته رسیږی (۱) معرفت (پیژندل) دحق (۲) دوهم په دی عمل (۳) دریم ددی نورو خلقو ته رسول (۴) څلورم ددی په تعلیم اوتعلم کښې تکالیف برد اشت کول ـ

البحث الاول فی آداب القران

زمونږ په اصولو کښی اوّل بحث دے د آداب القران۰
ادب چه دباب کرم نه شی نو دا په معنی د هوښیارتیا ، او صاحب ادب جوړیدو راځی او د باب ضرب نه په معنی د طعام تیارولو راځی۔
او د قرآن کریم ډیر آداب دي لکه امام سیوطي په الاتقان کښی ذکر کړیدی یستحب الاکثار من قراءة القرآن وتلاوته ونسیانه کبیرة ، ویستحب الوضوء لقراءة القرآن ،لانه افضل الاذکار ، وتسن القراءة فی مکان نظیف وافضله المسجد ....
ویسن ان یستاك تعظیما وتطهیراً ،ویسن التعوذ قبل القراءة ولیحافظ علی قراءة البسملة ، ، ویسن الترتیل فی قراءة القرآن وتسن القراءة بالتدبر والتفهم... ویستحب البکاء عندقراءة القرآن ..... ویسن تحسین الصوت بالقرآن .... ویسن الاستماع لقراءة القرآن ، ویسن السجدة عند قراءة اية السجدة ، ویستحب التکبیر من الضحی الی آخرالقرآن ویسن الدعاء عقب الختم . چه مستحب دے ډیر تلاوت کول دقرآن ، د ارنګی ددی هیرول له غفلت دوجی نه ګناه کبیره ده ، أو دقرآن تلاوت ته

أودس كول مستحبه طريقه ده اګر که د اتلاوت په ياده وى (اوكه قرآن مسح كول وى نوبياخوواجب دى) -
اودقرآن لوستل په يوپاك ځاى كښى سنّت دى اوغوره ځاى مسجد دى ، اودينه مخكى مسواك وهل مستحب دى ، اوددى دتلاوت نه مخكى تعوذ (أعوذبالله من الشيطان الرجيم) وئيل مستحب دى اوبسم الله الرحمن الرحيم وئيل -
دارنګى ددى آرام آرام سره لوستل ، دارنګى دے كښى فكر اوسوچ كول ، اوددى دتلاوت سره ژړل مستحبه طريقه ده ، أوخوږ اوخايسته آواز سره ددى لوستل دارنګى ددى تلاوت ته غوږ كيخودل ، اوسجده كول دآيته سجدے سره دارنګى هر سورت سره الله اكبر وئيل دسورة الضحى نه بعد تر آخره پورے،
اوسنت دى دعاكول ددى دختم نه بعد ،
اوس هغه آداب چه قرآن كريم په خپله ذكركړيدى .

استماع القرآن :

(١) اول ديته غوږ كيښودل ، لكه سورة الاعراف

وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَأَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ

كله چه لوستلے شى قرآن نوغوږ كيدى ديته أوچپ شئ دي دپاره چه په تاسو رحم وكړے شى

لعلّ دالله دطرف نه دوجوب دپاره وى اوپه دېكښى دعلماء احنافو دوه قولونه دى بعض وائى دا آيت دجمعى دخطبى په باره كښى دے بعض وائى دا ايت دمونځ په باره كښى دے ليكن علامه

شامیؒ وائی چه غوره داده چی دیکښی عموم دے که مونځ.نه بهر وی اوکه دننه وی۔

دارنګی سورة الاحقاف آیة ۲۶:۲۹

وَاِذْ صَرَفْنَاۤ اِلَیْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ یَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ فَلَمَّا حَضَرُوْهُ قَالُوْۤا اَنْصِتُوْا فَلَمَّا قُضِیَ وَلَّوْا اِلٰی قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِیْنَ.

یادکه هغه وخت چه رامتوجه کړیوه مونږ تا ته یوه ډله د پیریانو نه چه غوږ ئ اینبودی وو قرآن ته پس هر کله چه رانزدی شول نو یو بل ته ئ اُووی چپ شئ هر کله چه پوره شوی وه لوستل نو اوړیدلی وو دوئ خپل قوم ته یره ورکونکی۔

تفسیر جواهر القرآن ذکر کړیدی چه نبی ﷺ دعُکاظ بازار ته تلے وو هلته ئ وادی نخلة مقام کښی دسحرمونځ کښی قرآن لو ستو ،نود نصیبین مقام نهو(۹) یا وؤو پیریانو ورته غوږ اښودے وو۔

(۲) الثانی التفکر والتدبر فیه دوېم ادب دقرآن دیکی سوچ او فکر کول لکه سورة صٓ ۲۳:۲۹

کِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَیْكَ مُبٰرَكٌ لِّیَدَّبَّرُوْۤا اٰیٰتِهٖ وَلِیَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ

دا کتاب(قرآن)دے چه نازل کړید ی مونږتاته ای حبیبه ﷺ برکت نه ډك دے دی دپاره چه دوی سوچ وکړی په آیا تونو ددی کښی او ده دی دپاره چه نصیحت تری واخلی خاوند ان د خالصو عقلونو۔

تفسیر قرطبی ددی آیت په تفسیر کښې فرمائي (فیه دلیل علی وجوب تعلم معانی القرآن) چه دی آیت کښې دلیل دی چه واجب دی دقرآن معانیزده کول ، ابن کثیر هم ذکر کړیدی چه ددی تدبر (سوچ أو فکر) صرف حروف زده کول نه دی

(۳)(والثالث القاء السمع مع شهادة القلب) دریم ادب دقرآن ، قرآن ته غوږ کیښودل دی خو چه زړه هم بیدار وی. لکه سورة ق ۲۶:۳۷

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ، یقیناً په دی قرآن کښی نصیحت دے خود هغه چاد پاره چه هغه لره زړه وی یا کیدی غوږ او زړه ئې حاضروی ۔

تفسیر جلالین ده قلب معنی کړیده أی عقلٌ

(۴) عدم مس القرآن بغیر طهارة : څلورم ادب چه قرآن به د اودس نه بغیر نه مسح کوی ، لکه سورة الواقعه ۲۷:۷۹

لَايَمَسُّهٗٓ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ، نه به مسح کوی قرآن لره مګر پاکان ،

مسح نه مراد یا مسح حقیقیده اود یَمَسُّهٗ ، ضمیر قرآن ته راجع دے نود انفی ده په معنی د نهی (معنی د اشوه) نه به مسح کوي د اقرآن مګر پاکان یا داچه مسح نه مراد مسح مجازی ده ـ علم تری مُراد دے نو معنی د اشوه ، نشی حاصلولے علم دقرآن مګر پاکان (چه شرك ، بدعت او معاصي ؤ نه پاك وی) یا د یَمَسُّهٗ ضمیر کتاب مکنون (لوح محفوظ ته راجع دے) او مطهّرون نه مراد ملائك دی ، یعنی نشی مسح کولے کتاب مکنون لره مګر ملائك ۔

(۵)(والخامس الاجتناب من التکبر)پنځم ادب اجتناب دتکبر نه لکه سورة الاعراف پ۹:۱۴۶ایة

سأصْرِفُ عَنْ اٰیٰتِیَ الَّذِیْنَ یَتَکَبَّرُوْنَ فِی الْاَرْضِ بِغَیْرِ الْحَقِّ . زر ده چه وابه ړومه دخپل آیاتونو نه هغه کسان چه تکبر کوی په زمکه کښی په ناحقه

امام قرطبیؒ د امام قتادهؒ قول ذکر کړیدے سامنعهم فهم کتابی چه د سأصرف ،معنی ده ،یعنی منع به کړم د فهم او د پوهی د خپل کتاب نه ،امام سیوطیؒ هم په خپل کتاب الاتقان کښی په ج۲ص۱۸۱کښی موانع دفهم د کتاب الله ذکر کړیدی ،چه بد عتی سړی ته،او متکبر سړی ته ،او د نیا سره ناجائز محبت کونکی سړي ته او په گناهونو همیشه والی کونکی‌سړی ته علم دقرآن نه حاصلیږی ،او ددی په هغه پټو رازونو نه پوهه کیږی ۔

او تکبر هو لفظ جامع تمام گناهونو ته شامل دے ،او حدیث د مسلم کښی هم تعریف دتکبر را غلي دی التَّکَبُّرُ غَمْطُ الناس و بطرالحق ۔تکبر دیته وائی چه د الله تعالیٰ بند یګانو ته سپك کتـل أو د حق نه انکار کول)

(٦)(والسادس تلاوتهٗ علی السکون والاطمینان)شپږ م ادب تلاوت دقرآن په سکون اوأطمینان قلب سره لکه سورة المذمل پ۲۹:۴آیة

وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِیْلاً . اولو له قرآن په آرام سره

دارنګی سورة القیامة ۲۹:۱۶

لَا تُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهٖ . مه خو زه وه اے نبی ﷺ په قرآن باندی ژبه مبارکه خپله دی دپاره چه جلدی و کړی په دی سره

البحث الثاني في بيان عظمة فهم القرآن

دوهم باب او بحث دے په اُصول القرآن کښې بیان دلوی والی د فهم او د پوهی دقرآن :

(۱) الاول انه خير كثير: اول دا چه قرآن کریم خیر کثیر دے لکه سورة البقره :۳/۲۶۹

وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا . چا ته چه ورکړے شو علم دقرآن (سره دعمل)نه نو بیشکه ورکړے شو ده ته خیر لوئ۔

(۲) الثاني انه سببٌ لصراط المستقيم : دویم دا چه قرآن کریم سبب د صراط مستقیم دے لکه سورۃ الانعام پ۸:۱۲۶ اية

وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيْمًا او دا قرآن لاره درب ستاده نیغه

(روح المعانی ،وائي وهذا ،ای ما جاء به القرآن .

(۳) والثالث انه سبب الفرح الحقيقي : دریم دا چه قرآن کریم سبب دے د حقیقی خوشحالئی لکه سورۃ یونس پ ۱۱ :۵۸اية

قُلْ بِفَضْلِ اللهِ وَبِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا . او وایه اے حبیبؐ په فضل د الله او په رحمت د الله په دی باندی پکارده چه دوی خوشحالی وکړی۔

(صاحب د تفسیر روح المعاني وائی ،فضل ،نه مراد قرآن دے او رحمت نه مراد خوك چه ددی مستحق وګر ځوی)

(٤) والرابع انه سبب الالفة والمحبّة : څلورم قرآن کریم سبب د محبت دے لکه سورة العمران پ۴:۳:۱۰۳ایة

وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللهِ عَلَيْكُمْ اِذْ كُنْتُمْ اَعْدَآءً فَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهٖ اِخْوَانًا .

رایاد که نعمت د الله چه کړیدی په تاسو کله چه وئے تاسو دُشمنان نو محبت ئ راأُستے (د قرآن په ذریعی)په مینځ دزړونو ستاسو کنبی نوګرزیدلي ئ تاسو په سبب د نعمت د الله (چه قرآن دے) رونړه رونړه

(۵) والخامس انه سبب نزول البركات : پنځم قرآن کریم سبب دے د بر کتونو راناز یلیدو کمافی المائدة پ۴:۶۶ایة

وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰاةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِنْ رَّبِّهِمْ لَاَ كَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ـ

که چرته وے دوی چه عمل ئ کړے وی په تورات او انجیل (کوم وخت کښې چه دا منسوخ نه وو)او په هغه کتاب (قرآن)چه نازل کړی‌شویدی‌دوی ته د طرفه درب ددوی نه نو خامخاخوراك به کړے وے دوی د بره طرفنه او لاندی د خپو ددوی نه)

د ارنګی سورة الاعراف ۹:۹۴

وَلَوْ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْ وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ

که چرے وی دوی چه ایمان ئ راوړے وے او ځان ئ بچ کړے وے د شرك نه نوخامخا راکُلاؤ کړی به مو وے په دوی باندی برکتونه د اسمان نه اود زمکی نه۔

(ایمان او تقویٰ عبارت دے د علم دقرآن او د عمل نه په دی باندی)

(۶) والسادس انه سبب دخول الجنة وعدم الحزن : شپږم قرآن کریم د جنت د دا خلیدو سبب دے او د غمونو د ختمیدو لکه سورة الفاطر ۳۲:۲۲_۳۳

ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِينَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَافَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ذَالِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ .

بیاورکړے وومونږ کتاب هغه کسانوته چه غوره کړی دی مونږ د خپلو بند یګانونه نوبعض ددوی نه ظلم کونکی دی په خپل ځان او بعض ددوی نه درمیا ن روی کو نکی دی او ځنی ددوی نه وړاندی کیدونکی دی ښو کارونوته په تو فیق د الله دا چه دے نو دا فضل دے ډیری لوئ۔

جَنّٰتُ عَدْنٍ یَّدْخُلُوْنَهَا یُحَلَّوْنَ فِیْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤاً وَلِبَاسُهُمْ فِیْهَا حَرِیْرٌ،

با غونه د همیشه والی چه دوی به داخلیږی هغی ته کالی به اچولے شی دویته په دی کښی د بنګړو دسروززرونه ،او ملغلری به وی او جامی ددوی به په دی کښی دریښموی -

(۷) والسابع انه سبب زیادة معرفةالایمان : وؤم قرآن کریم سبب دے د ایمان پیژندو-

لکه سورة الشوریٰ پ۲۵ ـ۵۲ایة

وَکَذَالِكَ اَوْحَیْنَااِلَیْكَ رُوْحاً مِنْ امْرِنَا مَاکُنْتَ تَدْرِیْ مَا الْکِتٰبُ وَلاَ الْاِیْمَانُ،

او دا رنګی وحی کړیده مونږ تاته دقرآن دوجی د حکم زمو نږ نه ،نه وی ته اے حبیب ﷺ چه پوهیدے چه څه دے کتاب اونه پو هیدی چه څه دے تفصیل د ایمان-

(۸) والثامن انه سبب زیادة.الایمان :اتم قرآن کریم سبب دے د ایمان دزیادت لکه سورة الانفال پ۹:۲ایة

اِنَّمَاالْمُؤمِنُوْنَ الَّذِیْنَ اِ ذَا ذُکِرَاللهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِیَتْ عَلَیْهِمْ اٰیٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِیْمَاناًوَّعَلیٰ رَبِّهِمْ یَتَوَکَّلُوْنَ ،

ببشکه مؤمنان هغه کسان دی کله چه یاد کړے شی الله نو په یره شی زړو نه ددوی أوکله چه لو ستے شی په دوی آیاتونه د الله نو زیاتو ی دوي لره نور هم ایمان او په خپل رب باندے دوي تؤکل کوی

د ارنګی سورة التوبة پ۱۱:۱۲۴ اية

وَاِذَ مَآاُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُمْ هٰذِهٖ اِيْمَانًا فَأَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّهُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ،

.کله چه رانازل کړے شي يو سورة نو څني ددي خلقونه هغه څوك دي چه وائي كوم يو په تاسو كښي زيات كړو هغه لره نزول ددي سورة ايمان ـ نو هر چه هغه كسان دي چه مومنان دي نو زيات كړو هغوی لره ايمان او هغوی خوشحالي كوی (په نزول ددی سورة)

(۹)والتاسع انه سبب ثبات الايمان : نهم قرآن كريم سبب دے د مضبوطيدلو په ايمان ـ لكه سورة الفرقان ۱۹:۳۲

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً كَذَالِكَ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا.

او وائي هغه كسان چه كافران دي ولي نشي نازلولے په دی نبی ﷺ قرآن غنډ په يوځل د ارنګی (يعني نازل كړيدے مو نړ) چه مضبوط كړو په دی سره زړه ستا اوپه آرام آرام لولو مونږه دے قرآن لره په آرام آرام لوستلوسره ـ

د ارنګی سورة هود پ ۱۲: ۱۲۰ اية

وَكُلًّا نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْبَآءِ الرُّسُلِ مَانُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ.

اُوټولو بیانوو مونږ په تاباندی د خبرونو د پیغمبرانو نه هغه چه مضبوط طوګو مونږ په هغی سره زړه مُبارك ستا ـ

د ارنګی سورة النحل پ۱۴: ۱۰۲ اية

قُلْ نَزَّلَهٗ رُوْحُ الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ.

ورته اووایه اے حبیب ؑرانازل کړی دے د اقرآن جبرائیل امین د طرفه درب ستانه په حق سره دی د پاره چه مضبوط کنبی هغه کسانو ته چه مؤمنا ن دی (یعنی په ایمان ئ مضبوط کنبی)أو د اهد ایت دے أو زیرے دے د پاره د مسلمانا نو ـ

(۱۰) والعاشر انه سبب عدم الضلال والشقاوة : لسم د اچه قرآن کریم سبب د عدمِ ضلا لت أو شقاوت (بد بختیا)لکه سورة طٰهٰ پ۱۶: ۱۲۳ اية

فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَایَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقٰى

چاچه تابعداری وکړه د هدایت ځما نونه به ګمراه (بے لاری) کیږی او نه به بدبخته کیږی ـ

قال عبدالله بن عباس رضی الله عنه اجار الله تعالی تابع القرآن من

اَن يَضِلَّ فى الدنيا وان يشقى فى الاخرة .

عبد الله بن عباس ؓ فرمائی چه پنائی ورکړی ده الله تعالی دقرآن مجيدتابع ته داچه دنيا کښې بے لارې شی ،أو آخرت کښې بد بخته شی ،

البحث الثالث في تعريف القرآن واسمائه

(درېم بحث دے زمو نږه ،په اصول القرآن کښې په باره دتعريف دقرآن ،أو ددی دنومونو کښې)قرآن د (قرأ يقرأ ، باب فتح يفتح) نه مصدر دے مبنی للمفعول ذے په معنی دلو ستلی شوی یا په معنی د جمع شوی ۔

او تعريف دقرآن په اصطلاح کښې (تلويح توضيح اونور الانوار د اسی کړيدے)

اَلْمُنَزَّلُ عَلَى الرَّسُوْلِ اَلْمَكْتُوْبُ فِي الْمَصَاحِفِ ألمنقول الينا نقلا متوا ترأبلا شبهةٍ .

رانازل کړے شويدے په رسول الله ﷺ ليکلے شويدے په صحيفو کښې اورانقل کړے شويدے مونږ ته په نقل متواتر سره بغير د شك و شُبهې نه ،

اسماء القرآن ، نومونه د قرآن

امام سيوطيؒ په الاتقان صفحه ۵۰ جلد۱ کښې ددی پنځه پنځوس نومونه ذکر کړيدی

(۱)کتاب مبين ۔لکه سورة الزخرف کښې وائی آية ۲/۲۵کښی وَالْكِتَابِ الْمُبِيْنِ (قسم دے په کتاب واضح بيان کونکی باندے) (۲)دويم قرآن کريم لکه سورة الواقعه اية۷۷/۲۷پ اِنَّهٗ لَقُرْآنٌ كَرِيْمٌ ،يقيناً د اقرآن دے عزتمند "(۳)دريم کلام لکه سورةالتوبةاية ۶ پ ۱۰ (حَتّٰى يَسْمَعَ كَلَامَ اللهِ ،تردی چه

و اوری خبری د الله)

(۴)ځلورم نورلکه سورة النساء اية۱۷۴ / ۶پ (وَاَنزَلنَا اِلَيكُم نُورًا مُّبِينًا ،او رانازل کړی ده مونږ تا سو ته رنړا ښکا ره (یا ښکاره کونکی حق لره) (۵) پنځم هدا یت (۶)او شپږم رحمت لکه سو رة یونس اية۵۷ / ۱۱پ(وهُدًى ورَحمَةٌ للمؤمنين ،او (قرآن)هد ایت اورحمت دے د پاره د مؤ منانو)(۷)ووم شفاء لکه سورة بنی اسرائیل اية۸۲/ ۱۵پ(وننزل من القرآن ما هو شفاءٌ)اورا نازله وو مونږ قرآن کښی هغه شی چه رحمت دے أو شفآء ده) (۸) أتم موعظة،لکه سورة یونس پ۱۱/ ۵۷اية(قَدْجَآءَ تْكُمْ مَّوْعِظَةٌ)بیشکه را غلے دے تا سو ته نصیحت (۹)نهم ذکر أو (۱۰)لسم مبارك ،لکه سو رة الانبياء اية ۵۰، ۱۷ پ (وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ او دا قرآن یاد اشت دے او د برکت نه ډك دے(۱۱)یوولسم عَلِيٌّ ددی نوم دے (۱۲) اودولسم حکیم لکه سورة الزخرف اية۴ / ۲۵پ(وَاِنَّهٗ فِيْٓ اُمِّ الْكِتَابِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ)،او بیشکه د اقرآن په لوح محفوظ کښی زمو نږ سره خامخا أوچت شان وا لا دے أو حکمت نه ډك دے (۱۳) اودیارلسم حکمت بالغة،لکه سورة القمر اية۵ / ۲۷پ (حکمة با لغة ،او دا قرآن پخی خبری دی انتهاء ته رسیدو نکی دی (۱۴)څوارلسم مُهَيمِن ،لکه سورة المائدة پ۶/ ۴۸اية(وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ، أو د اقرآن ګواه دے په هغی)

(۱۵)پنځلسم ای حبل الله لکه سورة آلعمران اية۱۰۳ / ۴پ (واعتصموا بحبل الله ،منګلی ولګوئی په رسیٔ د الله چه قرآن دے)

(۱۶)شپاړسم صراط مستقیم لکه سورة الا نعام ایة۱۵۳/۸پ(وان هذا صراطی مستقیمًا) ،او بیشکه دا قرآن لاره څماده نیغه ۔(۱۷)اوولسم قول أو (۱۸)فصل ،لکه سورة الطارق ایة۱۳/۳۰پ(انه لقول فصل) ۔ او بیشکه دا وېناپرېکړه(۱۹)نولسم نباءِ عظیم لکه سورة ص ایة۶۷/۲۳پ (قل هو نباء عظیم ،اووایه اے حبیبؐ داخبر دے لوئے شان والا)(۲۰)مثانی (۲۱)متشابه (۲۲) أحسن الحدیث لکه سورة الزمر ایة ۲۳/۲۳پ(الله نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِیْثِ کِتَاباً مُتَ شابِهاً مَّثَانِیَ ،الله تعالیٰ رانازل کړي خائسته خبرېچه کتاب(قرآن) دے (۲۳)تنزیل لکه سورة الشعرآیة۱۹۲/۱۹پ(وانه لتنزیل رب العالمین)۔بیشکه دا قرآن خامخا رانازل دے د طرف د پالونکی د مخلوقاتو نه ۔

(۲۴)رُوح لکه سورة الشّوریٰ ایة۵۲/۲۵پ(وَکَذَالِكَ اَوْحَیْنَااِلَیْكَ رُوْحاً ،دارنګی وحی کړے ده مونږ تاته دقرآن (۲۵)وحی لکه سورة الانبیاء ایة۲۵/۱۷پ(قل انما انذرکم با لو حی "أووایه اے حبیب ﷺ بیشکه زه یره درکوم تاسو ته په قرآن (وحی) سره (۲۶)عربی لکه سورة الشوریٰ ایة۷/۲۵پ(قرآناعربیاً)(۲۷)بصائر "هذا بصائر "(۲۸)بیان هذا بیان للناس(۲۹)علم لکه من بعد ما جا ئك من العلم (۳۰)حق انّ هذا لهو القصص الحق (۳۱)هادی اِنَّ هذا القرآن یهدی(۳۲)عجب قرآناً عجباً (۳۳)تذکرة وانهٗ لتذکرة (۳٤) عُرْوَةُ الْوُثْقیٰ (کړی مضبوطه)(۵۳) صدق (۶۳) عدل (۳۷) أمر (۳۸) منادی

(۳۹)بشریٰ (۴۰)مجید (۴۱)زبور (۴۲)بشیر(۴۳) نذیر (۴۴)عزیز
(۴۵)بلاغ (۴۶)قصص(۵۱)حُکم(۵۲)مفصّل(۵۳)نعمةالله(۵۴)خیر
الکثیر(۵۵)میزان .دینه علاوه هم ددی ډیر اسماء دی لکه (۵۶)حجة البالغة
(دلیل مضبوط) (۵۷)اسم (۵۸) وعید (۵۹)حَبْلُ الله (۶۰)ألکتاب
(۶۱)کلام الله .دا ټول اسماء (نو مونه)قرآن کریم پخپله ذکر کړیدی
دی.او زمونږ شیخ شیخ القرآن مولانا محمد طاهر هم په خپل
کتاب العرفان کښی یوفصل (فصل في اسماء القرآن) قائم کړیدے

"نزول القرآن"

نزول دقرآن دوه کرته شوېدے .دی وجی نه چی قرآن کریم کښې هم کله تنزیل ذکر کولے شی أو کله انزال ، (تنزیل لږ لږ نازلېدو ته وئیلے شي ،او انزال په یو ځل ټول را ناز لېدو ته ویلے شی)نو دقرآن نزول دوه کرته شویدے (۱)یو ځل غنډ ټول قرآن دلوح محفوظ نه بَيْتُ الْمَعْمُوْر(بیتُ العِزَّتْ)ته را نازل شوېدے چه د اپه اولنی آسمان کښی د ملائکو کعبه ده او بالکل د خانه کعبی مساوی (برابر)ده .او بیا د بیت المعمور (بیت العزت)نه لږ لږ د موقع په مناسب د ۲۳ درویشتو کلو په عمر کښي نازل شوېدے په نبي ﷺ باندي .

او حکمت ددی په ۲ دوه ځله نازلېدو کښي د ادے چه الله دی سره ددي کتاب شان اومرتبه پورته کوله .او علامه زُرقانیؒ وائي چه دي کښي اشاره ده دي ته چه د اکتاب محفوظ دے .په ۳ دریؤ ځایونو کښي یو په سینه مبارکه دنبی ﷺ کښي دویم په

بیت المعمور کښې د ربم په لوح محفوظ کښې۔

(او علامه سیوطي په الاتقان ص۳۹ ج۱ ۔ الاتقان ۴۰ ج۱ کښې په دی اجماع نقل کړې ده چه قرآن په یو ځل د لوح محفوظ نه بیت العزت،ته رانازل شوېدے وحکی الاجماع علی انه نزل جملة واحدة من اللوح المحفوظ الي بيت العزة في السماء الدنيا۔

او د عبد الله بن عباس نه ئې په سند صحیح سره نقل کړې ده چه قرآن په یو ځل دلوح محفوظ نه بیت العزة ته بیا د هغې نه به د موقع موافق جبریلؑ په نبیﷺ نازلولو(فتح الباري صفحه نمبر ۶۲۰ جلد ۸)فتح الباری کښې حافظ ابن حجر رحمه الله هم فرمائی الخ چه د نزول مرتین باره کښې روایات صحیح دی)

(بیان حکمت نزول القرآن الکریم)

دقرآن کریم دنزول حکمت :

حضرت شیخؒ په العرفان ص ۷ کښې فرمائیلی دی (واما حکمة نزول القرآن الکریم فهواخراج الناس من ظلمات العوائد الفاسدة الزائعة الشرکیة والکفریة والبدعیة والرسوم الباطلة الی نور التوحید والسنة الخ .

دارنګې قرآن کریم په خپله داذکر کړیدے لکه سورة البقرة ایة۲:۱پ

(ذٰلِكَ الْكِتَابُ لَارَيْبَ فِيْهِ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ) داكتاب (قرآن کریم) هیڅ قسمه شك نشته په دی کښې او داهد ایت دے دپاره دپر هیزګارانو۔

دارنګې سورة یونس ایت۵۷/پ۱۱

يٰٓايها النَّاسُ قد جآءَ تْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِّنْ ربّكم وَشِفَآءٌ لِّمَا فِي الصُّدُوْرِ وَهُدًى وَّرَحمةٌ لِلْمُؤْمِنِيْنَ .

اے ،خلقو ؟ بیشکه راغلے دے تاسو[۹۶] نصیحت د طرفه درب ستاسونه اود اشفاء ده د هغه امراضو دپاره کوم چه په سینو کښې دی او هدایت دے او رحمت دے دپاره د مؤمنانو ۔

او سورة ابراهیم ایت ۱ :۱۳ پ

كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّورِ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ

دا كتاب دے چه رالیږلے مو دے تاته اے حبيبه ﷺ دی د پاره چه را اُوباسی خلق د تیارو (د شرك وكفر) نه رنړ (د اسلام) ته ، په حکم د رب ددوی طرف د لاری د هغه ذات ته چه غالب دے او ستائلے شویدے۔

او سورة النحل اية ۴۴/۱۴ پ

وَاَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ.

او رالیږلے دے مونږ تاته اے نبی ﷺ قرآن دی د پاره چه بیان کښي خلقو ته هغه کتاب چه رالیږلے شویدے دوی ته او دی د پاره چه دوی سوچ وفکر وکړی ۔

دارنګی سورة النحل آية ۶۴/۱۴ پ

وَمَا اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ اِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ

او نه دے رالیږلے مونږ تا باندی اے نبی ﷺ دا قرآن مګر دی د پاره چه بیان وکړی دوی ته د هغه مسائلو چه دوی اختلاف کړے دے په هغی کښی او (قرآن) هدایت او رحمت دے د هغه قوم د پاره چه ایمان راوړی

او سورة الكهف ایة۱، ۱۵/۲ پ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَنْزَلَ عَلٰی عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا (۱)قَيِّمًا لِيُنْذِرَ بأ ساً شديداً مِّنْ لَّدُنْهُ وَ يُبشر الْمؤمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْراً حَسَنًا

صفات د خدائی توب خالص الله لره دی الله هغه ذات دی چه رالیږلے دے په خپل بنده (محمد ﷺ) کتاب (قرآن) او نه ئ دے کړ زولے دی لره کوږ والے ۔نیغ کتاب دے دی د پاره چه او پره وي خلق د عذاب سخت نه چه وی به د طرفه د الله نه او زیرے ورکوی مؤمنانو هغه کسانو ته چه عملونه کوی نیك چه بیشکه دوی د پاره به وی بدله خائسته۔

د ارنګی سورة صٓ ایة۲۹، ۲۳/ پ

كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ مُبٰرَكٌ لِيَدَّبَّرُوْا اٰيٰتِهٖ وَلِيَتَذَكَّرَ اُولُوا الْاَ لْبَابِ.

قرآن کریم رانازل کړیدے مو نږه تاته اے حبیبؐ برکتونونه ډك دے دید پاره چه سوچ وکړی دوی په آیاتونه کښې او دید پاره چه نصیحت واخلي خاوندان دعقلونو ۔

د ارنګی سورة الشوری ۵۲

وَكَذَالِكَ اَوْحَيْنَا اِلَيْكَ رُوْحاً مِّنْ اَمْرِنَا مَاكُنتَ تَدْرِیْ مَا الْكِتَابُ وَلاَ الْاِيْمَانُ وَلٰكِنْ جَعَلْنٰهُ نُوْراً نَّهْدِیْ بِهٖ مَنْ نَّشَآءُ مِنْ عِبَادِنَا وَاِنَّكَ لَتَهْدِیْ اِلٰی صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ.

او دارنګی وحی کړ یده مو نږه تاته اے حبیبه دقرآن په خپل حکم سره نه وی ته اے مخاطبه ! چه پو هیدی چه څه دے کتاب او نه پو هیدی په تفصیل د ایمان لیکن کړ ځولے مو دے دا رنړا لار سموؤ په دی چاته چه مو خوښه شی دخپلو بندیګانونه ،او بیشکه ته اے حبیبهٔ !خامخا ښودنه کوی طرف دلاری نیغی ته ـ

دارنګی سورة الحدید اية۹ ⁄ ۲۷پ

هُوَالَّذِیْ يُنَزِّلُ عَلٰی عَبْدِهٖ اٰيٰتٍ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوْرِ وَاِنَّ اللهَ بِكُمْ لَرَؤُفٌ رَّحِيْمٌ.

دغه الله هغه ذات دے چه رالیږی په خپل بنده (نبی ﷺ)باندی آیا تونه واضح واضح ،دی دپاره چه را اُباسی تا سو د تیار ونه رنړا ته ـاو یقیناً الله په تاسو باندی نرمی کونکے او رحم کونکے دے ـ

بیان موضوع القرآن الکریم

دقرآن کریم دموضوع بیان :

چی دی ته عنوان ،او ترجمة الکتاب هم وئیلے شي ، زمونږ مشایخ رحمهم الله فرمائی چه موضوع دقرآن کریم بیان د توحید او نفی د شرك ده۔

او دا مذهب صرف زمونږ د مشائخو رحمهم الله انفرادًا نه دے بلکه علماءِ راسخینو هم په دی تصریح کړی ده ۔لکه علامه حافظ ابن قیم الجوزیؒ په مدارج السالکین ص۴۵۰ج۳کښې فرمائی۔

بل نقول قولاً کلیاً ان کل آیةٍ فی القرآن فهی متضمنة للتوحید شاهدةٌ بهٖ داعیةٌ الیه فانَّ القرآن اما خَبَرٌ عن الله واسمآئه وصفاته ،وافعالهٖ فهو التوحید العِلْمِیُّ الْخَبَرِیُّ وامَّا دعوةٌ الی عبادتهٖ وَحْدَهٗ لا شریك لهٗ او خلع کلَّ ما یعبد من دُونهٖ ، فهو التوحید الارادیُّ الطَّلَبیُّ ،وامَّا امرٌ ونَهْیٌ والزَامٌ بطاعتهٖ فی نهیهٖ وامْرِهٖ فَهِی حقوق التوحید ومکمّلاتهٖ وامَّا خبر عن کرامة الله لاهل توحیدهٖ وطاعتهٖ ومافعل بهم فی الدنیا ،وما یُکرِمهم به فی الأخرة فهوجزاء توحیدهٖ واماخبر عن اهل الشرك ،وما فعل بهم فی الدنیامن النکال ،وما یحل بهم فی العقبیٰ من العذاب فهو خبر عَمَّن خرج عن حکم التوحید

بلکه واهو مونږ هو کلي قول چه هر آية په قرآن کښې متضمن دے دتو حيد دپاره او ګواه دے په دی (تو حيد)اوبلونکے دے دی طرف ته نو قرآن خو يا خبر دے د الله اود اسماء و (نو مونو)د هغه نه او صفاتو د هغه نه او دکارونو د هغه نه نو دی ته تو حيد علمی خبری وئيلے شي ـاو قرآن يا بلنه ده عبادت د الله ته چه يوائې معبود دے بل شريك ورسره نشته ،او دی کښې بلنه ده په پريښو دو د هغه چا چه الله نه علاوه د هغوی عبادت کيدی شي ،نو دېته توحيد ارادی طلبي وئيلے شی،او قرآن کښې يا حکم او منع ده ،او لازم والے په تابعد اریٔ د الله ،په منع ،او حکم کښې ،نو دا هغه حقوق دتو حيد او د هغی مکملات دی ،او قرآن کښې يا خبر دے چه الله مؤحدين عزتمند کړی وو ،او هغه نعمتونه ئې ذکرکړی چه په هغوی ئ دُنيا کښی کړی وو۔او هغه ئ هم ذکر کړی چه آخرت کښی به ئ په هغی عزتمند کړی نو دا بدله ده د تو حيد ،او د يکښی يا خبر دے د مشرکا نو او ددوی د عبرتناکوسزاګانوذکردے چه دنيا کښې ورکړی شوی دی ،او ددوی دعذاب اُخروی ذکر دے نو دا خبردے د هغه چانه چه هغوی وُتی وو د حُکم دتوحيد نه۔

فالقرآن کله في التوحيد وحقو قه وجزاء ه وفي شان الشرك واهله و جزاء هم	نو قرآن کريم تول د توحيد باره کښی دے او ددی د حقوقو أو جزاء (بدلی)په باره کښی دے ،اوپه حال د شرك او د مشرکانو او د هغوی دسزا په باره کښی دے۔

دارنګی ملا علی القاری الحنفي هم په شرح د فقه اکبر ص ...

موضوع دقرآن :

فالقرآن کله فی التوحید الخ

چه قرآن ټول د توحید په باره کښې دے:

(موضوع دقرآن کریم اثبات دتو حید دے په ټولو أقساموسره او تر دید دتمامو اقسامو دشرك دے)

دامقصد قرآن کریم کښې ډیر مذکور دے لکه سورة آل عمران ص ۱۸

شَهِدَاللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُو الْعِلْمِ قَآئِمًابِالْقِسْطِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۔

حکم او فیصله کړی ده الله چه بیشکه شان دادے چه نشته لائق دعبادت په وجود کښې مگر دغه یو الله دے او فرشتی په دی گواه دی او خاوندان دعلم په دی گواه دی ۔ داسې حا ل کښې چه قائمه ونکے دے الله عدل وانصاف لره ۔نشته معبود په حق مگر دغه یو الله دے چه زورور (غالب)اؤ حکمتونو والادے

(شهد الله انه لا اله الا هو ،قرآن کریم کښې د اتولو کښې لوئ دشهادت آیة دے ابن قیم ؒ په مدارج السالکین کښې ذکرکړی چه

د شهد په معنی د قال او حکم أو قضيٰ او بيّن او اعلم ،او ،اخبر دے ـ او امام نسفی حنفیؒ په خپل تفسیر مدارك کښې وائی چه اولو العلم نه مراد انبیاء او علماء دی (مدارك) قائمًا حال دے د لفظِ الله نه او د اپه معنی د مقیماً دے او روستو آیة ۱۹ کښې "ان الدین الخ "دلا اله لاهو نه بدل دے دبعض مفسرینو په نزد نو بناء په دی انحصار ددین دے په توحید کښې (یعنی دین هم دغه لا اله الا هُو دے) او بعض مفسرین فرمائی چه د اجمله مستانفه ده ـ

او سورة الانعام اية ۱۰۶/۷پ

اِتَّبِعْ مَآاُوْحِیَ اِلَیْكَ مِنْ رَّبِّكَ لَآ اِلٰهَ اِلَّاهُوَ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِیْنَ.

روان شه اے نبی ﷺ د هغه څه پسی چه تا ته ئ وحی کېدے شی د طرفه درب ستانه د اچه نشته بل دعبادت لائق مگر دغه یو الله دے ـ او مخ واړه وه د مشرکانو نه ـ

سورة هود اية۱ ـ ۲/۱۱پ

كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰیٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَّدُنْ حَكِیْمٍ خَبِیْرٍ (۱) اَلَّا تَعْبُدُوْا اِلَّا اللّٰهَ اِنَّنِیْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِیْرٌ وَّبَشِیْرٌ

د اقرآن کتاب دے چه مضبوط کړی شوی دی آیاتونه ددی بیا واضح کړی شوی دی اوده طرفه د خاوند د حکمت اوخبردار ذات نه، داچه عبادت به نه کوے مگر خاص د دغی الله بیشکه زه تاسو دپاره د الله د طرف نه ېره درکونکے یم اوزیرے درکونکے یم ـ

دارنګی ددی سورة هود آیة ۱۴ / ۱۲پ

فَاِنْ لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ فَعْلَمُوْا اَنَّمَا اُنْزِلَ بِعِلْمِ اللهِ وَاَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلاَّ هُوْ

که چرے قبو لوالے ونه کړو دوی (مشرکانو) تا سولره ، نو پوهه شئ چه بیشکه رالیږلے شوے دے (دا قرآن) په علم د الله ، او دا چه نشته بل دعبادت لائق مګر خالص د غه الله دے۔

او سورة ابرهیم ایة ۵۲ / ۱۳ پ

هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنْذَرُوْابِهٖ وَلِيَعْلَمُوْا اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَ لِيَذَّكَّرَ اُولُو الْاَ لْبَابْ.

دا قرآن تبلیغ دے دپاره د خلقو او دی دپاره چه پو هه شی خلق چه بیشکه دغه الله لائق دعبادت دے یودی دپاره چه نصیحت قبول کړی دعقل خاوند ان۔

نو په دی مذکوره آیا تونو هغه أصل مقصد ذکر دے چه توحید دے۔أوپه دی کښی تصریح ده چه نزول دقرآن توحید دپاره شوے ۔

(تفصیل الشرك)

هر کله چه اثبات دتوحید اؤنفی دشرك دقرآن موضوع وه نو أوس به مونږ تفصیل دشرك کوؤ ۔او توحید به پیژندے هم هله شي چه کله چه شرك أوپیژندے شی ځکه چی شرك دتوحید ضد دے اوقاعده ده چی (الاشیاء تعرف باضدادها) اشیاء په خپلو اضدادو پیژندے شی ۔

شرك په لغت کښی حصّه داری ته وئیلے شی أوشریك

حصه دار ته وائی او د الُغوی معٰنی قران کریم هم ذکرکړی ده لکه
سورة طٰهٰ اية۳۲/۱۶پ (وأشركه فى امرى ترجمه : وئیلی وو موسیٰ
شریك کښی دا (هارون) ځما سره په کار ځما کښی) او سورة النسآء
اية۱۲/۴پ (فهم شركاء فى الثلث ترجمه : نودوی به حصّه داران وی
په دریمه کښی) او سورة الروم ۲۸/۲۱پ (هل لكم مما ملكت ايمانكم من
شركآء ترجمه : آیا شته دے تاسو د پاره د هغه چانه چه مالکان شویدی ښی
لاسونه ستاسو حصه داران اوشریکان) او سورة الزمر اية ۲۹/۲۳پ
(ضرب الله مثلا رجلا فيه شركآء ترجمه : بیان کړیدے الله مثال د یو سړی
چه په هغه کښی شریکان او برخی دار وی) او سورة الانعام اية
۱۴۹/۸پ (فهم فيه شركآء ترجمه : نو دوی به په دی کښی شریك وو) او
شرك اصطلاحی هغه دے چه د هغی مذمت الله قرآن کریم کښی ځای
په ځای کړیدے لکه سورة النسآء اية۴۸/۵ (ان الله لايغفر ان يشرك به و
يغفر مادون ذلك لمن يشاء و من يشرك بالله فقد افترىٰ اثمًا عظيمًا ترجمه :
یقینًا الله نه معاف کوی دا چه شرك وکړے شی د دغی الله سره ـ او معاف
کوی هغه چه علاوه د دی شرك نه دی هغه چا ته چه خوښه ئ شی
او چا چه شرك وکړو د الله سره نو بیشکه دهٔ جوړه کړه ګناه لویه)
دارنګی آية۱۱۶/۵ پ کښی هم فرمائی (ومن يشرك بالله
فقدضلاضلالاً بعيدًا ـ چا چه شرك وکړو د الله سره نو بیشکه دے ګمراه
شو په ګمراهئی لرے سره)
دارنګی سورة الحج ۳۱/۱۷ (ومن يشرك بالله فكانما خر من السمآء
فتخطفه الطير او تهوى به الريح فى مكان سحيق ـ او چا چه شرك وکړو د الله سره نو
ته به وائی چه ګنی دے اُغرزیدو د آسمان نه نو اُتختولو (او اُخوړو) ده لره مارغانو یا اُغرځوی ده لره هوا او سیلئی په یو مکان لری کښی)

بیا زمونږ مشائخو رحمهم الله د شرك اقسام ذکر کړی
۔لیکن بعض اهل بدع او حاسدین (مبتدعین)په دی اعتراضونه
کوی چه شرك کښې دوی د ځان نه تقسیم کړیدے ، دی کښې خو
تقسیم نشته، نود اتقسیم خو انفرادا زمونږ مشائخو نه دے کړے
بلکه نورو علمائے دیوبند هم کړیدے۔لکه مفتی محمد شفیع په
معارف القرآن ص ۴۳۰/ ۲ج کښې د اتقسیم کړیدے فرمائی :

شرک کی تعریف اور اُن کی چند قسمیں :

اللہ تعالیٰ کی ذات کے بارے میں جو عقائد ہیں اس طرح کا کوئی عقیدہ کسی مخلوق کیلئے رکھنا یہ شرک ہے ان کی کچھ تفصیلات یہ ہے علم میں شریک ٹھہرانا، یعنی کسی بزرگ یا پیر کے ساتھ یہ اعتقاد رکھنا کہ ہمارے سب حال کی اس کو ہر وقت خبر ہے، نجومی، پنڈت، سے غیب کی خبریں دریافت کرنا ،یا کسی بزرگ کے کلام میں فال دیکھ کر اس کو یقینی سمجھنا یا کسی کو دور سے پکارنا اور یہ سمجھنا کہ اس کو خبر ہو گئی ،یا کسی کے نام کا روزہ رکھنا،

اشراک فی التصرف : یعنی کسی کو نفع یا نقصان کا مختار سمجھنا کسی سے مرادیں مانگنا۔روزی اور اولاد مانگنا۔

عبادات میں شریک ٹھہرانا : کسی کو سجدہ کرنا، کسی کے نام کا جانور چھوڑنا ،چڑھاوا چڑھانا کسی کے نام کی منت ماننا، کسی کی قبر یا مکان پر طواف کرنا، خدا کے حکم کے مقابلہ میں کسی دوسرے کے قول یا رسم کو ترجیح دینا، کسی کے روبرو رکوع کی طرح جھکنا، کسی کے نام پر جانور ذبح کرنا دنیا کے کاروبار کے ستاروں کی تاثیر سے سمجھنا، اور کسی مہینہ کو منحوس سمجھنا وغیرہ۔

"د ارنګی شا ولی الله" په حجة الله البا لغة ص۶۱ کښې فصل قائم
کړے دے اوفرمائی

باب اقسام الشرك : او ددی (شرك)نه(۹) اقسام ئ

ذکر کړیدی فرما ئی فمنها انهم کانوا یسجدون للاصنام والنجوم
.بعض ددی نه چه مشرکانوبه سجدی کولی

بتا نو ته اوستوروته (۲)انهم کانوا یستعینون بغیرالله فی
حوائجهم . دوی به مدد غوښتلو په خپلو حوائجوکښی د غیر الله
نه (۳)انهم کانوا یسمُّون بعض شرکائهم بنات الله وابناء الله دوی
به بعض شرکآء و ته بنا ت الله (لو نړه د الله) او ابناء الله (ځامن د الله)
وئیل (۴)انهم کانوا یتخذون احبارهم ورحبانهم اربابا من دون
الله ځلورم دوی به خپل پیران او مُولیان په خد ایی توب سره نیول
(۵)انهم کانوا یتقرّبون الی الاصنام والنجوم بالذبح لاجلهم .
دوی به خپلو معبود انو ته ذبحی کولی او ددی په ذریعه به ئ ځان
هغوی‌ته نزدی کولو (۶) انهم کانوا یسیّبون السوائب والبحائر
تقربا الی شرکائهم د ارنګی بعض ځناور به ئ د خپلو معبود انو په
نوم خوشی کول او مُهمل به ئ پر ښودل (۷) انهم کانوا
یستحلفون باسماء شرکائهم دوی به د غیرالله په نوم قسمونه
خوړل،(۸) ومنها الحج لغیرالله د ارنګی دوی به غیر الله ته حجونه
کول (۹) انهم کانوا یسمّون ابنائهم بعبدالعزی وعبداللات

ونحوذلك دارنګی خپل أولاد به ئ خپلومعبودانوأو خدايانو ته منسوب کول لکه عبد العزّیٰ،عبداللّٰتوغیره۔نودیوجی نه قرآن کریم ددی تولونه منع أفرمائیله ۔ دارنګی حکیم الامت مولاناأشرف علی تهانوی په امداد الفتاویٰ ص۸۸،۶ج کښی په دی بوه رساله لیکلی ده نهایت الادراك فی أقسام الاشراك"

دارنګی تقسیم دشرك حافظ ابن قیم هم په ألجواب الکافی ص۱۱۴کښی کړیدے فرمائی الشرك شرکان شركٌ یتلعق بذات المعبود واسمائه وصفاته وافعاله وشركٌ فی عبادته ومعاملته وان کان صاحبه یعتقد انه سبحانه لاشریك له فی ذاته ولا فی صفاته ولافی افعاله . شرك په دوه قسمه دے (۱)یو قسم هغه شرك دے چه متعلق وی دذات د معبود سره أو د هغه دأسمائو (نومونو)صفاتو أو أفعالو (کارونو)سره(۲)دویم قسم هغه شرك دے چه په عباداتو أومعاملاتو کښی وی اګرکه دغه صاحب ددی داعقیده لری چه د اللّٰه سره بل شریك په ذات ،صفاتو أو أفعالو کښی نشته۔

والشرك الاول نوعان احدهما مشركُ التعطیل وهواقبح انواع الشرك کشرك فرعون اذقال (ومارب العالمین) فالشرك والتعطیل متلازمان ، فکل مشرك معطل ، وکل معطل مشرك بیا شرك اول په دوه قسمه دے (۱)یو شرك التعطیل أو داد شرك په تمامو أقسامو کښی أقبح دے لکه شرك دفرعون چه هغه وئیلیوو "وما رب العالمین (سورة الشعرآء ۲۳،۱۹پ)(چه رب العالمین ،لا

څه شے دے)یعنی د الله د وجود نه ئ انکارکولو (نو شرك أو تعطيل دواړه لازم دی نو هر مشرك معطل دے أو هر معطل مشرك دے)

(۲)ومنه شركُ الملاحدة القائلين بقدم العالم وابديته ، وانه لم يكن معدوماً اصلاً بل لم يزل ولايزال .... الخ دويم شرك الملاحدة دے د امشركان وائی چه عالم قديم دے أو دوی وائی عالم دسره هډوله معدوم نه وو۔أو دغه قسم ثانی (دويم قسم)د شرك د اشرك د هغه چادے چه د اللهصفات خونه معطّل کوی لیکن شریکان ورسره جوړه وی لکه شرك د نصاریٰ ؤ چه هغوی به وئیل ان الله ثالث ثلاثه ۔(الله دریم معبود دے ددرے ؤمعبود انونه)اوددي نه شرك د مجوسو هم دے چه هغوی اسناد ده حوادثو د خير نورته کوی او د حوادثو د شرظلمة (تیاری)ته کوی او دی قسم نه شرك دقدريه ؤهم دی ۔أو ددی نه شرك دنمرود هم دے چه حضرت ابراهیمؑ سره ئ په دے مناظره کړیوه ۔بیا ابن قیمؒ فرمائی چه شرك کله اکبر وی کله اصغر شرکِ اکبر لکه غیر اللهفوق الأسباب رامدد کول وغیره ۔شرك اصغر ریاء ته وئیلے شی۔

زمونږ مشائخو رحمه الله هم دشرك تقسيم کړيدے چه شرك ابتداءً په دوه۲قسمه دے ۔ (۱)اعتقادی (۲)فعلی

بیا شرك اعتقادی په خلور۴قسمه دے (۱)اشراك فی العلم (۲)اشراك في التصرف (۳)اشراك فی الدعاء (۴)اشراك فی العبادة ۔

اشراك في العلم

دادی ته وئیلے شی چه لکه څنګه الله په هرېټ او سرګند په ماضی اومستقبل عالم او پو هه دے ـ دا سی علم بل چاته ثابتول ـ دېته شرك فی العلم وئیلے شی ـ قرآن کښې الله ځان ته علم ثابت کړېدے لکه سورة الانعام اية ۳/ ۷پ

وَهُوَاللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ .

دغه الله په آسمانونوکښې هم اله دے او په زمکوکښې هم ـپو هېږی په پټو ستاسو او په سر ګندو ستاسو او پو هیګی په هغه څه چه تاسوئ کوئ

اوسورة یونس اية ۶۱/ ۱۱پ

وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي الْاَ رْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَلَا اَصْغَرَ مِنْ ذٰلِكَ وَلَا اَكْبَرَ اِلَّا فِيْ كِتَا بٍ مُّبِيْنَ.

او نه د ے پټ د رب ستا نه مقدار دېوی زرّی نه په زمکه کښی او نه په آسما ن کښیأو نه وړوکے ددې زری نه اونه لوی مګر په کتا ب ښکاره کښې دے (یعنی په علم د الله تعالی کښی)

اوسورة هود اية ۵/ ۱۱پ

يَعْلَمُ مَايُسِرُّوْنَ وَمَايُعْلِنُوْنَ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ.

پو هیګی الله په هغه څه چه پټوی ئ دوئ او په هغی چه دوی سر ګنده وی بیشکه الله پو هېږی په رازونو دسینو ـ

أو سورة هود اية ١٢٣ / ١٢ پ

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاِلَيْهِ يُرْجَعُ الْاَمْرُ كُلُّهٗ فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْلَمُوْنَ .

خاص الله د پاره علم د پټو څېزونونه د آسمانونه أو د زمکې دے۔أو خاص د غې الله ته واپس کولے شي کارونه ټول نو پوا زي د الله بندګي کوه أو خاص په د غې الله بروسه واعتماد کوه ۔أو نه دے رب ستاناخبره د هغه څه نه چه تاسو کوم عمل کوے۔

سورة الرعد اية ٨ / ١٣ پ

اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَمَا تَغِيْضُ الْاَرْحَامُ وَمَا تَزْدَادُ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهٗ بِمِقْدَارٍ .

الله پو هېږي په هغه څه چه حمل أخلي هره زنانه أو هغه چه کمه وي ئ رحېمونه أو هغه چه زياته وي ئے ۔أو هر يو شے د الله سره په يو خاصي أندازي دے۔

سورة ابراهيم اية ٣٨ / ١٣ پ

رَبَّنَا اِنَّكَ تَعْلَمُ مَا نُخْفِيْ وَمَا نُعْلِنُ وَمَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ

اے ذمونږ ه ربه بېشکه ته پو هېږې په هغه څه چه مونږ ي پټه وو أو هغه چه سر ګنده وو ي ۔ أو نه دے پټ په الله هيڅ يو شے نه په زمکه کښې أو نه په اسمان

کښې

سورة النحل اية ۷۷/ ۱۴ پ

وَلِلّٰهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

خاص الله لره علم دپټو څېزونو د اسمانو أو دزمکي دے۔

سورة الكهف اية ۲۶/ ۱۵ پ

قُلِ اللهُ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوْا لَهٗ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ۔

او فرمايه اے نبي ؟ ألله ښه پو هه دے په هغه چه دوی (اصحاب كهف)كوم كوم وخت تېر كړے وو غار كښې خاص دی الله د پاره علم د پټو څېزونو د آسمانونو أو د زمكي دے۔

سورة لقمٰن اية ۳۴/ ۲۱ پ

اِنَّ اللهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ بِاَيِّ اَرْضٍ تَمُوْتُ اِنَّ اللهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ۔

بیشکه ألله دغی ألله سره علم دقيامت دے أو رالېږی باران ،او پته نشته هيڅ يو نفس ته چه دے به صبا څه كوی ۔ او نشته پته أو علم هيڅ يو نفس ته چه دے به په كومه زمكه باندی مر كېږی بیشکه ألله تعالیٰ پو هه أو خبر دار دے ۔

او سورة الحديد اية۴/۲۷پ

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْلَمُوْنَ بَصِيْرٌ.

پو هېږی الله په هغه څه چه ننه کېږی په زمکه أو په هغه چه راوځی ددی نه أو په هغه چه راناز لیږی داسمان نه او په هغه ورخېژی په دېکښی او دغه الله تاسو سره وی ـ(په اعتبار د علم)کوم ځای کښی چه ئ تاسو ـ او الله په هغه چه تاسو کوم عمل کوی لیدونکے دے

دا خو هغه آیات ووچه دی کښی اثبا ت دعلم دوالله تعالی ته ـ اوس بل بحث په دی باب کښی زمونږ په اصول ا لقرآن کښی د ادے چه نفی دعلم الغیب دنور مخلوقا تو نه چه ما سوا د الله نه دی ـ

تعریف دغیب : امام را غب اصفها نیؒ په مفردا ت القر آ ن کښی ذکرکړېدی چه غیب مصدر دے لکه وئیلے شی غا بت الشمس اذااستتر ت عن العین ـ (یعنی نور غیب شو کله چه هغه دسترګونه پټ شی)او د استعمالیږی په هر هغه شی کښی چه غا ئب وی د حواسونه او چه غا ئب وی دعلم د انسا ن نه داسی تفصیل مفتی محمدشفیع صاحب ؒاحکا م القرآن ج۳/۴۵ص کښی هم ذکر کړېدے ـ او هو شی ته چه غا ئب وئیلے

شي نو دا په اعتبار د خلقو نه د الله په اعتبار خکه د هغه نه څه شے غائبیدے نه شي۔

او احکام القران کښي د دی په تفصیل او وضاحت بوه رساله ده کشف الریب عن عقیده علم الغیب ۔

فرمائی چه حاصل دادے چه غیب او غائب په قرآن کښي په ډېرو معانی ؤسره راځي ۔ نو په دی قول الٰهی کښي چه ﴿وَمَا كُنَّا غَائِبِينَ﴾ معنی لغوی ده چه معروفه ده چه غائب وی د حاضر نه ۔ او په دی قول الٰهی کښي چه ﴿قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ﴾ "دی کښي په غیب سره مراد هغه غیب دے چه د حواسو لاندی نه واقع کیږی او ددی ادراك په دلائل عقلیه و تجربیه و حسابیه ؤسره نه کیږی ۔ نو هغه شے چه د هغی ادراك ممکن وی په حواسو یا په دلیل عقلی یا په تجربه یا په حساب یا په نورو اسبابو باندی نو هغی ته غیب نه شي وئیلے کیدی (په دی معنی) او دا مخصوص دے د الله تعالی پوری او په نبراس (حاشیه د شرح العقائد)کښي هم ذکر دی چه.

والتحقيق أن الغيب ما غاب عن الحواس والعلم الضروري، والعلم الاستدلاليّ وقد نطق القرآن بنفي علمه عمّن سواه تعالىٰ، فمن ادّعىٰ أنهٗ يعلمه كفر ومن صدّق المدعي كفر، وامّا ما علم بحاسةٍ أوضرورةٍ أو دليلٍ فليس بغيب ولاكفر في دعواهٗ ولا في تصديقهٖ علىٰ الجزم في اليقيني والظّن في الظّني عند المحقّقين.

تحقیق دادے چه غیب دی ته وائی چه د حواسو نه غائب وی أو دعلم استدلالی نه۔ أو قران تصریح کړیده په نفی دعلم غیب دغیرالله نه نوچاچه دعلم غیب دعویٰ وکړه نو دے کافر دے أو د ده تصدیق کو نکے هم کافر دے ۔أو هر چه هغه معلوم شي په حواسويا په بل يو دليل نو دی ته غيب نشي وئيلے، او نه کافر کيږی ددا سی علم دعویٰ کونکے۔او په تصديق ددا سی مدعی کښې په يقين با ندی په يقيني څيزونو کښی أو په شك باندی په شکی أشياؤ کښی په نزد د محققينو۔

ببا علامه ظفر أحمد عثمانی تهانوی فرمائی چه په دی تحقیق هغه اشکالا ت هم دفع کیږی، چه بعض خلق وائی چه داشے غیب دے حالانکه هغه د غیبو دتعریف لاندے داخل نه وی ۔لکه اخبار الأنبیاء چه هغوی د یو غیب خبر ورکوی ۔ځکه هغه خو مستفادوی دوحی نه ۔یا دنورودلائلو نه ۔دویم اخبار الأولیاء نو هغی ته هم غیب نه شی وئیلے ۔ځکه هغه مستفادوی د نبی ته

یا د نیکو خوبونو نه یا د الهام وغیره نه۔
دریم اخبار د حاسب : چه حساب کونکے خبر ورکوی ددی چه په فلانی تاریخ أو ورځے باندی به نور یاسپوږمئی تندرنیسی وغیره وغیره۔
في الجملة : غیب هغی ته نه شی وئیلے چه هغی کښی اسباب استعمال شی (لکه بعض أطباء (ډاکټران) د مذکر بچی یا مؤنث خبر ورکوی حالانکه هغه رحم کښی وی)د ارنګی بعض جدید فلسفی أو سائنس والا خبر ورکوی د باران دورید نه۔
أو مفتی رشید احمدؒ هم په احسن الفتاویٰ ص۱/۲۰۱ج کښی په دی موضوع یوه رساله لیکلی ده چه د هغی نوم دے ازالة الریب عن مسئلة علم الغیب ،هغی کښی فرمائی ''غیب عبارت ہے ان امور غیبیہ سے جن کا ادراک حواس اور دلائل عقلیہ اور ریاضیات سے نہ ہو سکے۔بیا ددی تقسم هغه کړیدے ۔یادرہے کہ مغیبات دو قسم کے ہیں. تشریعی اور تکوینی ،تشریعی جیسے وحی ،تمام از قبلیۂ غیب ہے تشریعات میں سے کچھ کلیات بقدر ضرورت تلقین کئے جاتے ہیں ،اور تکوینیات میں کُلیات نہیں بتلائے جاتے ۔اُنہی کلیات کو مفاتیح سے تعبیر فرمایاہے۔
قرآن کریم مختلفو مخلوقاتو نه نفی د علم غیب کړیده
(ا) اول نفی د علم غیب دفرشتو نه لکه سورة البقرة اية۲۳/۱پ
قالوا سبحنك لا علم لنا الا ما علمتنا انك انت العليم الحكيم .
وئیلی وو فرشتو اے أﷲپاکی ده تالره نشته علم مونږ لره مګر هغه هومره چه تاعلم راکړیدے مونږ ته ۔بیشکه ته ئې په تمام خبزونو پو هه ۔أو حکمت والائې

(۲)نفی دعلم غیب د تولو أنبیاء علیهم السلام نه اجمالاً ـلکه سورة المائده ایة۱۰۹/۷پ

یوم یجمع الله الرُّسل فیقول ماذا اُجِبْتُمْ قالو لا علم لنا انك انت عَلاَّ م الغیوب .

په کومه ورځ چه راجمع به کړی ألله تمام پیغمبران نوورته او به فرمائی څه جواب درکړے شوے وو تاسو ته دأمتونو دطرف نه،نو اوبه وائی(دوی)نشته علم مونږ لره۔بیشکه ته هم ته ئ پو هیدوکونکے په تمام پټو څیزونو ۔

"لاَعِلْمَ لَنَا "امام نسفیؒ په مدارك کښې ذکر کړیدی ای لا علم لنا باخلاص قومنا (یعنی دخپل قوم په اخلاص مونږ ته علم نه وو)ابن کثیر وائی أی لاعلم لنا بما أحدثوا بعدنا ۔(یعنی علم نه وو مونږ ته چه دوی مونږ نه بعد دین کښې کوم بدعات کړی أو بعض چه دا ذکر کړی چه علم به ورته وی خو د هیبت د دوجی نه به وائی "لا علم لنا "نو دا خبره بلا دلیله ده ځکه ألله دعامو مؤمنا نو باره کښی دا حال هم ذکرکړیدے چه "وهم من فزع یو مئذ امنون "(دوی به د هیبت د دغه ورځی نه په أمن وأمان وی)سورة النمل ایة۸۹/۲۰پ نو حال د انبیاءؑ خو ډیر اُوچت دے۔

(۳)دریم نفی دعلم غیب د پیریانو (جناتو)نه لکه سورة السباایة۱۴/۲۲پ

فلما قضينا عليه الموت مادلهم علىٰ موته الا دابة الارض تاكل منسأته فلما خر تبينت الجن ان لوكانو يعلمون الغيب ما لبثوا فى العذاب المهين.

هر كله چه مونږ د مرګ فيصله کړېوه په سليمانؑ خبر دارے نه وو ورکړے د مرګ د هغه پېريانو ته مګر هغه وېنو دزمکې چه خوړلې وه همسأد هغه هر کله چه سليمان ؑ په زمكه راأوغرځيدونو پوهه شول پېريان كه چرې وے دوئ پوهېدې په غيبونو وخت به يې نه وے تېر کړے په عذاب دشرمندګئ کښې۔

د ارنګی سورة الجن اية ۱۰/۲۹پ

وانّا لا ندرى اشرٌّ اريد بمن فى الارض ام أرادبهم ربهم رشداً.

(پېريان وائى)مونږته علم اوېته نه وه چه د شراو عذاب اراده لرلې شوى په زمکې واله ؤ ياكه اراده لرلې په دوى رب د دوى د څه خير۔

(۴) نفى دعلم غيب د حضرت عيسى عليه السلام لكه سورة المائده اية ۱۱۷/۷پ

وكنت عليهم شهيداً ما دمت فيهم فلمّا توفيتني كُنت انت الرقيب عليهم وانت على كل شئ شهيد .

(حضرت عيسى ؑ فرمائى)أو زه دوئ گواه أو عُلم په دوى كله چه زه موجودوم په دوى كښى -پس هر كله چه تازه واخستم نو ته نگبهان (خاص ساتونكے)ئ په دوى -أو ته په هر يو شے باندے گواه أو حاضر ئ -

(۵)پنځم نفى دعلم غيب د هرمعبود نه چه د الله نه علاوه وى لكه سورة يونس اية۲۸/۱۱پ

ويوم نحشرهم جميعاً ثم نقول للذين أشركوا مكانكم أنتم و شركاؤكم فزيلنا بينهم وقال شركاؤ هم ما كنتم ايا نا تعبدون

په كومه ورځ چه راجمع به كړودوى ټول بيا اوبه وايو هغه كسانو ته چه شرك ئ كړے وو خپل ځايونه لازم اونيسئ تاسو أواوبه وائىمعبودان ددوى چه نه وئے تاسو خاص مونږ ته چه عبادت موكولو -

دارنگى سورة النحل اية ۲۰ /۱۴پ

والذين يدعون من دون الله لا يخلقون شيأ وهم يخلقون .اموات غير احياء وما يشعرون ايان يبعثون .

هغه كسان چه مشركانوئ ماسيوا دألله نه فوق الاسباب رابلى دوى نه شى پيدا كولے څه شے او دوى په خپله پيدا كړے شوى دى مړه دى ژوندى نه دى اودوى ته پته نشته چى كله به پورته كولى شى -

د ارنګی سورة الفاطر اية۱۳_۱۴/۲۲پ

والذين تدعون من دونه ما يملكون من قطمير ان تدعوهم لا يسمعوا دعآء كم ولو سمعوا ما استجابوا لكم ويوم القيامة يكفرون بشرككم.

هغه کسان چه را مدد کوئے ئ تاسو ما سیوا دألله نه نو هغه نه دی مالکان دنری پُستکی دکجورے دهډوکی که رامد دکوئ تاسو دوی نو نه أو ری بلنه ستاسو که بالفرض واوری نو قبولوالے نه شی کولے تاسوته أو په ورځ دقیامت انکار به کوی دشرك ستاسو نه

د ارنګی سورة الأحقاف اية۵/۲۶پ

ومن أضل ممن يدعوامن دون الله من لا يستجيب لهٗ الیٰ یوم القيامة وهُمْ دعائهم غٰفِلون.

نشته لوئ ظالم د هغه چانه چه رابلی علاوه د الله نه هغه چالره چه قبول والے نه شی کولے ده ته دورځی دقیامت پوری أو دامعبودان د بلنی ددوی نه ناخبره (غافله)دی۔

(۶)نفی دعلم غیب د تمامو مخلوقاتو نه که معبودوی أوکه نه وی لکه سورة آلعمران اية ۱۷۹/۴پ

وما كان الله ليطلعكم علیٰ الغيب

نه دی ألله چه خبردار کړی تاسو په غیبو باندی۔

د ارنګی سورة الأنعام اية ۷/۵۹پ

وعنده مفاتح الغيب لا يعلمها الا هو

ددغی الله سره کنجیانی (یاخزانی) دغیبودی نه پوهیږی په دی مګر خاص دغه الله ـ

سورة النمل ۲۰/۲۵پ

قُل لا يعلم من فى السموت والارض الغيب الا الله وما يشعرون ايان يبعثون .

او وایه اے حبیب ﷺ نه پو هیږی هغه مخلوق چه په آسمانونو او زمکه کښی دے په غیبو مګر دغه یو الله (پری پوهیږی) أو دی مخلوقاتو ته دومره علم أو پته هم نشته چه قبر ونو نه به کله راپور ته کولے شی ـ

أو سورة لقمن اية ۲۱/۳۴پ

ان الله عنده علم الساعة و ينزل الغيث ويعلم ما فى الأرحام وما تدرى نفس ماذا تكسب غدا وما تدرى نفس باى ارض تموت ان الله عليم خبير.

بیشکه الله سره علم دقیامَت درا تلوے دے ،أورا لیږی باران ،أو پوهږی په هغه څه چه دی په رحِمونو (بچی دانو) کښی ،او هیڅ پته نشته ہو نفس تهٔ چه دے به صباله څه کوی ـ أو هیڅ پته نشته ہو نفس ته چه په کومه ہوه زمکه به دے مرکیږی،بیشکه الله پوهه أو خبردار ذات دے ـ

سورة الجن اية۲۶/۲۹پ

عٰلم الغيب فلا يظهر علىٰ غيبه أحداً

(أللّٰه)پوهه أو عالم دے په تمامو پټو څيزونو نونه خبردار کوی په تمامو غيبو خپلو پوهيوتن لره ـ

او سورة المدثر ۳۱ / ۲۹پ

وما يعلم جنود ربك الا هو

نه پوهيږی په (تعداد) دلښکرودرب ستا مګر خاص دغه الله

او علم غيب داخو خاصه د الله ده لکه دی آياتونو نه واضحه شوه ـ اوهر چه انباء الغيب (خبر دبعض پټو څيزونو) د اکله انبياء عليهم السلام ته هم دوحی په ذريعه کيږی لکه سورة ال عمران اية۴۴/ ۳پ

ذالك من انباء الغيب نوحيه اليك)د واقعه دعيسی عليه السلام ده دخبرونو دغيبونه وحی کوؤ مونږه ددی تاته ـ

د ارنګی سورة هود اية۴۹ / ۱۲پ

تلك من انباء الغيب نوحيه اليك ماكنت تعلمها انت ولاقومك من قبل هذا

دادی (واقعات د حضرت نوح عليه السلام) دخبرونو دغيبونه مونږ وحی کړی ددی تاته ـ نه وی ته اے حبيبؐ چه پوهيدی په دی نه ته أونه قوم ستا مخکی دوحی نه ـ

او سورة یوسف ایة۱۰۲ / ۱۳پ

ذٰلك من انباء الغیب نوحیه الیك وماکنت لدیهم اذ اجمعوا امرهم وهم یمکرون

دا واقعه دیوسف ؑ دخبرونو دغیبونه مونږ وحی کړی ددی تاته ـ اونه وی ته اے حبیب ﷺ موجود د هغوی سره کله چه هغوی اتفاق کړے وو دخپل کار أو هغوی مکر کولو ـ

دارنګی سورة القصص ایة۴۴ـ ۴۵ـ ۴۶ / ۲۰پ

وماکنت بجانب الغربی اذ قضینا الیٰ موسی الامر وما کنت من الشاهدین .

ولٰکنا انشانا قرونا فتطاول علیهم العمر ، وماکنت ثاویا فی اهل مدین تتلوا علیهم ایاتنا ولٰکنا کنا مرسلین .

او نه وے ته اے حبیب ؐ په طرف دمغرب دکوه طور کله چه سپارلی وه مونږ حضرت موسی علیه السلام ته وحی ، أونه وی ته موجود أود حاضریونونه ـ

لیکن مونږ پید اکړی وی پیړئ نوزیات شوی وو په هغوی عُمرونه ـ اونه وے ته دیره په مدین واله ؤ کښې چه ګنی لوستل دی په هغوی آیاتونه زمونږ لیکن یو مونږ رالیږونکی ـ

اود اکله اولیاء الله ته هم څرګندیږی د الهام اوکرامت په ذریعه لکه د حضرت ابوبکرؓ لور له پید اشوی نه وه او هغه ورته برخه جد اکړی وه ۔ د ارنګی حضرت عمر فاروقؓ په منبر خلقوته خطاب کولو چه بلااختیاره ئ د خلی مبارکی نه د اآواز اُووتو چه یاساریةَ الجَبَل حالانکه د غه صحابی د نهاوند علاقے کښې جهاد کولو چه څوسوه کلومیتر د مدینی نه لری وه اود اآواز هغه ته الله وررسولے وو۔

اود امسئله د علم غیب علماءِ راسخینو هم په خپلو کتابونو کښې وضاحت سره ذکر کړی دی لکه شرح د فقه اکبر ص ۱۵۱ کښې ملا علی القاری الحنفیؒ فرمائی

وَبالجملة فالْعلم بالغیب امرٌ تفرَّد بهٖ سُبْحانَهٗ ولا سبیل للعباد الیه الاَّ باعلامٍ مِّنْهُ والهامٍ بطریق المعجزة اوالکرامة الخ

بالجمله دا چه علم غیب یو امر دی چه په دے باندی یو اځی الله خاص دے اودے څه لاره بندیګانوته نشته مګر د اچه الله خبردارے ورکړی یاالهام ورته وکړی په طریقی د معجزی یاد کرامت

اوبیائ ذکر کړی چه څوك دعوی د علم غیب کوی نود اکافر دی۔ بیا فرمائی

ثم اعلم انَّ الانبياء عليهم الصلوة والسَّلام لم يعلموا المغيبات من الاشياء الاَّ مَا علَّمهم الله تعالیٰ احيانا وذكر الحنفية تصريحا بالتكفير باعتقاده انَّ النبی ؐ يعلم الغيب لمُعارضة قولهٖ تعالیٰ قل لاَّ يعلم من فی السموٰات والارض الغيب الاالله

بیا پوهه شه چه انبياء عليهم السلام په غيبو نه پوهيږی د اشياؤ نه مګر هغه چی الله تعليم ورکړی بعض أوقاتو کښی، او احنافو ذکر کړی دی صراحت سره چه کافر کيږی هغه کس چه د اعقيده ولری چه نبی ﷺ په غيبو پوهيږی دوجی د معارضت د دی آيت نه (چه نه پوهيږی په غيبو هغه مخلوقات چه آسمانونو اوزمکو کښي دی ماسوا د الله تعالیٰ نه) ۔

د ارنګی قاضی خان په حاشيه د عالمګيريه ص ۵۷۶، ۳ ج کښی ذکر کړی دی چه ۔

رجل تزوج امرأة بغير شهود فقال الرجل والمرئة خدائرا وپیغامبر راگواه دارم . قالوا یکون کُفراً لانّه ، اعتقدت انّ رسول الله ؐ یعلم الغیب وهوماکان یعلم الغیب حیث کان فی الاحیاء فکیف بعدالموت .

یوسړی نکاح وکړه دیوی زنانه سره بغیر دګواهانونه سړی اوښځی دواړو اُووی چه الله أو رسول ګواه کوؤ۔ نوفرمائی چه فقهاء ویلی دی چه دا کفر دی ځکه ده داعقیده ولرله چه نبی صلی اللہ علیہ وسلم په غیبو پوهیږی او هغه خو په غیبو نه پوهیدو کله چه وو هغه په ژوندو کښې نوځنګه پوه شود مرګ نه بعد ۔

أو بیایٔ بله جزیه ذکر کړی ده چه که یو سړے اُو وی چه زه په ورك شوؤ او غلاشوؤ څیزونو پوهیږم ۔نو امام محمد بن فضل ؒ وئیلی دیٌ چه دا شخص أو چا چه دده تصدیق وکړو نو هغه کافر دے ۔ د ارنګی واقعه دشداد بن حکیم ؒ ذکر کړی ده چه هغه ښځی وئیلی وو چه زه په غیبو پوهیږم ۔نو شداد د حضرت محمد بن حسنؒ نه تپوس وکړو نو هغه جواب ورکړو چه نکاح تازه کړه ځکه د اښځه په دی په قول کافره شوی ده ۔

د ارنګی علامه شامی په ص۳۲۵ ، ۳ ج کښې ذکر کړی چه وفی البزازیّة یکفر با دّعاء علم الغیب (چه د علم غیب په دعوی سړی کافر کیږی)بیا فرمائی

وحاصله ان دعویٰ علم الغیب حاصل دکلام دادے چه دعوی دعلم دغیب د قرآن د نُصوصو معا رضة لنصّ القرآن فیکفر بها مخالفه ده نو سړے په دی کافر کیږی۔

أو شعراؤ په خپلو أشعارو کښی ددی رد کړیدے (چه څوک غیر الله ته علم غیب ثابته وی)

اگر حاضر ہوتے بہر جا نبیؐ
تو وحی و کشف کی نہ کچھ غرض تھی

اگر ہر زرّہ کے وہ رکھتے خبر
توکیوں زہر کھاتے ننگ خیبر

اگر غیبدان ہیں حضور نبیؐ
بدر کے اُساری میں کیوں رائے لی

قصہّ عائشہؓ کا نہیں تجھ کو یاد
کہ جب افک والوں نے کیاتھا فساد

نبیؐ نے صحابہ سے شوریٰ لیا
بجز وحی حق کے نہ عقدہ کھلا

صدیق ، وفاروق وعثمان ، علی
شوریٰ کے ممبروں سے کیوں رائے لی

اگر غیبدان ہوتے وہ پاکباز
نہ کرتے وہ شوریٰ میں وہ ترک تاز

خدا جاتنا چاہے جتنا دیتا ہے
وہی جتنا چاہے دکھادیتا ہے

وہ غالب نہیں کرتا کل غیب پر
نبی ہو ولی ہو فرشتہ اگر

نبی کو حاضر وناضر کہے
بلا شکِ شرع اس کو کافر کہے

هکذا فی التبیان فی تفسیر ام القرآن (لشیخنا سید عبدالسلام)

(۲) اشراك فی التصرف

دادې ته وئیلے شی چه د غیر الله باره کښې داعقیده ولری چه دے هم مالك د نفع (فائدی) او ضرر دے ۔ دارنګی دے هم اختیارمند دے په ټولو اُمورو کښې فوق الاسباب ۔

الاول اثبات التصرف لله تعالی:

په دے باب کښې هم اول اثبات د تصرف الله تعالیٰ ته لکه سورة البقرة اية ۱۵۶ / ۲ پ

الذین اذا اصابتهم مصیبة قالوا انا لله وانّا الیه راجعون ۔

صبرناك هغه کسان دی چه ورسیږی دوی ته څه مصیبت نو وائی یقیناً مونږه خالص د الله یو او مونږ دغی الله ته واپس کیدونکی یو

دارنګی دسورة البقرة آیة ۲۸۴ / ۳پ

لله مافی السموت والارض

خاص د الله دپاره دی هغه چه دی په آسمانونو کښی دی اوزمکه کښی دی۔

معنی داده چه لله مِلکاً وتصرّفاً وخَلْقاً ، یعنی الله د دی (آسمانونو اوزمکو) مالك دے اودی کښی اختیار مند دے ، اوددی پید اکونکے دے ۔

سورة آل عمران اية۲۶/ ۳پ

قل اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تؤتی الملك من تشآء وتنزع الملك ممَّنْ تشآء ، وتعز من تشآء وتذل من تشآء، بيدك الخير.

اُووايه اے حبيب ! ياالله ته مالك دبادشاهئ ے ورکوے .بادشاهی چاته چه دے خوښه شي اواخلے بادشاهی د چانه چه دخوښه شي عزت ورکوے چاله چه دخوښه شي اوذليل کوے چاله چه دے خوښه شي ستا په لاس کښی تمام خيرونه دی ۔

دارنګی سورة يوسف اية۴۰/ ۱۲پ

ان الحکم الا لله ...... نشته اختيار دفيصلی مګر يو الله ته ۔

سورة الرعد اية۴۱ / ۱۳پ

والله يحکم لامعقب لحکمه...... الله فيصله کوی نشته څوك ردکونکے فيصلی د الله تعالی ته ۔

سورة المؤمنون اية۸۸/ ۱۸پ ۔

قل من بيده ملکوت کل شیءٍ وهويجير ولايُجار عليه ان کنتم تعلمون .

اُووايه اے حبيبؐ څوك دے چه په لاس د هغه کښی بادشاهی د هريوشی ده اودے پناهی ورکوی اودده مقابله کښی څوك چاته پناهی نشی ورکولے که چری تاسوپوهيږئ ،

سورة یٰسٓ ایة۸۳/ ۲۳پ.

فسبحٰن الذی بیدہٖ ملکوت کل شیءٍ وّالیه ترجعون.

پاکي ده هغه ذات لره چه په لاس د هغه کښی بادشاهی د هر یوشی ده اودغی الله ته به تاسو واپس کړی شیٔ۔

اوسورة الشوریٰ ایة۴۹/ ۲۵پ

لله مُلْك السمٰوٰت والارض، یخلق مایشآء، یهب لمن یشآء اناثاً وّ یهب لمن یشآء الذُّکور

خاص الله‌تعالیٰ لره ده بادشاهی دزمکی او د آسمانون پید اکوی هغه چه خوښه ئ شی بخی چاله ئ چه خوښه شی لونړه أوبخی چالره چه خوښه شی ځامن۔

والثانی نفی التصرف عن غیرالله : دویم نفی دتصرف دغیرالله نه ،، په دی باب کښی اول نفی دتصرف دنبی ﷺ نه لکه سورة آل عمران ایة۱۲۸/ ۴ پ

لیس لك من الامر شیءٌ اویتوب علیهم اویعذبهم فانهم ظالمون.

نشته تالره اے حبیبه ؐ دکاڼه ددغه کافرونه څه اختیار یابه الله مهربانی وکړی په دوی یابه عذاب ورکړی بیشکه دوی ظالمان دی

سورة المائدة ایة۴۱/ ۶پ

ومن يّردالله فتنتهٗ فلن تملك له من الله شيئاً

اوهر هغه څوك چه اراده ولري الله دګمراه کولودهغه نوچري به هم ته مالك نشي دده دپاره د الله نه دڅه شي،

سورة الاعراف اية١٨٨ ، ٩ پ

قل لّآ املك لنفسى نفعاً وّلا ضرًّا الا ماشآء الله ، ولوكنت اعلم الغيب لاستكثرت من الخير ومامسّنى السّوٓء ، ان انا الا نذيرٌ وبشيرٌ لقوم يؤمنون.

أووايه اے حبيبؐ څه مالك نه يم دخپل ځان دپاره نه دفائدى رسولوأونه دضرر دفع كولو مګر هغه چه د الله خوښه شى ، اوكه چيرے زه پوهيدے په غيبو (يعنى نه پوهيږم) خامخاډير به مِ جمع كړى وے دځان دپاره دخير دُنياوى نه ، اوماته به تكليف دُنياوى هډو رسيدلے نه وے ، زه نه يم مګر يره وركونكے يم اوزيرے وركونكے دهغه قوم دپاره چه ايمان راوړى -

سورة يونس اية٤٩ ، ١١ پ

قُلْ لآّ امْلِكُ لِنَفْسِىْ ضرًّاً وّلا نفعاً الاّ مَا شآء الله ،

أووايه اے جبيبؐ څه مالك نه يم دخپل ځان دپاره نه دضرر دفع كولو اونه دفائدى رسولو مګر هغه چه د الله خوښه شى ،

سورة الجن اية٢١ / ٢٩پ

قُلْ اِنِّیْ لَآاَمْلِكُ لَكُمْ ضَرّاً وَّ لَا رَشَداً .

اُووايه اُمّت ته دى اے حبيبؑ چه بيشكه زه مالك نه يم تاسونه دضرر دفع كولو اونه دفائدى رسولو۔

(٢) دويم تصرف دتمامو معبودانونه چه علاوه د الله نه دى ، لكه سورة الرعد اية١٦ / ١٣

قُلْ اَفَاتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ اَوْلِيَآءَ لَايَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَانَفْعًا .

اووفرمايه اے حبيبؑ آياتاسو نيولى دى علاوه د الله نه مددګاران اومعبودان ، مالكان نه دى دخپلو ځانونو دپاره هم نه دضرر دفع كولواونه دفائدى رسولو۔

سورة بنى اسرائيل اية٥٦ / ١٥پ

قلِ ادعوا الذين زعمتم من دونه فلا يملكون كشف الضر عنكم ولا تحويلاً

اُووفرمايه اے حبيب ﷺ ځئ راوبلى هغه كسان چه تاسو پرى خيال كوے علاوه د الله ، نه نو دوى خو مالكان نه دى دلرى كو لو دتكليف ستا سو نه ۔أو نه د ا ړؤلو ددى(تكليف اومصيبت)

سورة الفرقان اية۳ / ۱۸پ

واتخذوا من دونه الهة لا يخلقون شيأً وهم يخلقون ولا يملكون لانفسهم ضرا ولا نفعاً ولا يملكون موتاً ولا حيوٰة ولا نشوراً

نیولی دی دے مشرکانو علاوہ د اللہ نہ نور خدایاں دوی نہ شی پیدا کولے څہ شے او دوی پہ خپلہ پیدا کړی شوے دی اودوی مالکان نہ دی د خپل ځانونو دپارہ ضرر دفع کولو او نہ دی فائدی رسولو او نہ دی مالکان د مرګ او نہ دژوند اونہ ددوبارہ راپورتہ کولو

سورة السبا اية۲۲ / ۲۲پ

قل ادعو الذين ز عمتم من دون الله لا يملكون مثقال ذرة فى السموات ولا فى الارض ومالهم فيهما من شركٍ وماله منهم من ظهير.

اُوفرمایہ (دوی تہ) اے نبی ﷺ ځئ راوبلئ هغه کسان چه تاسو پری خیال (د خدائی توب) کوے علاوہ د اللہ نہ دوی مالکان نہ دی پہ مقدار د ذری برنہ پہ آسمانونو کښی او نہ پہ زمکہ کښی او نشتہ دوی لرہ پہ دی (آسمانونو او زمکہ) کښی څه حصه او نشتہ دغے اللہ لرہ دوی نہ څوک امدادی۔

(حضرت شیخ "مولانا محمد طاهر نوّر اللہ مرقدہ) بہ فرمائیل چه دا هغه آیت دی چه مشرك تہ یئ څلور وارہ لاری بندی کړی دی څکه چاتہ ورکړه د څلورو وجونه کېږی یودا چه پہ خپله به ددغی څیز هغه مالك وی دویم مالك به نہ وی خو دغه

ځيز کښې به برخه داروي-درېم دغه ځيز د مالك سره به يئ څه احسان کړے وي -نو هغه به دده احسان دوجې نه شئ ورکړی څلورم مالك به هم نه وی برخې دار به هم نه وی د هغه ځيز مالك سره به مُحسن هم نه وی لېکن سفارش به ئ چليږی (نو دی آيت ورته څلور واړه اطراف بند کړی دی-

او سورة الفطر اية ۱۳،۱۴،۲۲پ

والذين تدعون من دونه مايملكون من قطمير ان تدعوهم لا يسمعوا دعائكم ولو سمعوا ماستجابوا لكم

هغه معبودان باطله چه رابلی (أؤر امدد کوئی) ئے تاسو علاوه د الله نه مالکان نه دی د هغه نری پُوستکی دکجوری دهډوکی که چرے رابلئ (مدد کوئ)تاسودوی نو نه أوری بلنه ستاسوأوکه بالفرض وائي هم ری قبولوالے نه شی کولے ستاسو-

سورة الزمراية۳۸، ۲۴پ

ولئن سالتهم من خلق السموت والارض ليقولن الله، قل افرء يتم ماتدعون من دون الله ان ارادنی الله بضرٍ هل هن كاشفات ضرّهٖ او ارادنی برحمة هل هنّ ممسكٰت رَحْمَتِهٖ.

كه چرے تپوس وكړى ته اے حبيبهٌ د مشركانونه چه څوك دے چه پيدا كړى دى زمكے اوآسمانونه خامخاوائي به دوئي الله ـ نوورته اووايه خبر راكئي تاسوماته د هغه څه باره كښى چه تاسوئ رابلى علاوه د الله نه ـ كه چرے اراده ولرى الله څما باره كښى د څه تكليف نوآيا دوى لرى كونكى دى دے تكليف لره ـ ياكه اراده ولرى مالره (الله) د څه رحمت نوآيا دوى بندونكى دى د مهربانئ د الله ـ

(۳)والثالث نفی التصرف عن جميع الخلق : دريم نفی د تصرف د تمام مخلوقاتونه

لکه سورة المائدة اية۱۷ ، ۶پ

لقد كفر الذين قالوا ان الله هُو المسيح ابن مريم ، قل فمن يملك من الله شيئاً ان أراد أن يهلك المسيح ابن مريم واُمَّه ومن فی الارض جميعا ، ولله ملك السموت والارض وما بينهما ، يخلق مايشاء ، والله على كل شيء قدير ،

بېشکه کافر دی هغه کسان چه هغوی وئیلي وو بیشکه الله هم دغه مسیح دے چه څوے د مریم بی‌بی دے، اُوفرمایه اے حبیبُ نوخوك دے چه مالك به شی دعذاب د الله نه زرّه برکه چری اراده ولری الله د اچه وفات کړی مسیح ابن مریم اومُور دده (مریمؓ) او هغه څوك چه دی په دے زمکه کښی تول

اوخاص د الله دپاره بادشاهی د آسمانونو اودزمکی‌ده اود هغه څه چه په مینځ ددی دواړو کښی دی پیدا کوی الله هغه چه ئ خوښه شی او الله په هریو شی باندی قدرت والا دے۔

اوسورة الانعام اية ۱۷ ، ۷پ

وان يمسسك الله بضر فلاکاشف لهٔ الا هو ، وان يمسسك بخير فهو على كل شيء قدير .

که چرے اورسوی تالره اے حبیب الله څه تکلیف نونشته هیڅ څوك لری کونکے دي لره ، مگر صرف دغه الله دے ۔ اوکه اورسوی تالره څه خیر نودغه الله په هر یوشی باندی قدرت والا دے ۔

سورة یونس اية۱۰۷ / ۱۱پ

وان يمسسك الله بضر فلاكاشف له الا هو ، وان يُّردك بخير فلا رآدَّ لفضله يُصِيْبُ بِهٖ من يشاء من عباده ، وهو الغفور الرَّحيم

كه چرى اورسوى تالره اے حبيبؐ الله څه تكليف نونشته هيڅ څوك لرى كونكے دے لره مګر صرف دغه الله دے ، اوكه اراده وكړى الله ستاباره كښى دخير نونشته څوك واپس كونكے فضل د الله لره ، رسوى الله په دى فضل سره چالره ئ چه خوښه شى دخپلوبنديګانونه اودغه الله بخونكے اومهربان دے ۔

سورة الاحزاب اية۱۷ / ۲۱پ

قل من ذا الذى يعصمكم من الله ان اراد بكم سوٓء اً اواراد بكم رحمةً ، ولايجدون لهم من دون الله ولياً ولانصيراً ،

اُفرمايه اے حبيبؐ څوك دے هغه كس چه بچ به كى تاسو دعذاب دالله نه كه اراده وُلرى الله ستاسو باره كښى درحمت ، اواُوبه نه مُومى دوى ، ځان دپاره علاوه دالله نه نه څوك دوست أونه امدادى

سورة الفاطر اية۲، ۲۲پ
مَا يفتح الله للناس من رحمةٍ فلاممسك لها ومايمسك فلامرسل له من بعدهٖ ، وهوالعزيز الحكيم ،

هغه چه كلاؤ كړی الله خلقوته د څه رحمت نه نونشته څوك بندونكے دی رحمت لره ، أو هغه چه الله ئ بند كړی نونشته څوك كُلاوؤنكي دی لره پس دبندولو د الله نه اودغه الله زوراور او حكمتونوو الادے -

او احاديث هم په دی باب كښی ډير راغلی دی لكه حديث دمُتفق عليه كښی راغلی دی ابوهريره رضی الله عنه فرمائی لمّا نزلت وانذر عشيرتك الاقربين ، دعا النبى ﷺ قريشاً فاجتمعوا قال يامعشر قريش انفسكم لااغنی عنكم من الله شيئاً ويابنی عبدمناف لااغنی عنكم من الله شيئاً ياعباس بن عبدالمطلب لا اغنی عنك من الله شيئاً ، ويافاطمة بنت محمد ﷺ سلينى ماشئتِ من مالى لا اغنی عنك من الله شيئاً . چه هر كله د آيت رانازل شو (وانذر عشيرتك الاقربين) أويره وه اے حبيب خپل خپلوان ستا چه تاته نزدی دی) نونبی ﷺ قريش راوبلل اوراجمع ئ كړل اوورته ئ وفرمائيل چه خپله نيك اعمال كوی زه مود الله دعذاب نه نشم بچ كولے بياځ بنی عبد مناف ته د اسی أوويل بياځ خپل تره حضرت عباس بن عبد المطلب ته د اسی أووی ، بياځ خپل لور بی بی حضرت فاطمے رضی الله عنها ته د اسی أووی چه اے لُوری ځان بچ كره د اور د جهنم نه بيشكه زه مالك نه يم تاسوته دبچ

کولو دعذاب د الله نه زرّه بر -

اوپه حدیث دترمذی أومسند احمد کښې راغلی دی عبد الله بن عباسؓ فرمائي چه زه یوه ورځ د نبیﷺ نه رستو روان وم نوراته یٔ اُفرمائیل اے ماشومه پوهه شه که چرته د اټول خلق راجمع شی داچه تاته فائده درکړی نوفائده نه شی درکولے تاته مګر د هغه شی چه تاتهٔ اللّٰه لیکلی وی - اوکه راجمع شی داچه ضرر درکړی نوضرر نه شی درکولے مګر هغه چه الله درته لیکلے وی -

(۳) شرك فى الدعاء

دعا په لغت کښې نداته وائي لکه سورة البقره اية ۱۷۱/ پ ۲ کښې دارنګې بقره اية ۲۶۰ پ ۳ وقديستعمل بمعنى الحث على قصد الشئ والدعوة اليه كما فى قوله تعالىٰ (رب السجن احب الى مما يدعوننى اليه) يوسف اية ۳۳ پ ۱۲ ، والله يدعو الى دارالسلام ، يونس اية ۲۵ پ ۱۱ ، وقال يقومِ ما لى ادعوكم الى النجاة وتدعوننى الى النار ، مؤمن اية ۴۱ پ ۲۴ اوپه اصطلاح کې سوال الله تعالىٰ والاستعانة والاستغاثة به فى الشدائد والنجاح الحوائج .

شرك فى الدعاء ديته وائي چه غير الله نه فوق الاسباب دعا غواړي، اوددې په اوريدو اوقبول هغه فوق الاسباب قادر وګڼړي.

اثبات الدعاء الله تعالىٰ من جميع الانبياء :

(۱) اول اثبات ددُعا الله تعالى ته دټولو پيغمبرانونه لکه سورة الانبياء اية ۹۰ / ۱۷پ

فا ستجبنا له ووهبنالهٗ يحىٰ واصلحنا لهٗ زوجهٗ ، انّهم كانوا يسٰرعون فى الخيرات و يدعوننا رغباً ورهباً،وكانوا لنا خاشعين

قبول والے کړے وو مونږ زکريا ته اوبخلے موور هغه ته يحىؑ اودرسته کړی مو وه هغه ته بي بي د هغه ، بے شکه وو انبياءؑ چه جلدی به ئ کوله په کارونو دنيکو کښې اوراېللو به ئ مونږ په حالت دميني ، اوديرې کښې أووو دوی (انبياءؑ) زمونږ نه ېريدونکی -

والثانی اثبات الدعاء لله تعالی عن سیدالمرسلین :

(۲) دویم اثبات د دُعا الله تعالیٰ ته دسید المرسلین نهٌ لکه سورة جن ۲۰ / ۲۹پ

قُلْ اِنَّمَا ادعوا ربی ولاأُشرك به احداً

اُوفرمایه اے حبیبﷺ بیشکه زه رابلم خپل رب اونه شریکه ؤم ددی الله سره یوتن۔

والثالث اثبات الدعاء عن الخلیلؑ :

(۳) دریم اثبات د دُعا الله تعالی ته د حضرت ابراهیم علیه السلام نه لکه سورة مریم ایة۴۸ / ۱۶پ

وَاَعْتَزِلکم وماتدعون من دون الله وادعوا ربّی عسیٰ ان لااکون بدعاء ربّی شقیاً .

(فرمائیلی ووحضرت ابراهیم علیه السلام) زه جدا یم تاسو نه اے مشرکانو اوهغه چه تاسو ئ رابلئ علاوه د الله نه اوزه رابلم خپل رب ، نزدی ده داچه نه به شم زه په دُعا غوښتلو دخپل رب نه محروم۔

والرابع اثبات الدعاء عن موسیؑ :

(۴) خلورم اثبات د دعا الله تعالیٰ ته د حضرت موسیٰؑ نه لکه سورة الدّخان ایة۲۲ / ۲۵پ

فدعا ربَّهٗ ان هؤلاء قومٌ مُّجرمون

نو دُعا غوښتلی وه موسیٰؑ دخپل رب نه چه بیشکه دا یوقوم دے مجرمان۔

والخامس اثبات الدعاء عن نوحؑ :

(۵) پنځم اثبات د دُعا الله تعالي ته د حضرت نوحؑ نه لکه سورة القمر اية ۱۰ / ۲۷ پ

فدعا ربه انی مغلوب فانتصر

دُعا غبنتی وه نوحؑ د خپل رب نه چه بیشکه زه کمزورے شوے یم نوته مې امداد وکړی

والسادس اثبات الدعا لله تعالیٰ عن زکریاؑ :

(۶) شپږم اثبات د دُعا الله ته د حضرت زکریاؑ نه لکه سورة ال عمران اية ۳۸ / ۳ پ

هُنَالِكَ دعا زکریا ربه

په دغه وخت کښی یاپه دغه ځای کښی دُعاغوښتی وه زکریاؑ د خپل رب نه۔

او الله ربّ العزت خپله ترغیب ورکړیدے د دُعا په باره کښی لکه سورة البقره اية ۱۸۶ / ۲ پ

واذاسأَلك عبادى عنّى فانى قريب ، اُجيب دعوة الدَّاع اذادعَان فَلْيَستَجيبوا وَلْيُؤمنوا بى لعلهم يَرْشدون .

کله چه تپوس وکړی تانه اے حبیبؐ بندیګان ځما په باره ځما کښې نوبیشکه زه نزدی یم په اعتبار دعلم قبلوم دُعا ددُعاکونکی کله چه دے ځما نه دُعا اُوغواړی نوپکار دی چه دوی قبلوالے وکړی د اجابت ځما اودوی دِی همیشه ایمان اُوساتی په ما دی دپاره چه دوی لار اوموهی ۔

د ارنګی سورة بنی اسرائیل اية ۱۱۰ / ۱۵ پ

قُل ا دعوالله اوا دعوالرحمن اَیَّامَّا تدعوا فلهُ الاسماء الحسنیٰ

اُوفرمایه اے حبیبؐ رااُوبلے الله په نوم د الله سره یاپه نوم درحمٰن سره په کوم یونوم ئ چه رابلئی تاسونو دغی الله ته نومونه دی خائیسته خائیسته

د ارنګی سورة الفرقان اية ۵۹ / ۱۹ پ

الرحمن فاسئل به خبیراً

الله ډیر مهربانه ذات دے نوتپوس وکړه دده باره کښې د هغه چانه چه هغه خبرد ار دے

اوسورة المؤمن اية ۶۰ / ۲۴ پ

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْ اَسْتَجِبْ لَكُمْ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْ خُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ .

وئیلی دی رب ستاسو راوبلے ما قبولوالے به کوم ستاسو دفریاد بیشکه هغه کسان چه تکبر کوی ددُعا ځما نه زردے چه ورد ننه به شی جهنم ته ذلیل او رسوا۔

او سورة الطور اية۲۸/۲۷پ

اَنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ اِنَّهُ هُوَ الْبَرُّالرَّحِيْمُ

(جنتیان به جنت کښی وائی) بیشکه وو مونږ ﷺ ددینه مخکښی چه الله به مو رابللو بیشکه دغه الله احسان کونکے أو مهربان دے

(۲) دویم نفی ددعا دغیر الله نه۔ لکه سورة یونس اية۱۰۶/۱۱پ

وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ اِذًا مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ .

مه رابله اے مخاطبه سیوا د الله نه هغه چالره چه نه فائده درکولے شی تاته أو نه درنه ضرر دفع کولے شی۔که چری د اکار د ی وکړو نو بیشکه ته به په دغه وخت کښی د ظالمانو نه یئ

او سورة هود اية۱۰۱/۱۲پ

وَمَا ظَلَمْنٰهُمْ وَلٰكِنْ ظَلَمُوْا اَنْفُسَهُمْ فَمَا اَغْنَتْ عَنْهُمْ اٰلِهَتُهُمُ الَّتِیْ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ لَّمَّا جَآءَ اَمْرُ رَبِّكَ

او مونږ ظلم نه ووکړی په هغوی (په هلاك شوؤ قومونو)لیکن هغوی ظُلم کړے وو په خپلو ځانونو ـنو هیڅ دفع کړے نه وو د هغوی نه معبودانو ددوی هغو چه دوی به رابلل علاوه د اللّٰهنه څه شے هر کله چه راغلے وو حکم(دعذاب) درب ستا ـ

سورة النحل اية ۲۰/۱۴ پ

وَالَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا یَخْلُقُوْنَ شَیْئًا وَّهُمْ یُخْلَقُوْنَ.

هغه کسان چه رامدد کوی ئیے مشرکان علاوه د اللّٰه نه دوی نشی پیدا کولے څه شے أو دوی خپله پیدا کړی شویدی

سورة الحج اية۷۳/۱۷ پ

اِنَّ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ یَّخْلُقُوْا ذُبَابًا وَّ لَوِاجْتَمَعُوْا لَهٗ وَاِنْ یَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَیْئًا لَّا یَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ

ببشکه هغه کسان چه تاسوې رابلی علاوه د اللّٰه نه چری هم نشی پیدا کولے یو مچ اګر که د اتول راجمع شی دپاره ددی پیدا کولو دیو مچ ـ اوکه چری او تختوی مچ ددوی نه یو شے نو خلاصولے نه شی دوی د اشے ددی مچ نه ـ کمزورے دے غُبنتونکے د داسی مخلوقاتو نه ـ أو د هغه چانه چه غبنتل کیدے شی ـ

سورة المؤمنون اية۱۱۷/۱۸پ

وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ .اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ .

أو هغه چا چه راوبللو د الله سره معبود بل ـنشته څه دليل هغه سره په دی خبره ـنو بيشکه حساب دده به دده درب سره وی بيشکه شان د ادے کاميابيږی نه کافران ـ

سورة الفاطر اية۱۳/۲۲پ

وَالَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مَا يَمْلِكُوْنَ مِنْ قِطْمِيْرٍ.

هغه کسان چه تاسو يئ رابلئ علاوه د الله نه هغوی مالکان نه دی دنری پُستکی دکجوری د هډوکی ـ

سورة الاحقاف اية۵/۲۶پ

وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَائِهِمْ غٰفِلُوْنَ .

نشته لوئ گمراه د هغه چانه چه رابلی علاوه د الله نه هغه چا لره چه قبولوالے نه شی کولے ده لره دورځی دقيامت پوری أودا خدايان ددوی دبلنی ددوی نه نا خبره دی ـ

سورة الجن ایة ۲۰/۲۹پ

قُلْ اِنَّمَا اَدْعُوْا رَبِّیْ وَلَا اُشْرِكُ بِهٖۤ اَحَدًا

اُووایه اے حبیب ؐ بیشکه زه رابلم رب خپل او زه نه شریکوم ددی الله سره هو تن لره۔

نو خپلو حاجتونو کښې غیر الله نه فوق الأسباب دُعا غښتل د اشرك فی الدعا دے۔نو همد ارنګی یارسول الله ویل په دی عقیده چه هغه حاضر او ناظر دے او څما په حاجت پوره کولو قادر دے نو داخو شرك اکبر دے که چری د اعقیده نه وی نو بیا هم داسی الفاظ وئیل جائزنه دی۔لکه فتاوی دارالعلوم دیوبند کښی مفتی عزیز الرحمن ؒ نه تپوس شویدے په ص ۱۰۵/ج ۱ کښی چه یارسو ل اللہ کہنا کیسا ہے "نو جواب کښی فرمائی یا رسول اللہ کہنا سوائے درود شریف کے دوسرے موقعہ پر نہیں چاہئیے۔

د ارنګی فتاوی رشیدیه ص ۲۱۶/و ۲۱۷ کښی ذکر کړیدی "اگر کسی کا یہ عقیدہ ہے کہ نبی علیہ الصلوٰۃ والسّلام خود خطاب سلام کا سنتے ہیں وہ کفر ہے خواہ السلام علیک کہے یا السلام علی النبی کہے اور صفحہ نمبر ۲۱۷، میں فرماتے ہیں کہ حضرت ﷺ کو علم غیب نہ تھا۔نہ کبھی اس کا دعویٰ کیا اور کلام اللہ شریف اور بہت سی احادیث میں موجود ہیں کہ آپ عالم الغیب نہ تھے۔اور یہ عقیدہ رکھنا کہ آپ کو علم غیب تھا صریح شرک ہے د ارنګی په صفحه ۱۷۶ کښی تری نه سوال شویدی چه.

یارسول اللہ دور سے یا نزدیک قبر شریف سے پکارنا جائز ہے یا نہیں۔جواب جب انبیاءؑ کو علم غیب نہیں تو یارسول اللہ ﷺ کہنا بھی ناجائز ہوگا اگر یہ عقیدہ رکھ کر کہے کہ وہ دُور سے سنتے ہیں بسبب علم غیب کے تو خود کفر ہے اور جو یہ عقیدہ نہیں رکھتے تو کفر نہیں مگر

کلمہ مشابہ کفر ہے ۔د ارنگکی پہ درس ترمذی کښې مولانا مفتي محمد تقي عثماني مدظله صاحب ذکر کړيدی په ص ۲۵۳، ۳ ج کښې چه

مروّجہ صلوٰۃ وسلام اور اس کی شرعی حیثیت

بعض مساجد میں کچھ لوگ ایسا کرتے ہیں کہ نمازوں کے بعد (بالخصوص نماز جمعہ کے بعد) التزام کے ساتھ جماعت بنا کر اور کھڑے ہو کر باآواز بلند بالفاظ ذیل صلوٰۃ وسلام پڑھتے ہیں "صلی اللہ علیک یارسول اللہ، سلامٌ علیک یارسول اللہ" وغیرہ ان میں سے بہت سے لوگوں کا یہ عقیدہ ہوتا ہے کے رسول اللہ ﷺ اس جگہ تشریف لاتے ہیں یا ہر جگہ حاضر وناظر ہیں۔اس لئے آپ خود سنتے اور اس کا جواب دیتے ہیں۔جو لوگ ان کے عمل میں شریک نہیں ہوتے ان کو مطعون اور طرح طرح سے بدنام کرتے ہیں، جس کے نتیجہ میں عموماً مسجدوں میں نزاع اور جھگڑے پیدا ہوتے ہیں، خاص طور سے ہمارے پُر فتن دور میں، واضح رہے کے یہ طریقہ کھلی ہوئی بدعت اور گمراہی ہے "۔بیائ ذکر کړی دی پھر جہاں تک درود وسلام میں خطاب کے الفاظ یارسول اللہ، یانبی اللہ،، وغیرہ کا استعمال کرنے کا تعلق ہے۔سو یہ عمل اگر اس عقیدہ سے ہو کہ جس طرح اللہ تعالیٰ ہر جگہ حاضر وناظر اور ہر زمان ومکان میں موجود ہیں۔اور کائنات کی ہر اواز کو سنتا اور ہر حرکت کو دیکھتا ہے اسی طرح "معاذاللہ" رسول کریم ﷺ بھی ان خدائی صفات میں شریک ہیں۔یہ کھلا ہوا شرک اور نصاریٰ کی طرح رسول کو خدا کا درجہ بنا دینا ہے اگر یہ عمل (یعنی خطاب وقیام) اس عقیدہ سے ہو کہ رسول کریم ﷺ س مجلس میں تشریف لاتے ہیں تو ایسا ہونا گو بصورت معجزہ ممکن ہے مگر اس کیلئے

ضروری ہے کے قرآن یا حدیث سے اس کا ثبوت ہو، حالانکہ کسی آیت یا حدیث میں قطعاً اس کا ذکر نہیں۔اور بغیر ثبوت ودلیل اپنی طرف سے کوئی معجزہ گھڑ لینا رسول کریم ﷺ پر افتراء ہے اور ایسا کرنے والا آپ ﷺ کے فرمان من کذب علیّ متعمداً فَلْيَتَبَوَّأْ مقعدہٗ من النّار۔ کا مصداق ہے۔اور اگر مذکورہ دونوں میں سے کوئی عقیدہ بھی نہ ہو تب بھی موہم شرک ہونے کی وجہ سے ایسے الفاظ ممنوع ہیں اس لئے ان سے بھی اجتناب ضروری ہے۔

(۴) شرك فی العبادة

شرك فی العبادة دیته وائی چه عباداتِ الله نه سیوا بل چا ته أدا کول لکه رکوع سجده، طواف وغیره بل چاته کول۔

(۱) په دی باب کښی هم اول هغه آیا تونه چه هغی کښی اثبات دعبادت دے الله تعالی ته لکه سورة البقره ایة ۲۱/۱پ

یٰأَیُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّکُمُ الَّذِیْ خَلَقَکُمْ وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِکُمْ لَعَلَّکُمْ تَتَّقُوْنَ.

اے خلقوا یواځی عبادت اوبندګی وکړے درب ستاسو هغه ذات چه پیدا کړی ئے تاسو او هغه کسان چه تاسونه مخکی وو دی دپاره چه تاسو تقوٰی دار جوړ شیٔ۔

اوسورة النسآء ایة ۳۶ / ۵پ

وَاعْبُدُوْا اللهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَیْئًا

یواځی دالله بندګی أو عبادت کویٔ ۔أومه شریکه وے ددغی الله سره څه شے۔

أو حضرت عبد الله بن عباس ؓ فرمائی کلُّ عبادةٍ فی القرآن فهی توحید ـ (قرآن کښی چه هر ځایٔ کښی(عبادت)ذکر شی نو دی نه به توحید مراد وی)

او سورة الأعراف اية۵۹/۸پ

لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوْحاً اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَالَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ.

قسم دے بیشکه رالیږلے وو مونږ حضرت نوحؑ خپل قوم ته فرمائیلی وو اے څما قوم یو ائحی د الله عبادت کوئ نشته تاسو دپاره هیڅ څوك حق دارد عبادت غیر د الله نه ۔

او سورة الأعراف اية۶۵/۸پ

وَاِلٰى عَادٍ أَخَاهُمْ هُوْداً قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَالَكُمْ مِّن اِلٰهٍ غَيْرُهٗ.

أو عادیانو ته مورالیږلے وونسبی رور د هغوی حضرت هودؑ وئیلی وو هغۀ اے څما قوم د الله عبادت کوئ ۔نشته تاسو دپاره بل معبود علاوه د الله نه۔

دارنګی سورة الأعراف اية۷۳/۸پ

وَاِلٰى ثَمُوْدَ أَخَاهُمْ صٰلِحاً قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَالَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ.

او ثمودیانو ته مورالیږلے وو یو د هغوی نه حضرت صالحؑ ۔فرمائیلی وو هغه اے څما قوم یو ائحی د الله بندګی کوئ نشته تاسودپاره هیڅ څوك حق دار دعبادت علاوه د الله نه۔

د ارنګی سورة الأعراف اية ۸۵/۸پ

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْباًقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَالَكُمْ مِّن إِلٰهٍ غَيْرُهُ.

او .مدین والو ته مورالیږلے وو نسبی رورد هغوی شعیبؑ فرمائیلی وو اے ځما قومه یوائحی د الله عبادت کوئی ـ نشته تاسو لره هیڅ څوك حق دار د عبادت غیر د الله نه ـ

او سورة النحل اية ۳۶/۱۴پ

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ أُمَّةٍرَّسُوْلًا أَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ .

بیشکه رالیږلے وو مونږ په هریو اُمت کښې رسول داچه د یو الله عبادت وکړئ أو ځانونه بچ کړئ د عبادت د غیر الله نه

او سورة الانبيآء اية ۲۵/۱۷پ

وَمَآاَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْ اِلَيْهِ أَنَّه لَا اِلٰهَ اِلَّا أَنَا فَاعْبُدُوْنِ.

أونه وو رالیږلی (مونږه) ستا نه مخکښې اے حبیب ﷺ هیڅ رسول مګر وحی به مو کوله هغه ته چه بیشکه نشته بل د عبادت لائق مګر یوائحی زه یم یوائحے ماته عبادت وکړئ۔

أو سورة يٰسٓ اية ۶۱/۲۳پ

وَأَنِ اعْبُدُوْنِيْ هٰذا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ

أوداچه عبادت به کوئ یوائحی ځما ـ د اده لاره نیغه ـ

(۲) والثانی نفی العبادة عن غیره تعالیٰ :

دویم هغه آیا تونه چه هغی کښې نفی د عبادت ده ماسیوا د الله نه

لکه سورة ال عمران اية ۳/۶۴پ

قُلْ يٰاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهٖ شَيْئًا وَّلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ

اُوفرمايه اے حبيب ﷺ اے كتابيانو راشئ يو كلام ته چه برابر دے په مينځ زمونږ او ستاسو كښى دا چه عبادت به نه كوو مګر د يو الله او نه به شريكو ددغى الله سره څه شے او نه به نيسى بعض زمونږ نه بعض لره خُدايان علاوه د الله نه ـ

او سورة الانعام اية ۷/۵۶پ

قُلْ اِنِّىْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ .

اُووايه اے نبیؐ بے شكه زه منع كړے شوے يم دا چه عبادت وكړم د هغه كسانو چه تاسو ئ رابلئ علاوه د الله نه ـ

او سورة يونس اية ۱۱/۱۰۴پ

قُلْ يٰاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِىْ شَكٍّ مِّنْ دِيْنِىْ فَلَا اَعْبُدُ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ اَعْبُدُ اللّٰهَ الَّذِىْ يَتَوَفّٰكُمْ وَاُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ.

ورته اُوفرمايه اے حبيب ﷺ اے خلقو كه چرته ئ تاسو په شك كښى ددين ځما نه نوزه عبادت (بندګى) نه كوم د هغه كسانو چه چه تاسوئ عبادت كوئ علاوه د الله نه ليكن زه عبادت كوم ہو اځى د الله هغه ذات چه تاسو به وفات كړى ـ او ما ته حكم كړے شويدے دا چه شم زه د مومنا نو نه ـ

او سورة یوسف ایة ۴۰ ۱۲/ پ

مَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اَسْمَاءً سَمَّیْتُمُوْهَا اَنْتُمْ وَآبَآؤُکُمْ مَّا أَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطَانٍ اِنِ الْحُکْمُ اِلَّا لِلّٰهِ أَمَرَ اَلَّا تَعْبُدُوْا اِلَّا اِیَّاهُ، ذٰلِكَ الدِّیْنُ الْقَیِّمُ وَلٰکِنَّ اَکْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ .

تاسوعبادت نه کوئ علاوه ده الله نه مگر د څه خاوند انودنومونوچه تاسو ورته ایښودی دی یا پلارانو ستاسو نه دے رالیږلے الله په عبادت ددوی هیڅ دلیل نشته اختیاردفیصلی مگر خاص الله ته دے الله حکم کړے داچه عبادت به نه کوئ مگر خاص ددغی الله ـ دا هغه دین مضبوط دے لیکن ډیر د خلقو نه پوهیږی نه ـ

او سورة بنی اسرائیل ایة۲۳/ ۱۵ پ

وقضٰی ربك الا تعبدوا الاَّ ایّاهُ

او فیصله او حکم کړے دے رب ستا داچه عبادت به نه کوئ مگر خاص ددغی الله

اوٗ سورة المؤمن ایة۶۶/ ۲۴ پ

قُلْ اِنِّیْ نُهِیْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَمَّا جَاءَنِیْ الْبَیِّنٰتُ مِنْ رَّبِّیْ وَاُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ .

اُوفرمایه اے حبیب ﷺ چه بے شکه زه منع کړے شوے یم داچه عبادت وکړم د هغه کسانو چه تاسو ی رابلئ علاوه د الله نه هر کله چه راغلی دی ماته سر گند دلائل د طرفه درب څما نه ـ او ماته حکم کړے شویدے داچه تابع کړم څان خپل ، دپاره دپالونکی دتمامو مخلو قاتو ـ

بیا د عبادت ګنړ قسمونه دی لکه حافظ ابن قیم جوزی ؒ په قصیده النونیه کښی ذکر کړی دی په اشعارو کښی۔

اَلرَّبُّ رَبٌّ والرَّسول فعبدهٗ حقًّا

ولیس لنا اِلٰه ، ثان

لله حقٌّ لایکون لغیرهٖ

ولعبدهٖ حقٌّ هما حَقَّان

فالْحَجَّ للرَّحمٰن دون رسولهٖ

وکذاالصلوٰة وَذَبْحُ ذا الْقِربان

وکذا السجود ونَذْرُنَا ويَمينُنا

وکذا متابُ العبد من عصیان

وکذا التوکل والانابة والتُّقٰی

وکذا الرَّجآء وخشیت الرَّحْمٰن

وکذالعبادة واْستعَانَتُنَا بهٖ

ایَّاك نعبد ذان توحیدان

وعلیها قام الوجود باسره

دُنیا واُخریٰ وحَبَّذا الرُّکبان

وکذا التسبیح والتکبیر والتَّهلیلُ

حقٌّ الٰهنا الدَّیَّان

لٰكنما التعظيم والتوقير
حقٌّ للرّسول بمقتضى القرآن
والحبّ والايمان والتصديق لا
يختصّ بل حقّان مشتركان
هٰذه تفاصيل الحقوق ثلٰثةٌ
لايجهلوها ياأُولى العدوان

رب خورب دے اورسول ئ بنده دے په حقّه سره اونشته مونږ دپاره بل اله، د الله دپاره حق دے چه نشته بل چاته د لسى حق اود الله دبنده دپاره هم حق دے. نود ادوه حقونه ډى نوحج درحمٰن ذات دپاره دے علاوه درسول ؐ نه د ارنگى مونځ حق د الله دے اوقُربانى كول د لرنگى سجده كول اونذر زمونږه اوقسم زمونږ ه د ارنگى توبه دبنده دگناه نه د اهم درحمٰن حق دے د ارنگى تؤكل، انابت، أويره۔ د ارنگى اُميد أويره درحمٰن نه د اهم درحمٰن حق دے د ارنگى عبادت، أو مدد غوښتل زمونږ د الله نه چه خاص ستا عبادت كوؤ مونږ د ادواړه توحيدونه دى أويه دى دواړو باندى قائم دے تول وُجود دُنيا اوآخرت او ډير ښه ده د لسُورلئ لېكن تعظيم اوتوقير د احق درسول ؐ هم دے په مقتضى د قرآن كريم سره۔

اومحبت كول، اوايمان اوتصديق د اخاص نه دے د الله پورى بلكه ددواړو مُشترك حقونه دى د اتفصيل دے ددريو حقونو مه هيره وى دے لره لے دُشمنانو۔

بیاشرك فعلی أوعملی په دوه قسمه دے

(۱) التحریم لغیر الله (۲) النّذر لغیر الله

(۱) تحریم لغیر الله: دی ته وائی چه عقیده وساتی د حرمت د هغه څیزونو چه الله حلال کړیدی دوجی دیری ، یادځان دنزدی کولوډوجی نه غیر الله ته ، اوپه تعریف ددی کښی ډیرو خلقو ته خطا واقع شوی ده ، نومُراد په تحریم لغیر الله سره د انه دے چه ګنی الله یوشیٔ حلال کړے هغه حرام ګنړل یاالله یوشیٔ حرام کړے هغه حلال ګنړل اګر چه د ځان ته جد اکفر دے۔

لکه سورة المائدة ایة۸۷/۷پ

يٰٓاَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَاتُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآاَحَلَّ اللهُ لَكُمْ وَلَاتَعْتَدُوْا .

اے ایمان والوحرام مه ګنړئ پاك څیزونه هغه چه حلال کړی دی الله تاسو ته اوزیاتے مه کوئ۔

د ارنګی سورة المائده ایة۱۰۳/۷پ

مَا جَعَلَ اللهُ مِنْۢ بَحِيْرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ وَّلَا وَصِيْلَةٍ وَّلَا حَامٍ وَّلٰكِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللهِ الْكَذِبَ وَاَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ .

نه ده ګرځولی الله (حرامه) دبُحیری اُوښی نه اونه دسائبی اُوښی نه اونه د وصیلی اُوښی نه او نه د حام اُوښ نه لیکن هغه کسان چه کافر دی جوړوی په الله باندی دروغ أو ډیر ددوی نه عقل نه لری۔

امام بخاریؒ د سعید بن المصیبؒ قول ذکر کړیدے چه

بُحیره به هغې اُوښه وه چه د هغې شودې (پیۍ)به یٔ په ځانونو حرامی کړې أو بیا به هغه چا لشله نه او د خپلو معبودانو په نوم به یٔ خوشې کړه (أو غوبن به یٔ ورته سپرې کړو)

او سائبه به هغه أوښه وه چه د هغې به لس بچې پیدا شول .نو د خپلو خدایانو په نوم به.دو ی پریښوده نوبیا به یٔ په دې سورلیٔ وغیره نه کوله۔

أووصیله به یٔ هغې أوښې ته وئیل چه د هغې به پے درپے دوه مؤنث بچې پیدا شول أو مینځ کښې به یٔ مذکر نه وو نو مشرکانو به د خپلومعبودانو په نوم خُشې کړه ۔

أو حام به هغه مذکر أوښ وو چه د هغه دشانه به لس أوښې حاملې شوې نو دوې به وئیل ''حمیٰ ظهره ''چه د خپله شا بچ أُساتله ۔نو د خپلو معبودانو په نوم به یٔ خشے پریښودو ۔

(أواحسن الفتاوی ذکر کړیدی چه حکم د بحیری ، سا ئبی، وصیلی ، او حام په شان ذ نذر د غیر الله نه دے بلکه ددی نه فائده اغستل جائزدی لیکن په شرط د اذن (اجازت)د هغه مالك ځکه ملك ددۀ ددی)۔

د ارنگی سورة الانعام اية۱۳۸/۸پ

وَقَالُوْا هٰذِهٖ اَنْعَامٌ وَّحَرْثٌ حِجْرٌ لاَّ يَطْعَمُهَا اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا وَاَنْعَامٌ لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللهِ عَلَيْهَا افْتِرَاءً عَلَيْهِ سَيَجْزِيْهِمْ بِمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ....

وئیلی وو مشرکانو دا څنا وردی أو فصل دے چه بند دی نه به خوری دی لره مگر هغه څوك چه زمونږ خو ښه ښی دخپل خیال مطابق أو نور څناور وو چه حرامی کړی شوی شا ګانی د هغی ،او نور څناور وو چه نه أخلی نوم د الله په هغی باندی دا دوی دروغ جوړ کړی دی‌په الله -زر دے چه سزا ددے به ورکړی دوی ته په هغه څه چه وو دوی د ځان نه جوړ ؤ نکی -

او سورة الأعراف اية۳۲/۸پ

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللهِ الَّتِيْ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ .

أُوفرمایه اے حبیبؐ څوك دے چه حرامی کړی دی دزینت جامی (کپړی) هغه چه را ایستی دی الله خپلو بندیګانو ته أو هغه پاك درزقونونه -

سورة یونس ایة۵۹ ۱۱/ پ

قُلْ اَرَئَيْتُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ لَكُمْ مِّنْ رِّزْقٍ فَجَعَلْتُمْ مِّنْهُ حَرَامًا وَّحَلٰلًا قُلْ آٰللّٰهُ اَذِنَ لَكُمْ اَمْ عَلَى اللّٰهِ تَفْتَرُوْنَ.

أوفرمایه اے حبیب ؐ خبر راکئی ماته د هغه څه باره کښې چه رانازل کړے الله تاسو ته د رزق نه نو ګرځولی دی تاسو ددېنه حرام او حلال اوفرمایه اے حبیبؐ آیا الله حکم أ و اجازت کړېدے تاسو ته ددی یا که په الله با ندے تاسو دروغ جوړ وی۔

أو سورة النحل ایة۱۱۴ ۱۴/ پ

فَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا وَّاشْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ.

نو خورئ تاسو د هغه څه نه چه رزق درکړېدے تاسو ته الله حلال او پاك او شکر ادا کړئ د نعمت د الله که چرې ئے تاسو خاص د غی الله ته چه عبادت کوے۔

اُوس په دی وخت کښې د تحریم لغیر الله مثال لکه بعض وائی داد فلانی شهیدیا ولی بابا وغیره سېرئ ده هغې کښې ښکار کول حرام ګڼړی۔بعض وائی د محرم په لسو ورځو کښې به واده نه کوی بعض وائی په مونږه د تور رنګ کپړه ښه نه راځی وغیره ۔دا ټول تحریمات لغیر الله دی ۔أو زیات تفصیل اووضاحت ددی مسئلی شیخ القرآن مولانا غلام الله خانؒ په مقدمه د جواهر القران ص۴۲ کښې کړېدے فرمائی : تحریمات غیر

اللہ کا بیان، جس طرح اللہ تعالی نے بعض حلال طیب چیزوں کو بعض خاص مقامات میں مذکورہ بالا مقصد کے پیش نظر حرام کر دیا ہے اسی طرح مشرک لوگ اس کے بالمقابل مرے ہوئے بزرگوں کی قبروں پر سے درخت اور گھاس کاٹنااور شکار کرنا حرام سمجھتے ہیں بعینہ اس علت کے ماتحت جو تحریمات اللہ میں بیان کی گئی ہے۔ یعنی غیبدان نافع وضار خیال کر کے ان مرے ہوئے بزرگوں کو غیبدان نافع خیال کر کے یہ کام یعنی درخت وغیرہ نہ کاٹنا، اور کاٹنے والے کو برا جاننا تحریماتِ غیر اللہ ہے۔۔۔الخ

(۲) النّذر لغیر اللہ .

دا دویم قسم دے د شرك فعلي اوعملي
په دی عنوان کښې اول ـ هغه آیا تو نه چه هغی کښې اثبات د نذر دے اللہ تعالیٰ ته
لکه سورة آل عمران ایة ۳۵/۳ پ

اِذْ قَالَتِ امْرَاَتُ عِمْرٰنَ رَبِّ اِنِّیْ نَذَرْتُ لَكَ مَا فِیْ بَطْنِیْ مُحَرَّراً فَتَقَبَّلْ مِنِّیْ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ .

کله چه وئیلی وو بی بی د حضرت عمران ؒ اے ځما ربه بیشکه ما نزر منلے دے تا ته د هغه بچی چه په خیټه ځما کښې دے دے به ستا د دین د پاره آزاد کړے شوے وی نو قبول ئ کړی ځمانه بیشکه ته ئ اور بدو نکے أو پو هه ئ۔

او سورة البقرة ۱۰ اية۲۷۰ /۳ پ

وَمَا اَنْفَقْتُمْ مِّنْ نَّفَقَةٍ اَوْ نَذَرْتُمْ مِّنْ نَّذْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُهُ.

أو هغه چه لګوئ تاسو د څه مال لګولو نه یانذر منئ د څه نذر منلو نه نو بېشکه الله پو هېږی په هغی۔

او سورة مريم ٦ اية۲٦/۱٦ پ

فَقُوْلِيْ اِنِّيْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْماً فَلَنْ اُكَلِّمَ الْيَوْمَ اِنْسِيًّا.

نو اُوو ايه اے مريم بی بی په اشارے چه بېشکه ما نذر منلے دے رحمن ته دروژے د چپوالی نو هرګز به خبری نه کوم نن ورځ د هيڅ يو بنيادم سره ۔

أو سورة الحج اية۲۹/۱۷ پ

ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ...

بيا ددے دپاره چه حاجيان لری کړی خېرے خپل او پوره والے وکړی په خپلو نذرونو باندی اودی دپاره چه طواف وکړی په هغه کور کښېٓ زوړ أو ازاد دے

(۲)دویم هغه آیاتونه چه هغی کی رددی په نظر دغیر الله لکه سورة البقرة اية۱۷۳/ ۱ پ

اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنْزِيْرِ وَمَا اُهِلَّ بِهٖ لِغَيْرِ اللّٰهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَا اِثْمَ عَلَيْهِ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ الرَّحِيْمَ ....

بیشکه حرام کړی الله په تاسو مرداره وینه بهیدلی شوی او غوښه د خنزیر او هغه چه اواز پورته کړی شوی وی په هغی دپاره دنزدیکت دغیر الله نو هغه څوك چه محتاج کړی شو او نه وی نا فرمانی کونکے او نه زیاتے کو نکے نو نشته څه ګناه په هغه بیشکه الله بخونکے او مهربان دے۔

(اِنَّمَا حَرَّمَ) اِنَّمَا خود حصر دپاره راځی او دلته څلور محرمات ذکر شونو ولی محرمات په دی څلور کښی څه منحصر دی څه نه ـجواب دادے چه دلته حصر حقیقی نه دے مراد بلکه حصر اضافی مراد دے مقصد دادے چه مشرکانو به خصوصًا د احلال کنړل نوحکم د شریعت راغلو چه حرام که دی نو هم دادی۔

"مَااُهِلَّ "په دی ما کښی دری احتمالات دی(۱)یو داچه ما عبارت دے د مذبوحی نه خوبیا اشکال واردېږی چه ماخو عامه ده نو ددے تفسیر کښی تخصیص دڅه وجی نه راغلو نووائي عرف اورواج نه الجواب کماذکره نوبه مقدمه دتفسیرجواهرص(۵۰)کښی فرمائی شاه عبد العزیزؒ نے اپنی تفسیر عزیزی میں فرمایا ہے کہ ما عام ہے اور رواج اس کا مخصص نہیں بن سکتا۔لہذا ما سے مراد عام لیا جائے گا خواہ جانور ہو یا غلہ مٹھائی ہو یا کوئی

اور چیز غیر اللہ کے تقریب کیلئے دی جائے وہ سب اس میں شامل ہیں۔او بناء په دی توجیه بِہٖ په معنی د علیه ده (۲) دویم داچه ما عامه ده که مذبوحه وی اوکه غیر مذبوحه وی بناء په دی توجیه هم بِہٖ په معنی د علیه ده ۔

(۳) دریم داچه علامه حسین علی ؒ فرمائی ما عبارت د هغه کلیمی نه چه ما اهل به لغیر الله ده دی کښې بِہٖ په خپله معنی ده أو د اهلال معنی' رفع الصوت' "آواز پورته کول"

او سورة المائده ۳/۶پ

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيْحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ

حرام کړی شوی دی په تاسو مردار او وینه بهیدلي شوی او غوښه د خنزیر او هغه شے چه آواز پورته کړے شوے وی په هغی دپاره دتعظیم د غیر الله او هغه ځانسی کړی شوی اوتکولی شوی اودغر نه راغرځولی شوی او په ښکر وهلی شوی او هغه چه خوړلے وی درند ګانو مګر هغه چه تاسو ئ ذبح کړئ ۔أو هغه هم حرامه کړی شوی چه ذبح شوی وی په در ګاهونو۔

نُصُب 'څه ته وائی نو علامه ابن قیم جوزیؒ په اغاثة اللهفان ۳۲۴/ج۱ کښې فرمائی چه "الانصاب کلُّمانصب یُعبد من دون الله من حجرٍ

اوشجرِ اووَثنِ اوقبرِ ، انصاب هر هغه شے چه أدرو لے شي أو بيا ئ‌د الله نه علاوه عبادت كيدے شي كه دكا نړی نه وی يا د أونی نه وی بت نه وی یا د قبر نه وی۔

او سورة الانعام ۱۳۶:۱۳۷/۸پ

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْباً فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَاءِنَا فَمَا كَانَ لِشُرَكَائِهِم فَلَا يَصِلُ اِلَى اللّٰهِ وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى شُرَكَائِهِمْ سَاءَ مَايَحْكُمُوْنَ وَكَذَالِكَ زَيَّنَ لِكَثِيْرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ شُرَكَاؤُهُمْ لِيُرْدُوْهُمْ وَلِيَلْبِسُوْا عَلَيْهِمْ دِيْنَهُمْ .

او مقرر کړی وودی مشركانو الله ته د هغه څه نه چه پیدا کړی وو الله د فصلونونه او د څناورونه حصّی نو وئیل به دوی دا الله لره دی په خیال ددوی او دا زمونږ د معبودانو دی نو هغه حصّه چه وه به دپاره دخدایانو ددوی نو هغه نه رسیږی الله ته او هغه حصه چه د الله په نوم به وه نو هغه رسیږی خدایانو ددوی ته ۔بده ده هغه چه دوی کومه فیصله کوی۔ دا رنګی خائسته کړیدے ډیر وته د مشركانو نه قتل د اولاد خپل خدایانو د هغوی دی دپاره چه هلاك كړی دوی أو دے دپاره چه ګډوډ کړی په دوی دین ددوی ۔

د ارنگی سورة الانعام ایة۱۴۵/۸پ

قُلْ لَّا أَجِدُ فِيْ مَا اُوْحِيَ اِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلٰى طَا عِمٍ يَّطْعَمُهٗ اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً اَوْدَماً مَّسْفُوْحاً اَوْ لَحْمَ خِنْزِيْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ اَوْ فِسْقاً اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ .

اُوفرمایه اے حبیب ﷺ زه نه مومم په دی وخت کښی هغه چه وحی کړی شوی ده ماته،حرام کړی شوے څېز په یو خوړونکی چه خوری هغې لره،مګر داچه وی دغه شئ مردار یاوینه بیدلئ شوی یاغوښه دخنزیرنوبیشکه داپلیت او ګنده دی یا هغه شئ چه خاوندد نافرمانئ دے چه آواز پورته کړے شوے وی دپاره د نزدیکت د غیر الله په هغی ۔

أو په نذر د غیر الله فائده اغستل حرام دی تردی که دغه شے چا ہوسپی یا پیشو یابل حیوان ته واچولو نو د اهم ناروادی ۔

أو پیر مانکی عبد الوهاب ؒ په هدا یة الا برار ص(۱۰۰)کښی فرمائی "فالذا بح مشرك المذبوحة میتةٌ وامرء تهٗ بائنٌ ، د غیر الله په نوم ذبح کونکے مشرك دے أو کوم شے چه ذبح کړی وی هغه مردار دے او ښځه ئ طلاقه ده ۔

أو حدیث ئ ذکر کړیدے بلاسند نه چه(قال علیه الصلوٰة والسلام من أکل فی المقابر فهو ملعونٌ ومنافقٌ نبی ؐ فرمائیلی دی چاچه مقبرو کښی خوراك وکړو نو هغه لعنتی او منافق دے ۔أو مفتی رشید احمد لد هیانویؒ صاحب په احسن الفتاویٰ ص۵۰ ج۱ کښی ذکر

کړیدی "قال العلمآء لو أن مسلماً ذبح ذبیحةً وقصد بذبحها التقرب الی غیرالله صارمرتداً وذبیحتهٔ ذبیحة مُرْتَدٌ ۔" علماؤ فرمائیلی که چرته یو مسلمان ذبح وکړه أو په دی سره ئ قصد کړو نزدیکت غیر الله ته نو دے مرتد (کافر) شو او ذبح ئ د مرتد (کافر) ذبح وګرځیده ۔

أو بحر الرائق ذکرکړیدی چه نذرد غیر الله حرام دے أو د حرمت وجوهات ئ ذکرکړی دی "منها اَنّه ظنَّ انّ المیت متصرف فی الاُمور دون الله تعالیٰ و ذٰلك کفر، ومنها انّ النّذر عبادةٌ والعبادة لغیر الله کفر"

یوه وجه د حرمت ددی (نذرد غیرالله) داده چه دی نذر منونکی دا عقیده ولرله چه دا مړے تصرّف او اختیارمند دے په کارونو کښی د الله نه علاوه أو داخو کفر دے بله داده چه نذر عبادت دے او عبادت غیر الله ته ادا کول کفر دے ۔

أو حدیث کښی راغلی نبی ؐفرمائی لعن الله من ذبح لغیر الله "لعنت وائی الله په هغه چاچه هغه ذبحی د غیر الله په نوم کوی ۔

دارنګی د نذر اختصاص د قبرونو أو د نورځایونو د شرك سره هم نه دے پکار لکه حدیث د ابوداؤد شریف کښی راغلیدی ثابت بن ضحاك ؓ فرمائی نذر رجل علی عهد رسول الله ﷺ ان یّنحر ابلاً ببوانة فأتی رسول الله ﷺ فاخبره فقال رسول الله ﷺ هل کان فیها وَثنٌ من اوثان الجاهلیة یعبد قالوا لا، قال فهل کان فیها عید من اعیادهم قالوا لا، فقال رسول الله ﷺ اوفِ بنذرك فانه لا وفاء لنذر فی معصیة الله ولافیما لایملك ابن آدم.

(ذکره مشکوة المصابیح ج ۲ ص ۲۹۸)

نذر منلے وو ہوسہے د نبی ؑ په زمانه کښی دا چه اُوښان به ذبح کوی په بُوانه مقام کښی نو ددی خبر ئ نبی ؑته ورکړونونبی ؑ ورته اُوفرمائیل چه په دغه بُوانه مقام کښی آیا دجاهلیت څه بوتان وو چه د هغی عبادت کېدے شو نو هغه اووئیل چه نه نوبیا نبی ؑ اُوفرمائیل دغه مقام کښی د هغوی څه خوشحالی وه نو ویفرمائیل چه نه نو نبی ؑورته حکم وکړو چه څه نذر دی پوره کړه ځکه پوره والے نشته د هغه نذر چه د الله په نا فرمانئ کښی وی او نه په هغه نذر چه بنی آدم ئ مالك نه وی ۔

بحث اصناف المشركين

قرآن کریم کښې د مشرکانو څلور قسمونه ذکر دي (۱)مشرکین بالکواکب (۲)مشرکین بالعباد الصالحین (۳)مشرکین بالملائکه (۴)مشرکین بالجن۔

(۱)مشرکین بالکواکب :

د دې مشرکانو وضاحت حافظ ابن قیمؒ په اغاثة اللهفان ص۳۱۵ ج۲ کښې کړیدے اول ئې ذکر کړیدی، چه وتلاعب الشیطان بالمشركين فی عبادة الاصنام له اسباب عديدة تلاعب بكل قوم على قدر عقولهم الى عبادة من جهة تعظيم الموتى ، الذين صوروا تلك الاصنام على صورهم كماتقدم عن قوم نوحٍ .

شیطان چه مشرکانو سره لوبې کوی د دې ګڼړ اسباب دي د هر قوم سره د هغوی د عقل مطابق لوبې کوی ۔نو بعض مشرکان ئې عبادة الأ صنام ته په طریقه د تعظیم د مړورا بللی دي نو دهغوی صورتونه به ئې جوړ کړل أو بیا به ئې د هغوی عبادت کولو لکه دقوم نوح نه د اسلسله شروع شوی ده ۔

انهم ا تخذوها بزعمهم على صورالكواكب المؤثره فى العالم عندهم ، وجعلوا لها بيوتا وسدنة ، وحجابا وحجبا وقربانا ولم يزل فى هذا فى الدنيا قديما وحديثا .

بعض مشرکانو به دستورو صورتونه جوړ کړل په دے عقیده چه دا مؤثر دي په عالم کښې اودیدپاره به ئې درګاهونه جوړ کړل د ارنګی مینجوران نور خادمان وغیره ۔

نو په دی کښې ہو درګاه وه دغر په سر باندی په أصبهان ښار کښې په دی کښې څه بُوتان وو چه د مجوسو هغه با دشاهانو د ارا ایستی وو ۔

د ارنګې ددی نه علاوه نور درګاهونه هم وو په صنعآء ښار کښې چه بعض مشرکانو جوړ کړی وو دژهره سُتوری په نوم نو حضرت عثمان بن عفانؓ ورته د اور ان کړی وو۔

د ارنګې ہوه بله درګاه وه چه قابوس با دشاه په فرغا نه ښار کښې د عنصر په سر جوړ ه کړ ی وه ۔نو معتصم با لله ورته د ا ورانه کړی وه ۔

أو ډېر سخت چه مبتلاء دی په شرك کښې هغه هندوان دی ۔

د ارنګې بعض په دی قسم مشرکانو کښې د نمر عبادت کولو أودوی د ا عقیده لرله چه د انور یوه فر شته ده د فرشتونه ـده دپاره نفس دے او عقل دے أود اأصل دے د پاره درنړا د سپوګمئ،او دستورو ـاو دوی به وئیل چه د ا تول موجودات ددی نور دوجی نه دی ـ اود ا دوی په نزد ددی عالم بادشاه وونو مستحق د تعظیم ،دُعا، او سجدی به یٔ کنړلو ـ او ددوی شریعت د اوو چه دوی به نمر دپاره ہو بُت جو ړ کړے وو او په لاس کښې به یٔ ورته ہوه ملغلره ورکړی وه. چه د أور په شکل کښې وه او دی مشرکانودی نمر د پاره یوه خاص درګاه جوړه کړی وه په هغی کښې خادمان مېنجوران و غېره مقرر کړی وو د امشرکان به دی درګاه ته راتلل او دی نمر ته به یٔپه ورځ کښې دری کرته مونځ کولو ـ د ارنګې مصیبت زده خلق به ورته راتلل اوددی دپاره به یٔ

روژی نیوی ، اومونځ به یٔکولو اودُعاگانی به یٔ غوښتی ، اودباران طلب به یٔ تری نه کولو ، اودری وخته به یٔ نمر ته سجدی کولی کله چه به راوختلو دارنګی کله چه به د آسمان مینځ ته شو اوکله چه به بیا ډوبیدو۔

ددی وجی نه شیطٰن هم دی دری أو قاتو کښی نمرسره پیوست کیږی دپد پاره چه ددی مشر کانو سجدی شیطٰن ته هم واقع شي۔

دی وجی نبی ؐ هم ددی دری اوقاتو کښیدمونځ کولو نه منع فرمائیلی ده لکه حدیث دبخاری کی راغلی دی۔

دارنګی یوه بله طائفه وه د مشر کانو چه سپوږمۍ دپاره یٔ یو بُت جوړ کړے وو او هغوی به هم دا عقیده لر له چه دا مستحق د تعظیم او عبادت ده او دا مُدبّره ددی عالمِ سُفلٰی ده ۔أو ددی دعبادت کونکو شر یعت داوو چه هغوی دے دپاره یو بت جوړکړے وو په شکل د یو سخي ۔او په لاس کښی ورته یوه ملغره ورکړے وه ۔د هغه عبادت به یٔ کولو او سجدی به یٔ ورته کولی ۔او په هره میا شت کښی به یٔ هغه دپاره څه محدودی ورځی روژی نیو ی ۔بیا به یٔ ده ته خوراك او څكاك راوړو نوچه کله به دوی خوراك اوڅكاك نه فارغ شول نو د هغه وړاندی به ګډیدل او ډمګیر ی وغیره به یٔ شروع کړه ۔

دارنګی بعض ددی مشرکانو نه دستورو په شکل بوتان جوړ کړی وو د هغی عبادت به یٔ کولو ۔په دغه شکلو نو کښی به شیاطین دننه کیدل او ددوی سره به یٔ خبری کولی د بعض مغیباتو خبرونه به یٔ ورکول وغیره ۔ نو دوی کښی چه کوم

جاهلان وو هغوی به وئېل چه د ابُت خبری کوی زمونږ سره ـأودی مشرکانو کښې چه کو موځان ته عقلمند وئېل نو هغوی به وئېل چه د ارو حانیات ددی بُوتانو خبری کوی ـبعض به وئېل چه د افرشتی خبری کوی اوبعض به وئیل چه د اعقول مجرّده خبری کوی ـ

د ارنګی ددی مشرکېن بالکوا کب تفصېل کتاب الملل والنّحل ص۵۲ج۲ کښې امام شهرستانیؒ هم کړېدے ـ

ددی مشرکانو په رد کښې الله تعالیٰ حضرت ابراهیم علیه السلام رالیږلے وو لکه سورة الانعام اية۷۶، ۷۷، ۷پ

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ الَّلیْلُ رَاٰ کَوْکَباً قَالَ هٰذا رَبِّیْ فَلَمَّا اَفَلَ قَالَ لَا اُحِبُّ الاٰفِلِيْنَ.

هر کله چه تياره را اُوستی وه په حضرت ابراهیمؑ شپی نو کتلے وو ستوری وئیلی وو آیا دا ئما رب کېدے شی هر کله چه پناه شوے وودغه ستوری نو وئیلی وو حضرت ابراهیمؑ ۔ زه مینه د خدائی توب نه ساتم د فنا کېدونکو سره۔نو هر کله چه کتلی وه سپوږمئ رابنتونکی نووئیلي و وآیا دا ئمارب کېدی شی نوهرکله چه فنا شوی‌وه د اسپوږمئ نووئیلی وو ابراهیمؑ که چرته د مخکښی نه هدایت نه وی کړے ماته رب ځما خامخا شوے به وی زه دقوم ګمراها نونه ۔

فَلَمَّا رَاٰی الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا رَبِّیْ فَلَمَّا اَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِیْ رَبِّیْ لَاَکُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّا لِّيْنَ.

د ارنګی سورة النحل اية۲۴/۱۹ پ

وَجَدْتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُوْنَ لِلشَّمسِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيطَانُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُوْنَ.

(وئیلی ووهُد هُد حضرت سلیمٰنؑ ته)ما مُوندلی ده دا ملکه سبا او قوم ددی چه سجدے کوی نمر ته علاوه د الله نه أو خائسته کړی دی دوی لره شیطن نا کاره أعمال ددوی نو بند کړی دی دوی د صحیح لاری نه نودوی نه دی لارمُوندونکی ۔

سورة حٰمٓ السجده ایة۳۷ ، ۲۴پ

وَمِنْ اٰیٰتِهِ الَّیْلُ وَالنَّهَارُ و الشمس وَالْقَمَرُ لَاتَسْجُدُو الِلشمس وَلَالِلْقمرِ وَاسْجُدُوا الله الَّذِیْ خَلَقَهُنَّ اِنْ کُنْتُمْ اِیَّاهُ تَعْبُدُوْنَ .

أو د نشاناتو د توحید د الله نه شپه او ورځ دی أو نور او سپوږمۍ دی ـ سجدی مه کوئ نور او سپوږمۍ ته ـ اوسجده کوئے خاص الله هغه ذات لره چه پیدا کړی دا نمر او سپوږمۍ که چری ئے تاسو خاص د غی الله ته عبادت کونکی ـ

د ارنګی سورة النجم ایة۴۹ ، ۲۷پ

وانّه هورب ُّ الشعری ـ (أو بیشکه خاص د غه الله رب د شعری ستوری دے) ـ د شعری ستوری عبادت به بعض مشرکانو کولو ـ

أو احسن الفتاوی ص۵۳ ج۱ کښی مفتی رشید احمد لدهیانویؒ ذکر کړی دی چه ''اسباب سے متعلق عام قاعدہ یہی ہے ـ کہ اگر ان کو موثر نہ سمجھا جائے بلکہ درجہ سببیت میں رکھتے ہوئے ـ مسبب پر اسدلال کیا جائے تو یہ جائز ہے مگر شریعت نے اس قاعدہ سے علم نجوم کو مستثنیٰ قرار دیا ہے یعنی نجوم سے درجہ سبب میں بھی واقعات پر استدلال سے سختی سے منع فرمایا ہے ـ اس استثناء کی حکمت کا سمجھ میں آنا ضروری نہیں ـ مع ہذا بظاہر یہ حکمت معلوم ہوتی ہے کے اس میں اتنا غلو ہو گیا ہے کہ اس کی طرف متوجہ ہونے والے باالعموم نجوم کی تاثیر کے قائل ہو جاتے ہیں ـ محض سببیت پر توقف نہیں کر سکتے ـ نیز اس علم میں کوئی فائدہ نہیں بلکہ بسا اوقات بہت سی پریشانیوں کا باعث بنتا ہے علاوہ ازیں یہ بھی کہا جا سکتا ہے ـ کہ شریعت نجوم کی سببیت ہی کا انکار کرتی ہے یعنی نجومی جن اُمور کی نسبت نجوم کی طرف کرتے ہیں شریعت نے ان کی تغلیط کی ہے ـ

بیا ئ ددی باره کښې احادیث راجمع کړی دی صحیح مسلم اومسند احمد کښې راغلېدی "من اتی عرّافاً فسألهٗ عن شئ لم تقبل لهٗ صلاة أربعین لیلة" څوك چه نجومی او فال ګرته راغلو أو دڅه شی باره کښې ئ‌ترې نه تپوس وکړو نوڅلوېښت ورځې دهغه مونځ نه قبلیږی۔

دارنګی حدیث د مسند احمد او مستدرك حاکم کښې راغلی دی"من أتی عرّافاًوکاهناًفصدّقه بما یقول فقد کفربما أنزل علیٰ محمّدٍ" څوك چه فالګر أو نجومی ته راغلوأو دهغه په هغه کفری‌خبره ئ تصدیق وکړو نو بیشکه ده انکار وکړود هغه دین نه چی په محمدؐ باندی نازل شویدے۔

او په روایت د طبرانی کښې راغلی‌دی چه دےسړی نه څلوېښت ورځی‌دتوبی‌دروازه بندیږی ۔او که د هغه دخبری تصدیق ئ وکړو نو بیا خو کافر دے۔

(۲)مشرکین بالعباد :

د ادویم قسم دے د مشرکانو ۔اول په دی کښې هغه آیاتونه چه هغی کښې د مشرکانو دخاص معبود انواوخد ایانو نومونو دی۔

لکه سورة المائده ۱۱۶/۷پ

وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيسى ابْنَ مَرْيَمَ ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِى وَاُمِّىَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قَالَ سُبْحٰنَكَ مَا يَكُوْنُ لِىْ اَنْ اَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِىْ بِحَقٍّ

کله چه اُو به وائی الله تعالیٰ اے عیسیٰ ابن مریم آیا تاویلی وو دے خلقو ته چه اُونیسئ ما اومور ځما دوه معبود ان علاوه د الله نه نو اُوبه وائ عیسیٰ پاکی ده تالره اے الله د هرعیب نه ۔ نه دی مناسب مالره داچه اُووایم هغه خبره چه نه وی مالره د هغی وئیل حق ۔

د ارنګی سورة التوبة اية ۳۰/ ۱۰پ

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُنِ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ ، ذٰالِكَ قَوْلُهُمْ بِاَفْوَاهِهِمْ .

وئیلی وو یهودیانو چه عزیرؑ ځوے د الله دے (معاذ الله) اووئیلی وو نصاریٰ ؤعیسیٰؑ ځوے د الله دے داده وینا د دوی په خُلو د دوی ۔

د ارنګی سورة الصّٰفّٰت اية ۱۲۵/ ۲۳پ

اَتَدْعُوْنَ بَعْلاً وَّتَذَرُوْنَ اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ.

آیا رامددکوی تاسو بعل لره اوتاسو پریږدئ هغه خائسته د پیداکونکونه ۔

د ارنګکی سورة النجم ایة۱۹ ، ۲۷پ

اَفَرَءَیْتُمُ اللّٰتَ وَالعُزّٰی	خبر راکئ ماته اے مشرکانو دلات اودعُزّیٰ په باره کښې

د الات یونیك سړے وو کان یلّتُ السویق للحجاج فمات فعکفوا علی قبره . چه د به حاجیانو ته ستوان میده کول نوکله چه دے مړ شو نوخلقو د ده عبادت شروع کړو۔

دِ ارنګکی سورة نوح ایة۲۳ ، ۲۹پ

وَقَالُوْا لَاتَذَرُنَّ اٰلِهَتَکُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَّ لَاسُوَاعاً وَّ یَغُوْثَ وَیَعُوْقَ وَنَسْرًا	وئیلی وو قوم دنوح ؑ خامخا مه پریږدئ خپل خدایان ،اوخامخامه پریږدئ وُد لره اونه سُواع لره ، اونه یغوث اویعوق اونسر لره ۔

حافظ ابن قیمؒ په اغاثة اللهفان ص ۲۸۶ ج۱ کښې ذکر کړیدی چه کانوا قوماً صالحین من بنی آدم ، وکان لهم اتباع یقتدون بهم فلما ماتوا قال اصحابهم الذین کانوا یقتدون بهم لوصورناهم کان اشوق لنا الی العبادة فتصوروهم فلما ماتوا جاء آخرون فزین الیهم ابلیس فقال انما کانوا یعبدونهم . د اخه نیکان کسان وو دقوم نوح نه ۔ نوکله چه دوی مړه شول نودوی هغه تابع دارو ددوی اشکال اوصُورتونه جوړ کړل ، بیا ئ د هغی عبادت شروع کړو۔

نو "ود" دبدومة الجندل دپاره معبود وو او"سواع" دبنی هزیل دپاره او" یغوث" دبنی مراد قبیلی دپاره وو او" یعوق " دبنی حمدان قبیلی دپاره وو او " نسر " دبنی حمیر قبیلی دپاره اله اومعبود وو ۔

بیاقرآن کریم د مشرکانو د معبود انو نه مختلف تعبیرات کوی۔

کله تری نه تعبیر کوی په لفظ د عباد سره لکه سورة الاعراف ایة۱۹۴ / ۹پ

اِنَّ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰہِ عِبَادٌ اَمْثَالُکُمْ. بیشکه هغه کسان چه رابلئ تاسو اے مشرکانو علاوہ د اللہ نه بندیگان دی ستاسو غُندی۔

د ارنگی سورة الکهف ایة۱۰۲ / ۱۶پ

اَفَحَسِبَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا اَنْ یَّتَّخِذُوْا عِبَادِیْ مِنْ دُوْنِیْ اَوْلِیَآءَ آیا گمان کوی هغه کسان چه کافر دی داچه نیسی بندیگان ځما علاوہ ځمانه مددگاران۔

کله تر ی نه تعبیر کوی په لفظ د الذین سره لکه سورة النحل ایة۲۰ / ۱۴پ

وَالَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰہِ لَایَخْلُقُوْنَ شَیْئًا وَّ هُمْ یُخْلَقُوْنَ هغه کسان چه رابلئ ئے دامشرکان علاوہ د اللہ نه نشی پیدا کولے څه شے اودوی په خپله پیدا کړے شوی دی۔

اوسورة الحج ایة۷۳ / ۱۷پ

اِنَّ الَّذِیْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰہِ لَنْ یَّخْلُقُوْا ذُبَابًا وَّ لَوِ اجْتَمَعُوْا لَهٗ، بیشکه هغه کسان چه تاسو ئ رامدد کوئ علاوہ د اللہ نه چری هم نه شی پیدا کولی یومچ اگر که دوی راجمع شی دپاره د پیدا کولو ددی۔

۲

کله تری نه تعبیر کوی په لفظ دمن سره لکه سورة الاحقاف اية ۵/ ۲۶پ.

وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللهِ مَنْ لَّايَسْتَجِيْبُ لَهٗ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَائِهِمْ غٰفِلُوْنَ .

نشته لوی گمراه د هغه چانه چه رابلی علاوه د الله نه هغه چالره چه قبولوالے نشی کولے ده لره دورځی دقيامت پوری او دا خدايان ددوی دبلنی ددی مشرکانو نه ناخبره دی۔

اوکله تری نه تعبير كوى په لفظ د ما سره لکه سورة المائدة اية ۷۶ / ۶پ

قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ مَالَايَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّ لَانَفْعًا .

اُوفرمايه اے حبيب ؐ آياتاسو عبادت كوئ اے مشركانو علاوه د الله نه هغه چاته چه مالكان نه دى تاسو نه دضرر دفع كولو اونه دفائدى رسولو۔

(۳) مشركين بالملائكه :

کله دملائکو نه تعبير كوى په لفظ د البنات سره (هغه ملائك چه مشركان ورته عبادت كوى) دى مشركانو به د اعقيده لرله چه لکه څنگه والدين دخپلو لونړو نه مجبوره كيږى نود اسى(العياذ بالله) ملائك هم الله ته په منزلى دلونړو دى نودوى به زمونږ سفارش الله ته كوى اوزمونږ حاجات به پرى پوره كوى۔

لکه سورة الانعام اية ۱۰۰ / ۷پ

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ بَنِيْنَ وَبَنَاتٍ بِغَيْرِ عِلْمٍ .

اوګرځولی دی مشرکانو اللہ سره شریکان د پیریانونه اوحالانکه الله پیدا کړی دا پیریان ، اودځان نه ئ جوړ کړی دی الله دپاره ځامن اولونړه بغیر دعلم ۔

اوسورة النحل ایة ۵۷/ ۱۴ پ

وَيَجْعَلُوْنَ لِلّٰهِ الْبَنٰتِ سُبْحٰنَهٗ .

اوګرځولی دی مشرکانو الله لره لونړه ، پاکی ده الله لره ددی نه ۔

اوسورة الصّٰفّٰت ایة ۱۴۹/ ۲۳ پ

فَاسْتَفْتِهِمْ اَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ .

تپوس وکړه ددی مشرکانونه آیا رب ستالره لونړه دی اوددوی دپاره زامن دی ۔

اوسورة الزخرف ایة ۱۶/ ۲۵ پ

اَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَاتٍ وَّ اَصْفٰكُمْ بِالْبَنِيْنَ .

آیا نیولی دی الله د هغه مخلوق نه چه پیدا کړی دی لونړه اوغوره کړی ئے تاسو په زامنو سره ۔

اوکله تری نه تعبیر کوی په لفظ د اناث سره لکه سورة النسآء ایة ۱۱۷/ ۵ پ

اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ اِلَّا اِنٰثاً ،

نه رابلی د امشرکان علاوه د الله نه مګر ملائك ۔

اوسورۃ بنی اسرائیل ایۃ ۴۰/ ۱۵پ

اَفَاَصْفٰکُمْ رَبُّکُمْ بِالْبَنِیْنَ وَاتَّخَذَ مِنَ الْمَلٰئِکَۃِ اِنَاثاً، اِنَّکُمْ لَتَقُوْلُوْنَ قَوْلاً عَظِیْماً.

آیاغورہ کړی دی تاسولرہ رب ستاسو په زامنوسرہ اونیولی دی په خپله دفرشتونه لونړہ ، بیشکه تاسو خامخا وائے وینا ډیرہ لویه دګناہ ۔

اوسورۃ الصّٰفّٰت ایۃ ۱۵۰/ ۲۳پ

اَمْ خَلَقْنَا الْمَلاَئِکَۃَ اِنَاثاً وَّ هُمْ شٰهِدُوْنَ ،

آیا پیدا کړی دی مونږ فرشتی زنانه اوولی دوی څه حاضروو ۔

اوسورۃ الزخرف ایۃ۱۹/ ۲۵پ

وَجَعَلُوْا الْمَلَائِکَۃَ الَّذِیْنَ هُمْ عِبَادُالرَّحْمٰنِ اِنَاثاً ، اَشَهِدُوْا خَلْقَهُمْ ،

اوګرځولی دی مشرکانو فرشتی هغه کسان چه دی بندیګان درحمٰن لونړہ ، ولی آیاحاضر وودوی پیدائش ددی ملائکوته

کله تری نه تعبیر په بل طرز سرہ کوی لکه سورۃ النسآء ایۃ۱۷۲/ ۶پ

لَنْ یَّسْتَنْکِفَ الْمَسِیْحُ اَنْ یَّکُوْنَ عَبْداً لِّلّٰهِ وَلَاالْمَلٰئِکَۃِ الْمُقَرَّبُوْنَ

چری هم تکبر نه کوی حضرت عیسی علیه السلام داچه شی عاجز بندہ دالله ، اونه هغه فرشتي چه الله ته درجه کښی نزدی دی ۔

اوسورة سبا اية ۴۰، ۲۲پ

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيْعاً ثُمَّ يَقُوْلُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اَهٰٓؤُلَآءِ اِيَّاكُمْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ.

په کومه ورځ چه راجمع به کړی الله دوی ټول بیا اُوبه فرمائی فرشتوته آیا ادی هغه کسان چه خاص تاسوته وودوی چه عبادت به یٔ کولو۔

(۴) مشرکین بالجن :

دجناتونه به مشرکینِ مکه په زمانه دجاهلیت کنبی پناهی غوښتله کله چه به هغوی یوځنګل اودښته کنبی دیره شول نووئیل به یٔ اعوذ بسیّد هذا الوادی زه پناهی غواړم ددی ځنګل په مشر پیری باندی۔

ددی رد هم قرآن کثرت سره کړیدی لکه سورة الانعام

اية ۱۰۰، ۷پ

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ بَنِيْنَ وَبَنَاتٍ بِغَيْرِ عِلْمٍ.

اوګرځولی مشرکانو الله سره شریکان دپیریانونه اوحالانکه پید اکړی الله داپیریان اودځان نه یٔ جوړ کړی الله لره ځامن اولونړه بغیر دعلم نه۔

اوسورة السبا اية۱۴ / ۲۲پ

فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَادَلَّهُمْ عَلٰى مَوْتِهٖٓ اِلَّا دَآبَّةُ الْاَرْضِ تَاْكُلُ مِنْسَاَتَهٗ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ اَنْ لَّوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ مَالَبِثُوْا فِي الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ.

هر كله چه مونږ فيصله كړى وه په حضرت سليمانؑ باندى د مرګ نوخبرد اړے نه وو ورکړے پيريانوته په مرګ د هغه مګر وينودزمکى چه خوړلى وه همسا د هغه ۔ نوهر کله چه را اُوغرځيدو حضرت سليمانؑ نوپوهه شول پيريان،که چرے وے دوى چه پوهيدے په غيبو باندى نودوى به وخت نه وے تير کړے په عذاب د شرمندګئى کښى ۔

اوسورة الصّٰفّٰت اية ۱۵۸ / ۲۳پ

وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ اِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ.

اوګرځولى دى مشرکانو په مينځ د الله اوپه مينځ د پيريانو کښى خپلولى ۔ اوبيشکه پوهه دى پيريان چه بيشکه دوى به خامخا حاضر کړے شى

دوى د الله اود پيريانو په مينځ کښى خپلولى په دے شان جوړه کړے وه چه دوى به وئيل چه فرشتى د الله لونړه دى نولونړوته خودميندو ضرورت وى نوددوى دپاره ئ ميندى دپيريانو دبادشاهانو لونړه (شهزادګئى) ګرځولى وى ۔ نود الله اوپيريانو مينځ کښى خپلولى ګرځولى وه ۔ يامراد د مناسبت نه

دادی چه څنګه الله مستحق دعبادت دی نودوی پیریان هم دعبادت مستحقین ګرځولی وو۔

دارنګې سورة النجم اية۱۹ ۲۷/پ

اَفَرَءَیْتُمُ اللّٰتَ وَالْعُزّٰی آیاخبر راکړئ اے مشرکانو په باره دلات اوعزّی کښې۔

دا (عزّٰی) یوه جنّیه وه چه بطن نخله مقام کښې درې وُنې وې هغې کښې به دادننه کېده او خلقو سره به ئ خبرې کولې او هغوی به ددې عبادت کولو نو کله چه نبی ﷺ مکه فتح کړه نو حضرت خالد بن ولیدؓ ئ ولیږلو چه نخله مقام کښې درې وُنې دی نو یوه ترې نه کټ کړه نو هغه هغه وُنه کټ کړه نونبی ﷺ ورته اُووئیل څه شی دے اُولیدو؟ نو هغه اُویل چه نه، نو بیائ ورته د دویمې دکټ کولو حکم وکړو۔بیا دریمې نو د هغه دریمې نه یوه حبشیه زنانه را اُوتله چه ببر وېښته ئ وو خپلې داړې چېنګې کړې وې او روستوورپسې خپل مېنجوران روان ووا و په حضرت خالد بن ولیدؓ ئ د حملې کوشش کولو نو حضرت خالد بن ولیدؓ ورته اُوفرما ئېل۔یاعزّٰی کُفرانكِ لا سُبحانكِ ... اِنّی رأیت ا للهٰ قد اَهانكِ

(اے عزّی نن دی‌دنا شکرئ ورځ ده دعزت ورځ دی نه ده یقیناًماکتلے الله چه ته ئ سپکه کړې)بیا ئ په توره په دی سر اُووهله نو هغې نه ایره جوړه شوه ، بیانبی ﷺ ته راغلو اوددی خبر ئ ورکړونونبی ﷺ اُوفرمائیل (تلك العُزّٰی ولاعزّٰی بعدها للعرب) چه داعزّی وه اوددی نه بعد به عربو دپاره بله عزّی نه وی۔

د ارنګی سورة الجن آیة۶ ، ۲۹پ

وَاَنَّهٗ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقاً.

اوبیشکه شان دادے چه ووخه سړی د انسانانونه چه پناهی به ئ غوښته په سړو سره د پیریانونه ، نوزیاته کړی وه دوی لره نوره هم سرکشي ـ

عقائد المشركين (د مشركانو عقيدى)

په دى باب كښى اول هغه آياتونه چه د مشركانو په كښى مؤمنانوسره اتفاق وو۔

(١) مشركانو به د الله د صفاتو اقرار كولو،لكه سورة المؤمنون آية ٨٤، ٨٥، ٨٦، ٨٧، ٨٨، ٨٩، پ ١٨

قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهَا اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ، سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ، قُلْ اَفَلَاتَذَكَّرُوْنَ ، قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ، سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ، قُلْ اَفَلَاتَتَّقُوْنَ ، قُلْ مَنْ بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّ هُوَيُجِيْرُ وَ لَايُجَارُ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ، سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ قُلْ فَاَنّٰى تُسْحَرُوْنَ .

اُوويه اے حبيب ﷺ دے مشركانو ته چادپاره ده زمكه او هغه مخلوقات چه په دى كښى دى كه چرته تاسو پوهيږى زردے چه اُوبه وائى دوى خاص د الله دپاره دى ، نوورته اُوايه آياتاسونصيحت نه اخلئ ، اُوفرمايه اے حبيب ﷺ څوك رب د آسمانونو دے اورب دعرش لوئ ، زردے چه اُوبه وائى دوى خاص الله ، اُووايه نوآيا تاسو دعذاب د الله نه يريږئ نه ، اُوفرمايه اے حبيب ﷺ څوك دے هغه ذات چه په لاس د هغه كښى بادشاهى د هريوشى ده اودغه الله پناهى وركوى ،

اود الله په مقابله کښې څوك چاته پناهي نه شي ورکولے که
چرته تاسو پوهيږی ، زړدے چه وائی به دوی خاص الله نوورته
اُووايه نوکوم پله په تاسو باندی جادو کړے شوے دے۔

سورة یونس آیة ۳۱/۱۱پ

قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ ، فَسَيَقُوْلُوْنَ اللهُ ، فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ.

اُووايه اے حبيب ﷺ څوك دے هغه ذات چه رزق درکوی تاسوته د آسمان اودزمکی یاڅوك دے چه مالك دے ستاسو دغوکونو اودسترګو اوڅوك دے هغه ذات چه رااُوباسی ژوندے دمړی نه اورااُوباسی مړی لره دژوندی نه ، اوڅوك دے هغه ذات چه تدبير کوی د هريوکار پخپله ، نوزردے چه اُوبه وائی دوی الله نواُووايه آیاتاسو یریږئ نه د الله نه۔

اوسورة العنکبوت اية۶۱/۲۱پ

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَسَخَّرَالشَّمس وَالْقَمَرَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ.

که چرې تپوس وکړې ته لے حبيب ﷺ ددې مشرکانونه چه څوك دے هغه ذات چه پيدا کړي دي آسمانونه اوزمکې اوتابع کړيدے نور اوسپوږمۍ نوخامخا اُوبه وائي دوې الله نوکوم طرفته اړولے شي دوې دتوحيد د اللهٔنه۔

اوسورة العنکبوت آية ۶۳

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَزَّلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَابِهِ الْاَرْضَ مِنْ بَعْدِمَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ قُلِ الْحَمْدُلِلّٰه ، بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَايَعْقِلُوْنَ.

که چرې تپوس وکړې ته لے حبيب ﷺ ددې مشرکانونه چه څوك دے هغه ذات چه رانازلوي د آسمان نه اُوبه نوژوندۍ کوي په دے سره زمکه پس دوُچوالي ددې نه نوخامخااُوبه وائي دامشرکان چه الله نواُووايه چه حمدونه خاص الله لره دي ، بلکه ډير ددوی نه عقل نه لري۔

دارنګې مشرکانو به لويو مصائبو کښې الله رامدد کولولکه سمندر کښې به ئ الله يواځې رامددکولو لکه سورة يونس آية ۲۲/۱۱پ۔

هُوَالَّذِیْ یُسَیِّرُکُمْ فِی الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ، حَتّٰی اِذَاکُنْتُمْ فِی الْفُلْكِ وَجَرَیْنَ بِهِمْ بِرِیْحٍ طَیِّبَةٍ وَّفَرِحُوْا بِهَا جَآئَتْهَا رِیْحٌ عَاصِفٌ وَّ جَآءَ هُمُ الْمَوْجُ مِنْ کُلِّ مَکَانٍ وَّ ظَنُّوْا اَنَّهُمْ اُحِیْطَ بِهِمْ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ ، لَئِنْ اَنْجَیْتَنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَکُوْنَنَّ مِنَ الشّٰکِرِیْنَ

دغه الله هغه ذات دے چه روان کړی ئے په وُچه اوپه درياب کښی تردی چه ئے تاسو په کشتو کښی ، اوروانی شی داکشتئ په دوی په هوانرمی سره اوخوشحاله شی په دی اوناساپی راشی دی ته سیلئ تیزه اوراشی دویته چپی ددریاب دهر طرف نه اویقین وکړی دوی چه بیشکه احاطه وکړے شوه په دوی باندی نورامدد کوی الله خالص کونکی وی الله لره د خپلی بلنی اووائی که چری نجات دے راکړو مونږ ته اے الله ددی مصیبت نه نوخامخا شوبه مونږ د شکرګزارو نه ،

اوسورة بنی اسرائیل ایة ۱۵/۶۷ پ .

وَاِذَمَسَّکُمُ الضُّرُّ فِی الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ اِلَّا اِیَّاهُ .

کله چه ورسیږی تاسو ته څه تکلیف په درياب کښی نوروك شی هغه څوك چه رابلئ ئے تاسو مګریو الله ـ

اوسورة لقمٰن ایة۳۲/ ۲۱پ

وَاِذَا غَشِیَھُم مَّوْجٌ کَالظُّلَلِ دَعَوُا اللّٰہَ مُخْلِصِیْنَ لَہُ الدِّیْنَ ،

کله چه پټ کړی دی مشرکانو لره چپی ددریاب چه په شان دغرونو وی نورابلی دوی الله خالص کونکیدی الله لره دخپلی بلنی

د ارنګی مشرکانو به خالص د الله نه سوالونه هم کول لکه سورة الانفال ایة۳۲/ ۹پ

وَاِذْ قَالُوْا اللّٰھُمَّ اِنْ کَانَ ھٰذَا ھُوَالْحَقُّ مِنْ عِنْدِکَ فَاَمْطِرْ عَلَیْنَا حِجَارَۃً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِیْمٍ .

یاد که هغه وخت چه وئیلی دی مشرکانو اے الله که چرته وے دانبی حق ستا دطرف نه نورا اُووروه وی په مونږ باندی کاڼړی د آسمان نه یاراولی په مونږ عذاب دردناك ،

د ارنګی هغوی به د الله په نوم قسمونه خوړل لکه سورة النحل ایة ۳۸/ ۱۴پ

وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰہِ جَھْدَ اَیْمَانِھِمْ لَایَبْعَثُ اللّٰہُ مَنْ یَّمُوْتُ ،

قسمونه خوړلی ومشرکانو دمکی په الله مضبوط قسمونه ددوی چه راپورته به نه کړی الله هغه څوك چه مره دی ۔

د ارنګی مشرکانو به عبادت مالیه الله ته اد اکولو لکه سورة الانعام ایة۱۳۶/ ۱۴پ

وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْباً فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا.

او مقرر کړی وو مشرکانو الله ته د هغه څه نه چه پیدا کړی الله د فصلونو او د څناورونه حصّې نو وئیل به دوی دا د الله د پاره دی په خیال د دوی او دا (بله حصّه) زمونږ د معبود انو د پاره ده۔

دے مشرکانو به الله نه استغفار غُبنتلولکه سورة الانفال اية ۳۳/ ۹پ

وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ.

اونه دے الله عذاب ورکونکے دوی (مشرکانو) ته او حالانکه دوی بخنه غواړی د الله نه۔

د ارنګی مشرکانو به مونځونه کول لکه سورة الانفال اية ۳۵/ ۹پ

وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَالْبَيْتِ اِلَّا مُكَآءً وَّتَصْدِيَةً ،

اونه وو مونځ د مشرکانو په بیت الله کښی مګر شپیلی وهل او تانړی وهل۔

او سورة الماعون اية ۴. ۵ / ۳۰پ

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ.

نو هلاکت دے وی د پاره د داسی مونځ کونکو ۔ هغه مونځ کونکی چه هغوی د خپلو مونځونو نه ناخبره دی

د ارنګی مشرکانو د مکی به د نبی ﷺ د رسالت اقرار کولو لکه سورة الانعام اية ۳۳/ ۷

قَدْ نَعْلَمُ اِنَّهٗ لَيَحْزُنُكَ الَّذِیْ يَقُوْلُوْنَ فَاِنَّهُمْ لَايُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ .

بیشکه پوهیږو مونږه چه بیشکه خامخا خفه کوی تالره اے حبیب ﷺ هغه څه چه دامشرکان ئ وائی نوبیشکه دوی د دروغ نسبت نه کوی تاته لیکن ظالمان د آیاتونو د الله پوری توقی کوی۔

د ارنګی حدیث کښې هم راغلی دی چه ابوجهل نبی ﷺ ته وئیلی وو چه (انّا لانکذّبك ولٰکن ماجئت بهٖ) بیشکه مونږ ستا تکذیب نه کوؤ لیکن درغونسبت کوؤ هغه دین ته چه تار اوړے دے۔

د ارنګی ابوجهل د نبی ﷺ سره لاس ملاؤ کړو نویوسړی تری نه تپوس وکړو چه تهٔ دے صابی سره لاس ملاؤوی۔ نوابوجهل ورته اُووی چه قسم په الله چه زه پوهه یم چه د اد الله نبی دے۔ خوضدّاً اوعناداً ئ ایمان نه راوړو۔

د ارنګی اخنس د ابوجهل نه تپوس کړے چه د محمد ﷺ باره کښې خبر راکړه چه صادق دے که کاذب نو ابوجهل ورته اُووی (ویحك والله انّ محمّداً لصادق ، وماکذب محمّد قط ، ولکن اذا ذهبت بنو قصی باللوآء والسقایة والحجابة والنبوة فماذا یکون لسائر قریش) قسم دے چه محمد ﷺ خامخا رشتونے دے او محمد ﷺ کله هم دروغ نه دی وئیلی ، لیکن کله چه د دوی قبیلی دسر د اری جنډه ،

اوحاجيانوته اُوبه وركول اونبوت (پيغمبرى) په لاسو كښى واخسته، نودنورو قريشو دپاره به څه شئ وى؟-

دارنګى مشركانو دټول قرآن نه هم انكار نه كولو لكه

سورة يونس اية ۱۵ / ۱۱ پ

وَاِذَا تُتْلىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ لَايَرْجُوْنَ لِقَآئَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هٰذَا اَوْبَدِّلْهُ .

كله چه لوستے شى په دے مشركانو آياتونه زمونږ سرګندسرګند وائى هغه كسان چه عقيده نه ساتى زمونږ دملاقات راوړه قرآن علاوه ددى نه يادادى وى خير دے خوبدل والے وكړه دېكښى-

امام نسفىؒ په تفسير مدارك التنزيل كښى ذكر كړيدى چه آياتونونه مراد (الدَّالة على التوحيد وبُطلان الشرك) چه په توحيد دلالت كونكى وى اودشرك بُطلان كونكى وى --

اود(غير هذا) نه مراد ليس فيه عيب الهتنا- يعنى دوى به وئيل چه زمونږ دخُدايانو عيب پكښي نه وى -

دارنګى مشركانو به حجونه هم كول لكه حديث كښى راغليدى چه فتح مكى نه بعد نبى صلى الله عليه وسلم ابوبكرؓ اوعلىؓ اُوليږل چه دحج په موسم كښى اعلان وكړئ چه دى كال نه بعد به مشرك سړے دبيت الله حج ته نه راځى دارنګى بيت الله كښى به بربنډ طوافونه نه كيږى -

ابن کثیر هم په تفسیر دسورة الاعراف کښې دامام مجاهد" قول ذکر کړیدے چه کان المشرکون یطوفون بالبیت عراة ویقولون نطوف کما ولدتنا أمّهاتنا. مشرکانو به بربنډ طوافونه کول په بیت الله کښې اودوی به وئیل مونږ داسې طواف کوو لکه څنګه چه پیدا شوی یو۔ اوشاه ولی الله" په حجة الله البالغة کښې ذکرکړیدی چه مشرکانو به حجونه کول۔ دارنګې عدّت پکښې وو، عقیقې به ئې کولې، ختنې به ئې کولې، حُدود به ئې جاری کول، اوظُلم به ئې بد ګڼړلو، اودارنګې سود به ئې بدګڼړلو، دارنګې قسامت پکښې وو او قرض حسنه پکښې وو۔

اوشیخ الاسلام ابن تیمیه" هم په اقتضاء الصراط المستقیم کښې ذکر کړی چه وو عرب دخپل نیکه حضرت ابراهیم ؑ په دین باندے په شریعت دتوحید نود اشرك دوی ته عمروبن لحی الخُزاعی راوړے وو دشام نه۔

څکه حدیث کښې هم راغلی دی نبی ﷺ فرمائی ماعمروبن لُحَیَ الخُزاعی په جهنم کښې ولیدو چه خپلې قُلمې ده ځان پسې راښکې اودا اوّلنے هغه کس وو چه د حضرت ابراهیم ؑ دین ئې تبدیل کړے وو۔

اوحافظ ابن قیم" هم په قصیدة النُونیه کښې ذکر کړیدی چه مشرکانو د الله د صفاتو اقرار کولو۔

قالوا واقرار العباد بأنهٗ
خلاقهم هومنتهى الايمان
والناس فى الايمان شيئ واحد
كاالمشط عندتماثل الاسنان
فاسأل اباجهل وشيعتهٖ ومن
والاهم من عابدى الاوثان
وسل اليهود وكل اقلف مشرك
عبدالمسيح مقبل الصُّلبان
وسأل ثمود وعاد بل سَلْ قبلهم
اَعْداء نوحٍ اُمَّة الطوفان
وسأل ابالجن اللعين أتعرف
الخلا ق ام اصبحت ذانكران

بعض خلقو وئيلي دي چه اقرار
دبنديګانو په دي خبره چه الله
خالق ددوی دے د اد ایمان انتها ده
نوبیا خوبه ټول خلق په ایمان کښې
یوشي وی په شان د منګزی ځنګه
چه د هغه غاښونه یوشان وی ،
نوتپوس وکړه د ابوجهل اود ډلی
دده نه اود هغه چانه چه نزدی دی
دوی ته دبُت پرستونه
دارنګی یهودو نه تپوس وکړه
اودهر غټ مشرك نه
اوعیسایانونه چه عبادت کونکی
دی صلیب ته تپوس وکړه
دثمودیانونه اودعادیانونه بلکه
تپوس وکړه ددوی نه
مخکښی اُمت نه چه دشمنان وو
دنوح ؑ چه طوفان پری راغلے وو
اوتپوس وکړه دشیطان لعین نه چه
آیا ته پیژنی -
خالق یاکه کرځیدلے ئ ته انکار
کونکے -

وسأل شرار الخلق اَغلیٰ اُمَّة
لوطية هم ناكحوا الذكران
واسأل كذالك امام كلٍّ معطّل
فرعون مع قارون مع هامان
هل كان فيهم مُنكرٌ للخالق
رب العظيم مكوّن الاكوان

تپوس وکړه د هغه بدترو خلقونه د هغه سرکشه امت دلوط ؑ نه چه هغئ دنارينه ؤ سره نکاح کونکی وو -
تپوس وکړه د ارنګی د معطّله ؤ د هر مشرنه
دفرعون نه سره دقارون اود هامان نه آیا وو په دی مذکوره ؤ کښی انکار کونکے د خالق (پيدا کونکی) درب عزتمندنه چه د هر څه کونکے دے -

عقائد المشركين مابه الامتياز

دمشرکانو هغه عقائد چه دمؤمنانو ورسره په هغی کښی اختلاف دے۔

انکار دمشرکانو دتوحید خالص نه لکه سورة اعراف اية ۷۰/۸پ

قَالُوْا اَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَاللّٰهَ وَحْدَهٗ وَنَذَرَ مَاكَانَ يَعْبُدُ اٰبَآؤُنَا ۔ وئيلی وو قوم هود حضرت هودؑ ته آيا راتلل کړی دی تاموږ ته ديدپاره چه عبادت وکړو د الله يوائحی اوپريږدو هغه چه عبادت ورته کولو پلارانو زموږه

اوسورة يونس اية ۱۸/۱۱پ

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَالَا يَضُرُّهُمْ وَلَايَنْفَعُهُمْ وَيَقُوْلُوْنَ هٰؤُلَآءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَاللّٰهِ . اوعبادت کوی دوی علاوه د الله نه دهغه چاچه نه تری نه ضرردفع کولے شی اونه ورته فائده رسولے شی ۔ او وائی دوی داکسان شفارسيان دی زموږ د الله سره ۔

تفسير کبير کښی امام رازیؒ په ص ۶۰ ج ۱۷ کښی ذکر کړيدی چه دوی دا بُتان اېښودی وو د انبياء واود خپلوا اکابرو په شکلونو کښی ،اودوی به داعقيده لرله چه کله موږددوی په عبادت کښی مشغول شونودوی به زموږسفارشيان وی۔

(ونظيره فی هٰذا الزمان اشتغال کثيرالخلق بتعظيم قبور الاکابر

علیٰ اعتقاد انّهم اذا عظّموا قبورهم فانهم یکونون شفعآء لهم عندالله) اوددی مثال په دی زمانه کښی د ادے چه مشغول کیدل د ډیرو خلقودی په تعظیم دقبرونود مشرانو په دی عقیده چه کله دوی د هغوی دقبرونو تعظیم وکړی نود اقبرونووالا به دوی ته سفارشیان وی)

اوسورة بنی اسرائیل ایة ۱۵/۴۶پ

وَاِذَا ذَکَرْتَ رَبَّكَ فِی الْقُرْآنِ وَحْدَهٗ وَلَّوْا عَلٰی اَدْبَارِهِمْ نُفُوْرًا .

اوکله چه رایاد کړے ته اے حبیب ﷺ رب خپل په قرآن کریم کښی یوائځی نو واوړی د امشرکان په خپلوشاګانو نفرت کونکی۔

اوسورة الصّٰفّٰت ایة ۲۳/۳۵پ

اِنَّهُمْ کَانُوْا اِذَا قِیْلَ لَهُمْ لاَ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ یَسْتَکْبِرُوْنَ .

بیشکه د امشرکان کله چه اُووئیلی شی دوی ته نشته بل دعبادت لائق په حقه مګر یو الله دے نودوی تکبر کښی راشی ۔

اوسورة صٓ ایة ۲۳/۵پ

اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ اِلٰهاً وَّاحِداً اِنَّ هٰذَا لَشَیْءٌ عُجَابٌ .

(وئیل به مشرکانو) آیا ګرځولی دی نبی ﷺ ګڼر خدایان معبود یو بیشکه د اخامخا یوشئ ډیر نا اشنا دے ۔

او سورة الزُّمر اية٤٥ / ٢٤ پ

وَإِذَا ذُكِرَاللّٰهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ لَايُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ـ

كله چه راياد كړى شى الله يك يوازې نو تنګك شى أو نفرت وكړى زړونه د هغه كسانو چه ايمان نه ساتى په آخرت ـ أو كله چه راياد كړى شى هغه كسان چه علاوه د الله نه دى نو ناساپى دوى خوشحالي وى ـ

اوسورة المؤمن اية١٢: ١۴پ

ذٰلِكُمْ بِاَنَّهٗ اِذَا دُعِيَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ كَفَرْتُمْ وَاِنْ يُشْرِكْ بِهٖ تُؤْمِنُوْا فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيْرِ .

د ارنګى به ئ تاسوپه دى سبب كله چه رااوبللے شو الله يوائے نوتاسو به انكار كولو، اوكه چرے شرك به وكړے شو د الله سره نوتاسو به ئ تصديق كولو ، نوفيصله خاص الله لره ده چه أوچت اولوئ دے ـ

اوسورة المؤمن اية٨۴، ٢۴پ

فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ .

هر كله چه أوبه كتلو هغوى عذاب زمونږ نووئيل به هغوى مونږ ايمان راوړے دے په الله يوائى اوانكار كړے دے مونږ په هغه څه چه وو مونږ په هغى شريكان جوړونكى ـ

بحث الدلائل

قرآن کریم کښې درې قسمه دلائل ذکر کړي (۱) دلیل عقلي (۲) دلیل نقلي (۳) دلیل وحي

وجه د حصر دے دریو کښې د اده چه دُنیا کښې درې نظریو واله خلق موجود دي یو مسلمانان بس هغوی ته د اخبره کافي ده چه د اخبره وحي کښې راغلې ده برابره خبره ده که وحي جلي وي لکه قرآن یاوحي خفي لکه آحادیث ، دویم اهل کتاب (یهودو نصارٰی) هغوی ته قرآن کریم نقلي دلائل پیش کوي چه د اخبره تورات ، انجیل وغیره کښې هم ده ، دریم د هریه هغوی ته قرآن کریم عقلي دلائل پیش کوي چه هغوی د هغې انکار نه شي کولے

دلیل عقلي :

دلیل عقلي بیاپه دوه قسمه دے (۱) یودلیل عقلي محض (۲) دویم دلیل عقلي اعترافي بعض دریم قسم هم ذکر کړیدے دلیل عقلي الزامي المُسکت للخصم(چه دُشمن د هغې سره بالکل چپ پاتې شي ۔

(۱) دلیل عقلي محض .... لکه سورة البقرة ایة ۲۱ /۱ پ

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ .

اے خلقو یواځې عبادت وکښئ درب ستاسو هغه ذات چه پیدا کړي ئے تاسو او هغه کسان ئ هم پیدا کړي چه تاسو نه مخکې وو دیدپاره چه تاسو تقوی دار جوړ شئ ۔

او سورة البقرة اية ٢٩ / ١ پ

وَهُوَ الَّذِىْ خَلَقَ لَكُمْ مَّا فِى الْاَرْضِ جَمِيْعاً ثُمَّ اسْتَوٰى اِلَى السَّمَآءِ فَسَوّٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ، وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ .

دغه الله هغه ذات دے چه پيدا كړى دى تاسو دپاره هغه څه چه دى په زمكه كښې ټول ، بيا برابر شوے وو الله دخپل شان مطابق آسمان طرفته نو برابر كړى دى ديلره ؤو آسمانونه ، او داالله په هر يو شى باندى پوهه دے۔

(٢) مثال دعقلى اعترافى ...... لكه سورة يونس اية ٣١ / ١١

قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَمَنْ يُّخْرِجُ الْحَىَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَىِّ وَمَنْ يُّدَبِّرُ الْاَمْرَ ، فَسَيَقُوْلُوْنَ اللهُ ، فَقُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ .

اُوفرمايه اے حبيب ﷺ څوك دے هغه ذات اے مشركانو چه رزق دركوى تاسو ته د آسمان اوزمكى نه ياڅوك دے هغه ذات چه مالك دے دغوګونو اودستركو اوڅوك دے چه رااُوباسى ژوندے دمړى نه اوراُوباسى مړے دژوندى نه اوڅوك دے هغه ذات چه تدبير كوى د هريوكار پخپله ، زردے چه اُوبه وائى دوى الله ، نو اُوفرمايه ورته آيا تاسو يريږى نه دد غى الله نه۔

اوسورة المؤمنون اية۸۴، ۸۵، ۱۸پ

قُلْ لِّمَنِ الْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهَا اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ، سَيَقُوْلُوْنَ اللّٰهِ قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ.

اُووايه اے حبيب ﷺ دے مشركانو ته چه چادپاره ده زمكه اوهغه څوك چه دى په دى زمكه كښې كه چرى تاسو پوهيږئ ، زر دے چه اوبه وائى دوى خاص الله لره دى نو ورته اُوفرمايه نوولى تاسو نصيحت نه اخلئ

(۳) مثال د دلیل الزامی مسکت للخصم (چه هغی سره دُشمن چپ پاتی شی او جواب ورسره نه وی)

لکه سورة الانعام ایة ۴۰/۴۱/۷پ

قُلْ أَرَئَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰكُمْ عَذَابُ اللهِ اَوْاَتَتْكُمُ السَّاعَةُ اَغَيْرَ اللهِ تَدْعُوْنَ ، اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ فيكشف مَاتَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ وَتَنْسَوْنَ مَاتُشْرِكُوْنَ.

ورته اُوایه اے حبیب ﷺ خبر راکړئ ماته اے مشرکانو که چرې راشی تاسوته عذاب د الله یاراشی تاسوته قیامت نوآیا علاوه د الله نه به تاسو بل څوك رابلے که چرې ئ تاسو رشتونی بلکه خاص دغه الله به رابلئ نولرې کوئ هغه چه تاسو ئ رابلئ هغی ته که چرې خوښه ئ شی او هیر به شی دستاسونه هغه چه تاسو ئ الله سره شریکان کنړئ۔

دلیل نقلی :

دلیل نقلی کله په جمع سره وی د تولو انبیاء ؑ نه لکه سورة الانبیاء ایة ۲۵/۱۷پ

وَمَاۤ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِیْۤ اِلَیْهِ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعْبُدُوْنَ .

او نه وو رالیږلے مونږ تانه مخکښې اے حبیب ﷺ هیڅ یو رسول مګر وحی به موکوله هغه ته ددې خبرې چه بیشکه نشته بل د عبادت لائق مګر زه یم نو یو ائحې ماته عبادت وکړئ۔

او سورة النحل اية ۳۶/۱۴پ

وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِیْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ.

بیشکه رالیږلے وومونږ په هر یو اُمت کښې یورسول داچه دیو الله عبادت وکړئ او ځانونه بچ کړئ دعبادت د غیر الله نه۔

اوسورة الزخرف اية ۴۵/۳۵پ

وَسْئَلْ مَنْ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنْ رُّسُلِنَاۤ اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً یُّعْبَدُوْنَ .

تپوس وکړه د هغه چانه چه مونږ رالیږلی وو تانه مخکښې اے حبیبه، د پیغمبرانو نه آیا کړځولی دی مونږ علاوه د رحمٰن نه نور معبودان چه ګڼی د هغوی عبادت دی کیدی شی۔

کله قرآن کریم نقلی دلیل انفرادی ذکر کوی ، لکه دلیل نقلی د حضرت نوحؑ نه لکه سورة الاعراف اية ۵۹/۸پ

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحاً اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَالَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ، اِنِّىْ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ۔

الله فرمائی قسم دے چه بیشکه رالیږلے وو موږ حضرت نوح خپل قوم ته نوفرمائیلی وو اے ځماقوم یواځی د الله بندګی وکړے نشته تاسولره بل حقدار د عبادت علاوه د دغی الله نه ، بیشکه زه یریږم په تاسوباندی د عذاب دورځی لویٔ نه ۔

دلیل نقلی د حضرت هود نه لکه سورة الاعراف اية ۶۵/۸پ

وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْداً قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَالَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ افلاتتقون .

اوعادیانو ته مور الیږلے وو یو ددوی نه حضرت هود وئیلی وو هغه اے ځما قوم یواځی د الله بندګی وکړے نشته تاسولره بل مددګار علاوه د الله نه ، آیا تاسو د الله نه یریږیٔ نه۔

دلیل نقلی د حضرت صالح نه لکه سورة الاعراف اية ۷۳/۸ پ

وَاِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحاً قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَالَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ .

اوثمودیانو ته مور الیږلے وو رُور د هغوی حضرت صالح وئیلی وو هغه اے قومه ځما یواځی د الله عبادت وُکړے ۔ نشته تاسولره بل معبود علاوه د دغی الله نه۔

دلیل نقلی د حضرت شعیبؑ نه لکه سورة الاعراف ایة۸۵/۸ پ

وَاِلٰی مَدْیَنَ اَخَاھُمْ شُعَیْباًقَالَ یٰقَوْمِ اعْبُدُوااللہَ مَالَکُمْ مِّنْ اِلٰہٍ غَیْرُہٗ.

اور الیږلے وو مونږ مدین والو ته نسبی رورد هغوی شعیبؑ نووئیلی وو هغه اے ځما قومه یوائې د الله عبادت کوئ ـ نشته تاسولره بل معبود علاوه د الله نه

دلیل نقلی د حضرت ابراهیمؑ نه لکه سورة المریم ایة ۴۱/۴۲/۱۶ پ

وَاذْکُرْ فِی الْکِتٰبِ اِبْرَاھِیْمَ اِنَّهٗ کَانَ صِدِّیْقاً نَّبِیًّا ، اِذْقَالَ لِاَبِیْهِ یٰاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَالَایَسْمَعُ وَلَایُبْصِرُ وَلَایُغْنِیْ عَنْكَ شَیْئاً .

رایاد که اے حبیب ﷺ په قرآن کریم کښې واقعه د حضرت ابراهیمؑ بیشکه وو هغه رشتونے اوپیغمبر ـ کله چه وئیلی وو هغه خپل والد (پلار) ته اے باباجی ځما ته ولی عبادت کوی د هغه چاچه نه واوری اونه وینی اونه شی دفع کولے دستانه زرّه تکلیف ـ

دلیل نقلی د حضرت یوسفؑ نه لکه سورة یوسف ایة۳۹/۱۲ پ

یٰصَاحِبَیِ السِّجْنِ ءَ اَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُوْنَ خَیْرٌ اَمِ اللہُ الْوَاحِدُ الْقَھَّارُ .

اے ځما د جیل ملګرو آیاخُدایان (معبودان) جُدا جُدا غوره دی یاکه الله چه یودے اوغالب اوزورور دے ـ

دلیل نقلی د ملائکو (فرشتو) نه لکه سورة مریم اية۶۴/ ۱۶پ

وَمَانَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ لَهٗ مَابَيْنَ اَيْدِيْنَا وَمَاخَلْفَنَا وَمَابَيْنَ ذٰالِكَ وَمَاكَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا.

وئیلی وو جبریلؑ نبی ﷺ ته نه راکوزیږو مونږ مګر په حکم درب ستا خاص دی الله د پاره دی هغه چه مونږ نه وړاندی دی او هغه چه روستو دی زمونږ نه، او هغه چه دی په مینځ ددی کښی ـ اونه دے رب ستا (اے حبیبؐ) هیرونکے ـ

اوسورة السبااية۴۰/ ۲۲پ

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ ثُمَّ يَقُوْلُ لِلْمَلٰئِكَةِ اَهٰؤُلَآءِ اِيَّاكُمْ كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ.

په کومه ورځ چه راجمع به کړو دوی ټول بیااُوبه وائی الله فرشتوته آیا دادی هغه کسان چه خاص تاسوته وو دوی چه عبادت به ئ کولو ـ

دلیل نقلی د نیکانو بندیکانو نه لکه سورة الکهف اية ۱۴، ۱۵ پ

وَرَبَطْنَا عَلٰی قُلُوْبِهِمْ اِذْقَامُوْا فَقَالُوْا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُوْنِهٖ اِلٰهًا لَّقَدْقُلْنَا اِذاً شَطَطاً.

او مضبوطوالے را اُوستے وو مونږ په زړونو د أصحاب کهفو چه اُودریدلی وو هغوی د ظالم بادشاه مخی ته ـ نو وئیلی وو دوی رب زمونږ رب د أسمانونو أو دزمکو دے چری هم نه رابلو علاوه د اللّٰه نه نور خدایان (که چری داکار مووکړو) نو بیشکه وئیلی به وي مونږ په دغه وخت کښی د حق نه لری خبره ـ

او سورة یٰسٓ اية ۲۰، ۲۱، ۲۲ پ

وَجَآءَ مِنْ اَقْصَی الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰی قَالَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْا الْمُرْسَلِيْنَ اتَّبِعُوْا مَنْ لَّايَسْئَلُکُمْ اَجْراً وَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ

او راغلے وو دلرے طرف د ښار نه یوسړے چه منډے وهلے، وئیلی وو هغهٔ اے څما قوم تابعدارى وکړئ د رالیږلوشوؤ ـ روان شئ د هغه چاپسی چه نه غواړی د تاسو نه څه مزدوری او دوی دی لارمُوندونکی ـ

اوسورة مؤمن ایة۲۸/ ۲۴پ

وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ الِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ اِيْمَانَهُ اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلاً اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّىَ اللهُ وَقَدْ جَآئَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ رَّبِّكُمْ .

وئیلی وو هغه سړی مؤمن ، د خاندان دفرعون نه چه پټ کړے وو (تر اُوسه پورے) ایمان خپل آیاتاسو اراده لرئ دقتلولو دیوسړی داچه وائی هغه ، رب زما الله دے اوبیشکه راتلل ئ کړیدی تاسو ته په سرګندو دلائلو د طرفه درب ستاسونه ۔

دلیل نقلی دپیریانونه لکه سورة الاحقاف ایة۲۹/ ۲۶پ

وَاِذْ صَرَفْنَا اِلَيْكَ نَفَراً مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْآنَ فَلَمَّاحَضَرُوْهُ قَالُوْا اَنْصِتُوْا فَلَمَّا قُضِىَ وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ .

کله چه رامتوجه کړی وو مونږ تاته اے حبیب ﷺ څه کسان دپیریانونه چه دوی غوږ اینبودے وو قرآن کریم ته هر کله چه نزدی شوی وو دوی نبی ﷺ ته وئیلی وو دوی یوبل ته چپ شئ ، هر کله چه پورے کړے شو تلاوت دقرآن واپس تلی وو دوی خپل قوم ته یره ورکونکی

اوسورة الجن ایة۱، ۲، ۳، ۲۹پ

قُلْ اُوْحِیَ اِلَیَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ الْجِنِّ فَقَالُوْا اِنَّا سَمِعْنَا قُرْآناً عَجَباً ، یَهْدِیْ اِلَی الرُّشْدِ فَاٰمَنَّا بِهٖ ،وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَا اَحَداً ، وَاَنَّهٗ تَعَالٰی جَدُّ رَبِّنَا مَااتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّ لَاوَلَداً.

اُووایه اے حبیب ﷺ وحی کڑے شوے ده ماته چه بیشکه غوږ اینبودے وو څه کسانو دپیریانونه ، نووئیلی وو دوی بیشکه مونږ اوریدلی قرآن کریم څه عجیبه کتاب دے لار سمه وی دایمان طرفته نومونږ ایمان راوړے دے په دی باندی ، اوچری هم مونږ نه شریکه وو دخپل رب سره یوتن ، اوبیشکه شان دادے چه اُوچت دے شان درب زمونږه چه نه ئ ده نیولی نه بی بی اونه اولاد۔

دلیل نقلی دپخوانو کتابونونه لکه سورة الاعراف ایة۱۵۷، ۹پ

اَلَّذِیْنَ یَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِیَّ الْاُمِّیَّ الَّذِیْ یَجِدُوْنَهٗ مَکْتُوْباً عِنْدَهُمْ فِی التَّوْرٰةِ وَالْاِنْجِیْلِ ،

هغه کسان چه روانیږی درسول الله ﷺ پسی چه نبی دے او اُمّی دے هغه چه مومی دوی صفات دهغه لیکلی شوی ددوی سره په تورات او انجیل کښی۔

اوسورة بنی اسرائیل ایة۲ / ۱۵ پ

وَاٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتَابَ وَجَعَلْنَاهُ هُدًى لِّبَنِيْ اِسْرَائِيْلَ اَلَّا تَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِيْ وَكِيْلًا.

اوورکړے وو مونږ موسیٰؑ ته کتاب (تورات شریف) اوګرځولے مووو دا کتاب هدایت بنی اسرائیلو ته (اوورته مو وئیلی وو) داچه مه نیسئ علاوه ځمانه بل څوك ذمه وار۔

دلیل نقلی د حیواناتو اومارغانونه لکه سورة النمل ۱۸ / ۱۹ پ

حَتّٰى اِذَا اَتَوْا عَلٰى وَادِي النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يّٰاَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا مَسٰكِنَكُمْ لَايَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ وَهُمْ لَايَشْعُرُوْنَ۔

تردی چه راغلی وو دوی (لښکر دسلیمانؑ) په میدان دمیږو ، وئیلی وو یومیږی اے میږو وردننه شئ خپلو کورونوته چه میده نه کړی تاسو سُلیمانؑ اولښکری دهغه ۔ اودوی به پو هیږی نه ۔

دارنګی سورة النمل ایة۲۳ / ۱۹پ

فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيْدٍ فَقَالَ اَحَطْتُّ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَاٍ بِنَبَاٍ يَّقِيْنٍ .

نووخت تیر کړے وو هُد هُد چه ډیر نه وو نووئیلی وو چه زه عالم شوے یم په هغه څه چه ته پرے نه ئ عالم شوے اوراتلل می کړیدی تاته دښار دسبانه په خبر یقینی سره ۔

(دلیل وحی)

لکه سورة آل عمران ایة۱۸ / ۳پ

قَدْ كَانَ لَكُمْ آيَةٌ فِي فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ، فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِي سَبِيْلِ اللهِ وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَّرَوْنَهُمْ مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ ......

بیشکه شته ستاسو د پاره نخه په هغه دوو ډلوکښې چه دیوبل سره ملاؤ شوی وی ، یوه ډله وه چه قتال ئ کولو په لاره د الله کښې اوبله ډله کافره وه ، لیدل دی کافرو مسلمانانولره دوچند ددوی په ظاهر دسترګو ،

اوسورة الانعام ایة۵۶ / ۷پ

قُلْ إِنِّي نُهِيْتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللهِ .

اُوفرمایه اے حبیب ﷺ چه بیشکه زه منع کړے شوے یم داچه عبادت وکړم د هغه کسانو چه تاسو ئ رابلئ علاوه د الله نه

اوسورة الانعام ایة۱۰۶ / ۷پ

اِتَّبِعْ مَاأُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ، لَاإِلٰهَ اِلَّا هُوَ ، وَاَعْرِضْ عَنِ الْمشرِكِين ۔

روان شه اے حبیب ﷺ د هغه څه پسی چه وحی کیدے شی تاته د طرفه درب ستانه ، نشته بل لائق د بندګئ مګر یو د غه الله دے ، اومخ واړه وه اے حبیب ﷺ د مشرکانو نه ،

او سورة النحل اية ۱۴/۵۱ پ

وَقَالَ اللّٰهُ لَاتَتَّخِذُوْا اِلٰهَيْنِ اثْنَيْنِ اِنَّمَا هُوَاِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَاِيَّایَ فَارْهَبُوْنَ.

وئیلی دی الله مه نیسئ معبود ان دوه ، بیشکه د غه الله معبود دے یواځی نوخاص ځما نه ویریږئ۔

او سورة بنی اسرائیل اية ۱۵/۳۳ پ

وَقَضٰى رَبُّكَ اَنْ لَّاتَعْبُدُوْا اِلَّا اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا،

اوفیصله کړی ده رب ستا د اچه عبادت به نه کوی مګر خاص د دغی الله او د مور او پلار سره به ښه سلوك کوئ۔

او سورة الکهف اية ۱۶/۱۱۰ پ

قُلْ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰى اِلَيَّ اَنَّمَا اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَايُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖ اَحَدًا.

اُووایه اے حبیب صلی الله علیه وسلم بیشکه زه بنیادم یم ستاسو په شان وحی کیدے شی ماته ددی خبری چه بیشکه معبود ستاسو معبود دے یو، نو هر هغه څوك چه دے هغه اُمید ساتی د ملاقات د خپل رب نو عمل دی کوی عمل نیك او نه دی شریکه وی په عبادت د خپل رب کښی هیڅ څوك۔

او سورة الزّمر اية ١١ / ١٢ / ٢٣ پ

قُلْ اِنِّیْ اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَاللّٰهَ مُخْلِصاً لَّهُ الدِّیْنُ واُمِرْتُ لِاَنْ اَکُوْنَ اَوّلَ الْمُسْلِمِیْنَ

اُو وایه اے حبیب ﷺ بیشکه زه چه یم ماته حُکم کړے شویدے د اچه عبادت وکړم د الله خالص کونکے به یم دی الله ته د بندګئ ، او ماته حکم کړے شویدے د اچه شم زه اول د مسلمانونه ـ

تَمَّت اُصول القرآن الكريم بعون الملك العزيز الوهّاب .

بتاريخ ۲/ محرّم الحرام ۱۴۲۸ هج بمطابق ۲۱/۱/۲۰۰۷